
دویالې پر څاړه
ناول
Ketabton.com
لیکوال: همت الله شهیر

ketabton.com - The Digital Library

د ویالې پرغاړه

ناول

لیکوال:همت الله 'شهیر'

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

د کتاب پیژندنه

دکتاب نوم : ..... دویالي پرغاړه ناول

لیکوال : ..... همت الله 'شهیر'

کتنه او ډیزاین : ..... انجینر احمدالله 'شاهد'

کال : 1405

ایمل آدرس : ..... malangshahir@gmail.com

واتساپ شمیره : 0730510895

دکتاب چاپ حق یوازې لیکوال لري

اوټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي

ketabton.com - The Digital Library

ډالی

خپل ګران پلار او مور ته چې په هر درد مې خوږمن او په هره خوښۍ مې خوښ دي ، او د تل لپاره يې ماته مينه راکړي

ketabton.com - The Digital Library

سریزه

لومړی غواړم خپل خوږ ملګري، همت‌الله شهیر صاحب ته د «د ویالي پر غاړه» ناول د بشپړېدو او د دې بریالۍ هڅې له امله د زړه له کومې مبارکي ووایم.

د دې اثر ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې یوه کیسه بیانوي، بلکې دا هغه کرښې دي چې د لیکوال د قلم له څوکې راوتلې دي. ناول لیکل اسانه کار نه دی؛ د یوې کیسې له لومړۍ کرښې څخه تر وروستۍ پاڼې پورې د پېښو، احساساتو او فکرونو یوځای کول زغم، حوصله او له لیکلو سره مینه غواړي. هر څوک کولای شي یوه کیسه په ذهن کې ولري، خو د هغې کیسې د کاغذ پر مخ راوستل او تر پایه رسول د لیکوالۍ یو مهم ګام دی.

دا چې محترم شهیر صاحب دا لومړی ناول دی، نو دا اثر ورته ځانګړی ارزښت لري. لومړی ناول تل د راتلونکو آثارو لپاره یوه دروازه وي. کېدای شي د یوه لیکوال په لومړي ناول کې ځینې تجربې لا هم د پخېدو په حال کې وي، خو همدا لومړی ګام دی چې د لیکوال راتلونکی ادبي سفر پرې پیلېږي.

ما دا ناول د یوه ملګري د اثر په توګه نه، بلکې د یوه نوي قلم د لومړي غږ په توګه ولوست. په دې پاڼو کې د کلیوالي ژوند رنګونه، د مینې احساسات، د پوهنتون د ژوند تجربې او د ځوانۍ د فکرونو بېلابېل اړخونه سره یوځای شوي دي. هر لوستونکی ښایي د دې کیسې له بېلابېلو برخو سره په بېلابېله توګه اړیکه پیدا کړي؛ څوک به پکې د خپل کلي انځور وویني، چاته به د مینې یوه خاطره ورپه زړه شي، او څوک به د پوهنتون له ورځو سره ځان نږدې احساس کړي.

په پای کې، یو ځل بیا خپل خوږ ملګري همت‌الله شهیر صاحب ته د دې لومړي ناول د لیکلو او بشپړولو مبارکي وایم. هیله لرم چې دا اثر د هغه د ادبي سفر د پیل یوه ښکلې نښه وي او قلم یې لا همداسې روان او پیاوړی پاتې شي.

د تدریس القران راډیو همکار

حیات الله 'تړون'

ketabton.com - The Digital Library

د لیکوال خبرې

دا زما لومړی ناول دی، نو ځکه «د ویالي پر غاړه» زما لپاره یوازې یوه کیسه نه، بلکې د زړه له احساساتو، خیالونو او یادونو څخه جوړه شوې یوه نړۍ ده. په دې ناول کې مې هڅه کړې چې د خپل کلي ساده ژوند، د کورنۍ مینه، د ملګرتیا خوږې شېبې، د ځوانۍ احساسات، انتظار، بېلتون او د ژوند هغه رنګونه انځور کړم چې انسان یې په خپل سفر کې وینې. ما غوښتل لوستونکی یوازې کیسه ونه لولي، بلکې د ویالي د اوبو غږ واوري، د کلي په لارو کې له کرکټرونو سره قدم ووهي او د هغوی له خوښیو سره وخاندي. په دې کتاب کې مې د ډېرې خواشینوونکې او دردېدونکې صحنې په قصدي ډول نه دي راوستلې، ځکه په وروستیو کلونو کې زموږ افغانان له دومره غمونو، اندېښنو او سختیو تېر شوي چې ما ونه غوښتل د کیسې له لارې یې زړونه نور هم درانه کړم. غوښتل مې، تر خپلې وسې، د کتاب پاڼې داسې وي چې لوستونکی پکې لږه شېبه له ورځنۍ غم څخه لرې شي، موسکا وکړي او د ژوند له ساده خوږو شیبو خوند واخلي. دا چې دا زما لومړی ناول دی، کېدای شي په ځینو ځایونو کې د لیکنې، املا، بیان یا د کیسې په جوړښت کې تېروتنې شوې وي. که کومه تېروتنه مې کړې وي، له خپلو درنو لوستونکو څخه په ډېر درنښت بښنه غواړم او هیله لرم چې زما د لومړي ادبي هڅې نیمګړتیاوې به په مهربانۍ راته وبښي. زه لا د لیکوالۍ د لارې په پیل کې یم او باور لرم چې د هر نوي اثر سره به له خپلو تېروتنو زده کړه وکړم او قلم به مې لا پخېږي. که په دې ناول کې کومه ښکلا وینئ، هغه د همدې ساده ژوند، ربښتینو احساساتو او هغو خلکو ښکلا ده چې زما د کیسې الهام شوي دي. له هر هغه لوستونکي څخه مننه کوم چې زما د لومړي ناول تر پایه راسره مزل کوي. هیله لرم «د ویالي پر غاړه» به ستاسې په زړه کې هم د یوې خوږې خاطرې په څېر پاتې شي.

همدارنګه دکتاب په سمون اوترتیب کې له ښاغلي انجینر احمدالله 'شاهد' څخه یوه نړۍ مننه کوم چې زما په کتاب کې یې ترخپلې وسې خواري وکړه.

مننه

همت الله 'شهیر'

ketabton.com - The Digital Library

ګردونو خپله لمن دغرونو پر سرونو غوړولې وه .دمابنام ورستۍ رڼا دغرونو له

څوکو ورو ورو شاته کېدله او د کلي پر خاموشو کوڅو د تیارې سیوری خپرېده. د ورځې شورونه یو په بل پسې غلي کېدل؛ یوازې به کله ناکله د کوم کور له انګړه د لوښو شرنګ واورېدل شو، یا به د لرې کوم ماشوم د لوبو غږ د باد پر اوږو راورسېد.

ناڅاپه د جماعت له لاوډسپیکر څخه د «الله اکبر» غږ پورته شو.

د اذان غږ د غرونو له لمنو سره ولګېد او بېرته یې د کلي په کوڅو کې نرمه انګازه خپره کړه.

ټلیفون مې جیب ته مې کړ او د برندې له څنډې مې ټوپ کړل. پښې مې لا پر ځمکه سمې نه وې درېدلې چې د دروازې پر لور مې ګامونه تېز کړل.

د مابنام یخه هوا مې پر مخ ولګېده.

د «لا اله الا الله» په ویلو سره د جماعت له وره دننه شوم.

د جماعت په دننه کې لا د خلکو د راتګ او ځای نیولو حرکت روان و. ځینې کسان ولاړ وو، ځینې هغه کسان چې له مخکې ناست وو، د لمانځه لپاره په پاڅېدو شول.

ملا امام مخکې شو.

مورږ هم ورپسې په نوبت سره صفونه برابر کړل. هر چا هڅه کوله چې د څنګ له سړي سره خپل ځای برابر کړي. کله چې صفونه سم شول، د جماعت شور په بشپړه خاموشۍ بدل شو.

له لمانځه وروسته خلک یو په بل پسې له جماعته وتل.

زه هم بهر راووتلم.

هوا یو څه سړه وه، خو په طبیعت کې د پسرلي نښې له ورایه ښکارېدې. د ژمي هغه درونده ساړه نور نه وو؛ په هوا کې یو ډول نرمه تودوخه ګډه شوې وه. د ځمکې له کوم ځایه د لمدې خاورې بوی راتلو او د غرونو پر لمنو خپاره شوي ګردونه د مابنام په نیمه تیاره کې لا هم ښکاره وو.

ولاړ وم.

سترګې مې د هدیرې پر لور تللې وې. د مابنام په تیاره کې د هدیرې خاموشه ښه تل راته عجیبه وه؛ نه یې کوم غږ درلود، نه حرکت، خو بیا هم داسې ښکارېده لکه د ډېرو کیسو پټه خزانه چې وي.

په همدې وخت کې مې چا پر اوږه لاس کېښود.

شاته مې وکتل.

اکرم و.

په موسکا یې راته وکتل.

ـ ولې یوازې ولاړ یې، هلکه؟ هسې دې خواته راغلم.

له لاس یې ونیولم. دواړه د جماعت له برندې څخه په زینو کې ښکته شوو.

اکرم چې له وروستۍ زینې هم ښکته شو، سر یې پورته کړ. د اسمان پر لور یې وکتل او د هوا ژوره ساه یې واخیسته.

ـ اظهاره، ښایسته هوا ده.

ketabton.com - The Digital Library

ـ ومې ویل ډېره.

څو شېبې دواړه غلي روان وو.

اکرم خپل چپ لاس پورته کړ، پر لاس ټرلي تور ساعت ته يې وکتل. د ساعت ښيښه د ماښام په پاتې رڼا کې لږه وځلېده.

ـ اظهاره، وګوره! ښوونځي ته پنځه ورځې پاتې دي.

ما هم ساعت ته وکتل، بيا مې ورته وويل:

ـ هو، بس الله دې وکړي چې دا وروستی کال هم د خير سره، د تل په شان، تېر کړو.

ـ ان شاءالله.

هغه لږه شېبه غلی شو، بيا يې وويل:

ـ اظهاره، وخت لا شته. راځه، لږ به د کوڅې په سر کې کېنو.

ومې خندل.

ـ ياره، دا خبره هم اوس د کولو ده کومه ورځ راځخه پاتې شوې؟

اکرم وخندل.

دواړه د کوڅې پر لور روان شوو.

زمور او د اکرم کورونه څنګ په څنګ وو. زمور له دروازې څخه د اکرم دوی تر دروازې پورې يوازې شل يا پنځه ويشت قدمه لاره وه. دومره لنډه لاره چې که به مې له کوره نوم پرې واخيست، غږ به مې د هغه تر انګړه رسېد.

له کوچنيوالي راهيسې همدا لنډه لاره زمور د ډېرو خبرو، خنداګانو او وړو وړو شخړو شاهده پاتې شوې وه.

د کوڅې په سر کې يوه هواره ډبره وه. ما به ډېر ځله پر هغې ناستی کاوه.

هماغه ډبره مو نن هم د مجلس ځای وګرځوله.

کېناستم.

اکرم کالي ورټول کړل، يوه کوچنۍ ډبره يې تر پوندو لاندې کړه او کېناست. څو شېبې يې راته کتل. سترګې يې لږې تنګې کړې او موسکی شو.

ـ څه شوي؟

ـ اظهاره، وګوره... ژوند څومره ژر تېرېږي.

ـ څنګه؟

ـ يو کال مخکې لا کوچنی هلک وې.

ومې خندل.

ـ هو، هو! ته بيا زما د نيکه همزولی يې!

اکرم په لوړ غږ وخندل.

خندا يې ورو ورو غلې شوه.

لږ وروسته يې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

ـ بنه، چې يو ځل بازار ته ولاړ شو، يوه څه به کتابچې اوضروري توکي واخلو.

ـ لاړ به شو. تر اوسه پنځه ورځې پاتې دي.

ـ سمه ده.

له ځمکې يې د لرګي يوه وړه خاشه پورته کړه. د هغې يوه برخه يې په ګوتو کې وڅرخوله، بيا يې په خاوره کې کربنه راکش کړه.

ما ورته وکتل.

ـ څه شوي؟

هغه د خاشې په څوکه خاوره ټومبله او ورو يې وويل:

ـ هلکه، وروستی کال مو دی. وروسته خدای خبر ته به چېرته يې او زه به چېرته يم.

د هغه خبرې مې زړه ته ولګېدې.

ما غوښتل ورته ووايم چې دا يوازې يو کال دی، بيا به هر څه د پخوا په شان وي؛ خو د هغه په غږ کې داسې څه وو چې خبره مې په خوله کې وچه شوه.

څو شېبې مې د کوڅې په تياره کې مخامخ کورونو ته وکتل.

بيا مې موسکا وکړه.

ـ يو کال خو لا پاتې دی. او بيا هم خدای مهربانه دی. وروسته به هم، ان شاءالله، يو ځای وو.

اکرم سر وخوځاوه.

ـ الله دې وکړي.

ما د خپلو زنګونونو پر سر لاسونه کېښودل او پاڅېدم.

ـ هله، درځه چې ځو. نور به سبا ګورو.

اکرم هم پاڅېد.

لاس يې راته را اوږد کړ.

ـ راځه، لاس درکړم.

ومې خندل.

ـ خپله پاڅېدلی شم، سپين ږيری خو نه يم!

ـ وويل له سپين ږيرې کم هم نه يې، ومی خندل.

لاس مې ورکړ.

اکرم مې لاس لږ کلک ونيو او دواړه روان شوو.

د کور تر دروازې پورې چې ورسېدو، لاسونه مو سره خوشې کړل.

دروازه مې بنده کړه.

ketabton.com - The Digital Library

د کور له انګړه د ګلانو د خوشبویی نرمه څپه راغله. د ګلانو په منځ کي له جوړي شوي لاري د برنډي پر لور روان شوم.

زما عادت و چې له باندې راتلو سره به لومړی دالان ته تلم.

دالان ته نږدې شوم.

ثناء د دیګ بخار ترځنګ ناسته وه. په یوه لاس کي یې کاچوغه وه او په کراره کراره یې په دیګ کي تاوولې. د دیګ له څنډې د بخار نرۍ سپینې څپې پورته کېدې او د څراغ په کمزورې رنا کي به ورکېدې.

چې یې را وکتل، ویې ویل:

ـ وروره، راغلې؟

ـ هو ، څه دې پاخه کړي؟

له دیګ څخه یې کاچوغه را وایسته. څو څاڅکي پرې لا هم پاتې وو. سرپوښ یې ور واچاوه.

ـ لوبیا ده، وروره.

ـ ښه، سمه ده.

لږه شېبه مې چاپېریال ته وکتل.

ـ صدف چېرته ده؟

ـ هغه اوبه راوړي.

زمونږ په کور کې څلور کسان وو: زه، صدف، ثناء او مشر وروره مې شمس.

شمس په ایران کې و.

صدف له ما مشره وه او ثناء له ما کشره. دواړه مې خویندې وې؛ خو د خویندو دا ساده نوم زمونږ د کور د ډېرې مینې کیسه نه شوای بیانولی،

مور، پلار او یو کوچنی وروره مې په یوه ترافیکي پېښه کې مړه شوي وو.

له هغې ورځې وروسته زمونږ کور هغه پخوانی کور نه و پاتې.

شمس لا ځوان و، خو د وخت له مجبورۍ یې د خپل عمر نه مخکې د سړي جامې اغوستې وې. زمونږ لپاره یې د وروره تر څنګ د پلار ځای هم نیولی و. د هغه مینه خاموشه وه؛ ډېرې خبرې یې نه کولې، خو چې به مو څه ته اړتیا لرله، مخکې تر دې چې مونږ یې ووایو، هغه به پرې خبر و.

ډوډۍ مې وخوړه.

د کور د ساده ډوډۍ خوند راته تل د بهر له هر ډول خوړو ډېر نږدې و.

ثناء د پتنوس سره کوټې ته راننوتله. د شیرینیو قاب یې مخې ته کېښود او د چای په اچولو بوخته شوه.

ما بالښت راواخیست، څنګ ته مې کېښود او څنګل مې پرې برابره کړه.

صدف راغله.

ـ وروره، مکتب دې هم شروع کېږي.

ـ هو، له خیر سره نور نو شروع کېږي.

ثناء مې د تور چای ډک ګیلاس مخې ته کېښود.

ketabton.com - The Digital Library

د ګیلاس له خولې نرۍ بخار پورته کېده. ما ګیلاس په دواړو لاسونو ونیو؛ تودوخه یې د ګوتو له لارې تر لاسونو خپره شوه.

ما یوه غوړپ چای وڅښه.

د کور چوپتیا، د چای تودوخه او د شپې ورو ورو راتلونکې تیاره، ټول یو ځای داسې احساس راکاوه لکه سبا چې لا ډېر لرې وي.

سهار له خوبه راپاڅېدم.

د کوټې مخې ته په شنه کوزه کې اوبه ایښودل شوې وې. د کوزې پر غاړه د شپې د شبنم څو واړه څاڅکي لا هم نښتي وو

اودس مې وکړ.

د سهار یخ شمال مې پر مخ ولګېد. د شپې له خوب وروسته یې سړی په بشپړه توګه راویښاوه.

کوټې ته ننوتلم.

لمونځ مې وکړ او ورپسې مې لږ تلاوت وکړ.

کله چې مې قرآن بند کړ، څو شېبې مې په خپل ځای کې ناست پاتې شوم.

بیا خپل ځای ته ولاړم.

ټلیفون مې راواخیست او انټرنېټ مې پرې چالان کړ.

له کوچنیوالي راهیسې له ادبي لیکنو او ناولونو سره مې مینه وه. کتاب به مې چې هر ځای ولید، خامخا به مې څو پاڼې تري اړولې. د ناولونو کرکټرونه به مې کله کله دومره خپل ګڼل چې د کتاب له بندولو وروسته به هم د هغوی خبرې راسره پاتې وې.

تل به مې په فېسبوک کې لیکنې کولې.

څه به مې چې زړه ته راتلل، لیکل به مې. کله د کلي د ژوند یوه وړه صحنه، کله د چا یوه خبره، او کله یوازې هغه احساس چې د ورځې په اوږدو کې به مې په زړه کې ځای نیولی و.

یو شمېر لوستونکي مې هم لرل.

فېسبوک مې خلاص کړ.

د کلي له یوه انځور سره مې یوه لنډه لیکنه وکړه. څو شېبې مې د خپرېدو نښه ته وکتل، بیا مې ټلیفون لږ ښکته پورته کړ.

وروسته مې ټلیفون په خپل ځای کې کېښود.

د لمر ژېړې وړانګې د کوټې د کړکۍ پر ښیښه ورو ورو خپرېدې. د وړانګو رنګ لا سپین ژیړ و؛ داسې ښکارېده لکه لمر چې لا له خوبه په بشپړه توګه نه وي راپاڅېدلی.

له دهلیزه د ګیلاسونو د ګړنګار غږ راغی.

لږه شېبه وروسته صدف کوټې ته راننوتله.

- وروره، تر اوسه پروت یې؟

ketabton.com - The Digital Library

ـ هو، خو ویده نه وم.

ـ سمه ده، چای څښې کنه؟

ـ درځم.

صدف ژر رانه توس پورته کړ.

ـ څه کوې، لیونۍ؟

ـ نه مې ګوري؟ ځای ټولوم.

ـ تر اوسه خو وختي دی.

ـ چېرته دی وختي؟ داسې نه چې څوک راشي او تا همداسې پروت وویني!

ما وخندل.

د الماری هنداري ته ودرېدم. د سهار په رڼا کې مې خپل مخ ته وکتل او ویښتان مې په لاسونو منظم کړل.

صدف د سترګو له کونجونو راته وکتل. موسکی شوه.

ـ ډېرې ګوتې پرې مه وهه، ښایسته یې.

ومې خندل.

ـ توبه، خدایه!

صدف هم موسکی شوه او له کوټې ووتله.

له چای څښلو وروسته بهر ووتلم.

هوا د لمر له ګرمېدو سره معتدله شوې وه. د سهار تازګي لا په فضا کې وه. د انګړ په یوه کونج کې د مرغانو وړې وړې نغمې اورېدل کېدې.

اکرم ته مې زنګ وکړ.

ـ اکرمه، چېرته یې؟

له بلې خوا د هغه خوبولی غږ راغی:

ـ کور کې یم، وروره.

ـ هلکه، تر اوسه ویده یې؟

ـ تر اوسه نو څه شوې؟

ـ پاڅه، لټ انسانه!

ـ غرمه خو نه ده شوې.

ـ پاڅه، بس!

ـ ښه، سمه ده. چېرته ځو؟

ـ راځه بازار ته.

ـ نن نه کېږي، سبا به لاړ شو.

ـ سمه، څنګه چې ستا خوښه وي.

ketabton.com - The Digital Library

زنګ مي بند کړ.

هغه ورځ هم تېره شوه.

سبا سهار له اکرم سره بازار ته ولاړم.

بازار ته چې ورسېدو، د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره وه. د دوکاندارانو غږونه، د موټرو هارنونه، د مېوو خرڅوونکو ناري او د خلکو د خبرو ګډ شور د بازار فضا له لرې لا محسوسوله.

د بازار په پای کې یوې کتابخانې ته ننوتلو.

د کتابونو او کتابچو بوی مې تل خوښېده.

د الماریو ترمنځ ودرېدو. اکرم څو کتابچې راواخیستې.

په پای کې مې یو څو کتابچې واخیستې.

کتابچې مې په لاس کې ونیولې.

د نوې کاغذې پاڼو هغه ځانګړی بوی مې احساس کړ.

بیا مو له بازار څخه د کور پر لور حرکت وکړ.

له دروازې چې دننه شوم، په ټیټ سر د برنډې پر لور روان وم.

سترګې مې پورته کړې.

په برنډه کې یوه ډله ښځې ناستې وې.

یوه شېبه مې ګامونه ودرېدل.

لکه لاره چې رانه ورکه شوې وي.

ژر مې مخ واړاوه او څو قدمه مې مخکې واخیستل.

لا مې څو ګامه نه وو اخیستي چې د ښځو د خندا غږ مې واورېد.

مخ مې ګرم شو.

سخت وشرمېدم.

د دروازې څنګ ته نږدې حجرې ته ننوتلم.

بیا د کوټې له وره سره نږدې هغې کوچنۍ الماریۍ ته ورغلم چې د کتابونو لپاره مې جوړه کړې وه.

د کتابونو پر سر مې سترګې ولګېدې.

د نصیر احمد احمدي «بودا او د لیوانو پلونه» مې تري راواخیست.

کتاب مې په لاس کې ونیو.

بیا د کوټې په کونج کې کېناستم، ځان مې ځای پر ځای کړ او کتاب مې پرانیست.

هغه پاڼه مې خلاصه کړه چې مخکې مې پکې نښه ایښې وه.

د کتاب کربنې مې ورو ورو د سترګو مخې ته راتلې.

ketabton.com - The Digital Library

له کوچنیوالي مې له کتابونو سره داسې مینه وه چې کله به مې کتاب پرانیست، د کور شورونه به راته ورو ورو لرې کېدل.

لا په مطالعه کې ډوب شوی وم چې ژناء کوټې ته راننوتله.

- وروره، چای درته راوړم؟

سترګې مې له کتابه پورته نه کړې.

- هو، لږ چای راوړه.

- سمه ده.

هغه ووتله:

زه بیا په مطالعه بوخت شوم.

ما ډېر ناولونه لوستل، په ځانګړي ډول د نصیر احمد احمدي ځینې کتابونه. ځینې خو مې دوه، درې ځله هم لوستي وو. هر ځل به مې د یوې پخوانۍ جملې تر ژنګ داسې نوی احساس پیدا کاوه چې لومړی ځل مې نه و احساس کړی.

لږ وروسته ژناء چای راوړ.

ګیلاس یې ژنګ ته کېښود او بېرته ووتله.

ما کتاب پر یوه ګوندې کېښود، چای مې راواخیست او یوه غوړپ مې تري وځښه.

بیا مې کتاب پرانیست.

وخت تېرېده.

د کړکۍ له لارې د لمر رڼا ورو ورو بدلېدله.

یوولس نیمې بجې وې چې سترګې مې درنې شوې.

دکتاب مې په هماغه پاڼه کې د نښې په توګه د کاغذ یوه کوچنۍ ټوټه کېښوده. کتاب مې ورو وتاړه، ژنګ ته مې کېښود او ځان مې اوږد وغځاوه.

ژو شېبې لا ویښ وم.

بیا مې سترګې پټې شوې.

نه پوهېدم څومره وخت تېر شو.

کله چې مې سترګې پرانیستې، لومړی مې چت ته وکتل.

یوه شېبه مې ذهن ته نه راتله چې چېرته یم.

وروسته مې سترګې د کوټې پر سپین ساعت ولګېدې.

کوچنۍ ستنه پر پنځو او غټه ستنه پر شپږو ولاړه وه.

حیران شوم.

ناڅاپه مې خوب له سترګو وتښتېد.

ژر پاڅېدم.

- لمونځ!

ketabton.com - The Digital Library

له ځان سره مې وویل.

له کوټې بهر ووتلم او د کور پر لور روان شوم.

ـ ثناء! چېرته یې؟

له کوټې راووتله.

ـ وروره، راویښ شوې؟

ـ داسې څوک کوي؟ لمونځ هم رانه قضا شو. ولې مو وختي راباندې غږ نه کولو؟

ثناء لږه شېبه غلې وه، بیا یې وویل:

ـ لکه چې ډېر ستړی شوی وې. د ډوډۍ لپاره کوټې ته درغلم، ویده وې. ما هم درباندې غږ ونه کړ.

ما ساه واخیسته.

ـ لږ څه پاتې دي کنه؟

ـ هو، راځه کوټې ته.

ـ نه، همدلته په برنډه کې یو څه هوار کړه.

ـ سمه ده، وروره.

په برنډه کې کېناستم.

ډوډۍ مې وخوړه.

ډېر وږی شوی وم.

د ډوډۍ له خوړلو وروسته پاڅېدم، اودس مې وکړ. د مازیګر رنا لا په کوڅو کې پرته وه او د جماعت له لورې د خلکو د تګ راتګ وړوکي غږونه راتلل.

د کلي له کوڅې تېر شوم.

او د جماعت پر لور روان شوم.

د مکتب د شروع کېدو پنځلس ورځې تېرې شوې وې.

سهار و. د چای له ګیلاسه لا نرۍ بخار پورته کېده او د پخلنځي له خوا د لوښو د شرنګ غږ راتلو. زه د چای وروستي غوړپ ته نږدې وم چې ټلیفون مې زنګ وواهه.

لاس مې د ګیلاس له څنګ څخه تېر کړ او ټلیفون مې راواخیست.

د سکرین پر مخ کوم نوم نه و.

یوازې یوه شمېره وه.

یوه شېبه مې ورته وکتل. بیا مې ټلیفون غوږ ته نږدې کړ.

ـ سلام.

له بلې خوا غږ راغی:

ـ وعلیکم السلام.

غږ راته اشنا و.

ketabton.com - The Digital Library

ـ اظهاره، څنګه يې؟

له حيرانۍ مې سترګې ړې راووتې.

زړه مې يو دم داسې ودرېد، لکه چا چې د سينې دننه ورپسې دروازه تړلې وي.

ـ شمس وروره... ته يې؟

ـ هو، زه يم. کابل کې يم.

ما لا هم د باور لپاره څو شېبې غوښتې.

ـ دومره ناڅاپي خبر دې راکړ! ولې دې مخکې څه ونه ويل؟

ـ دوه ورځې کېږي چې انټرنېټ مې هم بند و. په لاره وم، فرصت نه و.

ما ساه واخيسته. په دې دوو ورځو کې مې څو ځله د هغه د نه زنګ وهلو په اړه فکر کړی و. حتی يوه شېبه مې زړه ته راغلې وو چې ښايي کومه ستونزه ورته پېښه شوې وي؛ خو صدف او ثناء ته مې څه نه وو ويلې، نه مې غوښتل هغوی هم اندېښمنې کړم.

ـ ښه، څه وخت راځې؟

ـ غرمې ته در رسېږم.

د غږ له انداز څخه يې داسې معلومېده چې موسکی دی.

بيا يې وپوښتل:

ـ ستاسې لپاره څه دروړم؟

ـ نه، وروره، مننه. ته پخير راشه، همدا بس دی.

ـ خو بيا هم؟

ـ نه، ته پخير راشه. وروسته به ډېر شيان درباندې واخلم.

شمس وخندل.

ـ سمه ده، هلکه. ولې نه؟

د څو شېبو لپاره دواړه غلې شوو.

ـ هله، زه ټليفون بندوم.

ـ سمه ده، وروره.

زنګ مې بند کړ.

څو شېبې هماغسې ناست وم.

د ټليفون سکرين لا هم روښانه و، خو زما سترګې پرې نه وې.

شمس...

بې اختياره مې موسکا پر شونډو خپره شوه.

له کوټې راووتلم.

ketabton.com - The Digital Library

صدف د دالان مخي ته جارو وهله. د جارو نرۍ ځانګې پر خاوره ورو ورو کش کېدې او د سهار د لمر په رڼا کې د دوړو وړې ذرې پورته کېدې.

ثناء له ځاه ځخه اوبه را روانې کړې وې. د اوبو ډک لوښی یې په دواړو لاسونو نیولی و.

ـ ومې ویل شمس ورور کابل کې دی!

دواړو په یوه وخت کې مخ راواړاوه.

ـ څه؟!

ـ غرمې ته راځي.

ثناء د حیرانتیا له امله ځو شېبې هماغسې ولاړه پاتې شوه.

د اوبو نرۍ لیکه چې د لوښي له څنډې راوتلې وه، پر ځمکه خپرېده؛ خو هغې ته یې هېڅ پام نه و.

بیا یې ناڅاپه لوښی پر ځمکه کېښود او زما پر لور یې منډه کړه.

صدف هم جارو هماغلته پرېښوده.

په کور کې داسې خوشحالي خپره شوه لکه د اوږدې وچکالۍ وروسته چې ناڅاپه باران پیل شوی وي.

زما زړه هم له خوشحالۍ ډک و.

صدف ته مې وویل:

ـ خوږې، غرمې ته څه مه پخوه. له ښوونځي ځخه به اجازه واخلم. یو څه تازه غوښه به راوړم.

صدف جارو پورته کړه، په موسکا یې وویل:

ـ سمه ده، وروره.

خپلې کوټې ته ولاړم.

د الماریۍ دروازه مې خلاصه کړه. کتابونه مې یو په بل پسې راواخیستل او پر مېز مې کېښودل.

د کوره له وتلو مخکې مې اکرم ته زنګ وکړ.

ـ هلکه، راځه چې ځو.

ـ سمه ده، دباندې در وځم.

ټلیفون مې بند کړ.

دروازه مې خلاصه کړه او په کراره د کوڅې د سر پر لور روان شوم.

لا مې څو ګامه نه وو اخیستي چې د اکرم د کور دروازه په درب خلاصه شوه.

اکرم راووت.

ما ورته وویل:

ـ هلکه، ورو! دروازه به دې راوغورځوي.

هغه وخندل.

ـ په دې هېڅ هم نه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د کتابونو بکس یې پر ښي اوږه اچولی و او په چپ لاس یې تور ساعت تاړه، لکه هر څه یې چې له وخته مخکې برابر کړي وي.

ما ورته وکتل.

ـ نه، په لاس کېږي!

اکرم وخندل:

ـ دا دی وشو. راځه چې ځو.

څو قدمه چې روان شوو، اکرم راته ځیر شو.

ـ هلکه، خوشحاله معلومېږې.

ما د څو شېبو لپاره څه ونه ویل.

بیا مې ټوله کیسه په لنډو کې ورته تېره کړه.

د شمس د راتګ خبره مې چې وکړه، د هغه په مخ هم د خوښۍ نښه خپره شوه.

ـ ربښتیا؟ ډېر ښه! دوه کاله وشول چې مو نه و لیدلی.

ما سر وخوځاوه.

د کورونو تر څنګ هغه کوچنۍ لار وه چې سرک ته وتلې وه.

زه او اکرم پر هماغې لارې روان شوو.

--

مکتب ته چې ورسېدو، له خوشحالۍ مې فکر بل ځای و.

د ټولګي د کړکۍ له لارې به مې کله کله د باندې کتل او ذهن به مې د کور پر لور تلو. هره شېبه راته اوږده ښکارېده.

د درېیم ساعت پای و.

د ریاضي استاد په تخته لیکل کول. سپینه تخته یې له عددونو او فورمولونو ډکه کړې وه.

ـ دا دوه سوالونه درکوم، کورنۍ دنده مو ده. سبا مو باید حل کړي وي.

ما لاس پورته کړ.

ـ استاده، اجازه ده؟

استاد را وکتل.

ـ چېرته ځې؟

ـ اداري نه اجازه رااخلم.

ـ خیر خو دی؟ ناروغ یې؟

ـ نه، استاده. یو څه کار لرم.

استاد څو شېبې راته وکتل.

ـ سمه ده، ورشه.

ketabton.com - The Digital Library

له ټولګي ووتلم.

اداري ته لاړم، اجازه مې واخیسته او د اداري له مخې بهر راووتلم.

لا مې څو ګامه نه وو اخیستي چې د تفریح زنګ ووهل شو.

د ټولګي پر لور روان شوم.

د ټولګي دروازې ته چې ورسېدم، اکرم هم راووت.

ـ څنګه شوه؟ اجازه دې واخیسته؟

ـ هو

ـ نو دلته څه کوې؟

ـ کتابونه رااخلم.

اکرم موسکی شو.

ـ هلکه، زه یې دروړم. ورشه خپله سودا کور ته یوسه.

ـ دومره سودا نه ده، کتابونه وړلی شم راسره.

ما به کتابونه په بکس کې نه اچول. نه مې خوښېدل چې د کتابونو پاڼې د بکس په منځ کې سره تاو شي. تل به مې په لاس کې نیول.

اکرم له لاسه ونیولم.

ـ راځه، لیونیه.

له تعمیر څخه یې بهر کړم.

ـ هله ورځه! هی، لیونه!

ما وخندل.

ـ ځم، بیا به ګورو.

د بنوونځي له انګړه ووتلم.

زمونږ بنوونځی له بازار سره نږدې و.

بازار ته لاړم.

تازه غوښه مې واخیسته. د غوښې له دوکان څخه د وینې او تازه غوښې ځانګړی بوی د سهار په هوا کې خپور و. قصاب غوښه په تله کې کېښوده، وزن یې برابر کړ او په توره پلاستیکي کڅوړه کې یې راکړه.

ورسره مې لږه سبزي هم واخیسته.

دواړه توري کڅوړې مې په لاس کې نیولې وې او کور ته روان شوم.

کور ته چې ورسېدم، صدف ته مې کڅوړې ورکړې.

صدف وویل!

ـ ډوډۍ مې پخه کړې ده. دا به په ګاز پخه کړم.

ketabton.com - The Digital Library

ما د کور دننه وکتل.

ـ ثناء!

ـ ها، وروره؟

ـ هله خورکی، یو ګیلاس چای راته راوړه.

له کوټې راووتله.

ـ سمه ده، وروره.

زه خپلې کوټې ته ولاړم.

بالښت ته مې څنګ واچاوه.

ټلیفون مې راواخیست. د سکرین پرده مې رابښکته کړه او د انټرنیټ دوه نښې مې ووهلې.

څو شېبې وروسته شبکه روښانه شوه.

فېسبوک مې خلاص کړ.

د ټپرې شپې پوسټ ته لاړم.

کمنټونه مې یو په یو لوستل. هر چا ته مې جلا ځواب ورکړ. د چا لنډه جمله وه، د چا اوږده تبصره؛ خو د هر یوه ځوابول راته عادت ګرځېدلی و.

لږ وروسته مې ټلیفون څنګ ته کېښود.

غرمه لا نه وه ټپره چې د کور مخې ته د موټر غږ راغی.

زړه مې یو دم درزا پېل کړه.

ژر له کوټې بهر ووتلم.

سپینه سراچه د دروازې مخې ته ودرېدله.

زما سترګې د موټر پر مخکینۍ څوکۍ ولګېدې.

دروازه خلاصه شوه.

شمس راکوز شو.

دوه کاله مې نه و لیدلی.

دوه کاله...

په همدې یوه شېبه کې مې د ټپر وخت ډېرې ورځې سترګو ته ودرېدې.

زړه مې ډک شو.

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې.

ورمنډه مې کړه.

په غېږ کې مې ونیو.

شمس وخندل او په مینه یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ـ هلکه، خوشي مې کړه! په خپل زور نه پوهیږې، تازه ځوان شوی یې!

ما وخندل، خو سترګې مې لا لمدې وې.

ـ وروره...

شمس زما پر اوږه لاس کېښود.

ـ بس، بس، راغلم.

ډرېور هم د موټر له شا څخه دوه بکسونه راکښته کړل.

یو یې شمس واخیست، بل مې ما.

ما ډرېور ته وویل:

ـ ډوډۍ راسره وخوره.

هغه موسکی شو.

ـ مننه.

او ببرته روان شو.

زه او شمس د کور دروازې ته ننوتلو.

صدف او ثناء چې شمس یې ولید، په خندا یې ورمنډه کړه.

دواړو هغه په غېږ کې ونیو.

شمس دواړو ته وکتل، سر یې وخوځاوه او وخندل.

ـ هو خدایه! دا څه لیونیان دي.

ثناء په ژړغوني غږ وویل:

ـ وروره، ډېر مې یادېدلې.

د شمس په سترګو کې هم اوښکې راغلې.

ـ زما هم.

هغه یوازې دوه کلمې وې؛ خو زمونږ د دوو کلونو فاصله یې په یوه شېبه کې راتوله کړه.

مور او پلار له مرګ وروسته مې شاید دا لومړۍ داسې خوشحالي وه چې د زړه له کومې مې احساسوله.

مونږ کور ته ننوتلو.

ډوډۍ مو وخوړه.

چای مو وڅښه.

د کور فضا بدله شوې وه. هماغه دیوالونه، هماغه برنډه، هماغه کوټه؛ خو د شمس په راتګ داسې بښکارېده لکه کور چې بیا خپل یو ورک شوی غږ پیدا کړی وي.

شمس لږ وروسته وویل:

ـ زه یو څه ستړی یم، لږ به ویده شم.

ـ ولې نه، وروره.

ketabton.com - The Digital Library

ثناء ته مې وویل:

ـ هله، درځه.

موږ هم له کوټې ووتلو.

د برنډې هاخوا د زردالو په ونه کې سپین ګلان غوړېدلي وو. د ګلانو ترمنځ مرغانو شورماشور جوړ کړی و. کله به یو مرغه له یوې څانګې بلې ته والوت، کله به د وزرو غږ پورته شو.

د پسرلي هوا په رښتیا هم د انسان روح تازه کاوه.

ما د زردالو ونې ته وکتل.

سپین ګلان یې د شمس د راتګ له خوشحالۍ سره داسې ښکارېدل لکه ونې هم چې زموږ د کور د نن ورځې مېلمه ته هرکلی وایي.

سبا ورځ زموږ کور ته نږدې همسایه ګان، خپلوان او د کلي خلک راتلل او تلل.

هر څوک به شمس ته راتله، روغبړ به یې ورسره کاوه، د ایران، او لارې حال به یې تر پوښتلو.

د پسرلي ښایسته ورځې د شمس په څنګ کې راته لا ښکلي شوې وې.

ما به کله د هغه خبرې اوربدلې، کله به مې یوازې ورته کتل.

دوه کاله ډېر وخت دی.

سړی په دې موده کې بدلېږي.

خو د ورور مینه هغه څه ده چې واټن یې نه شي زړولای.

ماښام چې د خلکو تګ راتګ لږ شو، موږ څو تنه په برنډه کې ناست وو.

د شین چای بخار د ماښام په هوا کې ګډېده.

شمس اوږده ساه واخیسته.

ـ نور نو ایران ته نه ځم.

صدف، ثناء او ما یو بل ته وکتل.

زموږ په څېرو کې د خوښۍ رڼا خپره شوه.

شمس لږ چوپ شو، بیا یې وویل:

ـ زموږ کورنۍ دومره غټه نه ده. که څه هم د ایران پیسې اوس دومره ارزښت نه لري، خو دومره مې راټولې کړې چې یو کار پرې شروع کړو.

د هغه له خولې اسویلی ووت.

ما یې څېره وکتله.

په تندي کې یې د ستړیا کرښې ښکارېدې. د سترګو تر شا یې هغه پخوانی ستړیا پټه وه چې زموږ لپاره یې له کلونو راهیسې له ځان سره وړې وه.

لږ یې سر ټیټ کړ.

ـ دا چې مور او پلار مو مړه شول، نو ما ونه شو کولی خپل تعلیم بشپړ کړم.

ketabton.com - The Digital Library

غږ یې لږ دروند شو.

ـ خو اظهار به یې ضرور وایي. له خیر سره راتلونکی کال به پوهنتون ته ځي.

زه موسکی شوم.

ـ سمه ده.

د چای ګیلاس یې پر زنګون کېښود.

ـ هر څنګه چې کېږي، درسونه دې ووایه. ناکامي نه منم.

بیا یې په ټوکه ګواښ وکړ:

ـ کنه غوږ دې پرې کوم!

ما وخندل.

ـ په سترګو، وروره!

شمس هم وخندل.

لږه شېبه وروسته یې وویل:

ـ ښه، اوس نو باید یو کار پیدا کړو. اظهاره، ته څه وایې؟

ما وویل:

ـ وروره، خپل کار خو د بل تر کار ښه دی. همداسې ده کنه؟

ـ لیونیه، دا نو خبر ده. د بل تر کار سل چنده بهتره دی.

ما وویل:

ـ نو ګوره، دا دومره وخت دی زمونږ آباده ځمکه د دې لپاره چې درس رانه پاتې نه شي، بل چا ته مو په دهقانۍ ورکړې ده.

شمس په ځیر ځیر راته کتل.

ما دوام ورکړ:

ـ الحمدالله، د کور اویا فیصده مصرف یې پوره کړی، سربېره پر دې چې بل چا سره شریک هم یو.

شمس د شین چای ګیلاس ورو پورته کړ.

یو غوړپ یې وڅښه.

ـ هو، ښه...

ما زړه پیدا کړ.

ـ وروره، که نور خپله ځمکه او د منو باغ پخپله وپالو؟

د شمس سترګې وځلېدې.

لکه په یوه شېبه کې چې د ستړیا له شا یې کومه هیله راویښه شوې وي.

په حیرانتیا یې راته وکتل.

بیا موسکی شو.

ketabton.com - The Digital Library

ـ نن خوشحاله شوم.

ـ ولې؟

ـ چې په ربښتیا مې ورور تعلیم کړی.

ګیلاس یې پر ځمکه کېښود.

ـ وګوره! اوس مشر ورور ته مشورې ورکوي.

ما ځان مغرور ونیو.

ـ وویل ورکشه! ډېر مه خوشحاله کېږه.

ټولو وخندل.

زما خندا هم پورته شوه.

ـ نه، وروره! دا ته څه وایې؟ زه ستا ځای ته نه شم رسېدلی.

شمس په مینه راته وکتل.

ـ داسې مه وایه، وروره.

د هغه په غږ کې دا ځل ټوکه نه وه.

ـ نن پوه شوم چې زه هم یو لایق او تکړه ورور لرم.

څو شېبې غلی شو.

ـ وروسته له دې یوازې نه یم.

ما وویل:

ـ دا نو خبره ده. البته چې زه هر وخت درسره یم.

صدف په ډکو سترګو راته وکتل.

غږ یې ډک شو.

ـ وای، خور درنه جار!

ثناء هم سمدستي وویل:

ـ هلته ګورئ، بودۍ په ژړا شوه!

صدف په خندا او ژړا دواړو کې ګډه شوه.

شمس وخندل.

ـ مه کوه، په خور مې کار مه لره!

د کور فضا یو ځل بیا په خندا ډکه شوه.

شمس ما ته وکتل.

ـ له غرمې وروسته به ته هم راسره کار کوې. هسې هم پسرلی دی؛ همدا یې وخت دی. له ښوونځي وروسته به دې ورځ هم ښه تېره شي.

ما سر وخوځاوه.

ketabton.com - The Digital Library

ـ هو، ښه خبره ده.

بیا مې وویل:

ـ تا مخکې وویل چې یو څه پیسې لرې.

ـ هو، شته.

ـ په هغه څه کوې؟ واده غواړې؟

ومې خندل.

شمس هم وخندل.

ـ هو، بودا ته یې اول خپل ځان ته وکړه!

ـ ما فکر وکړ که له ما مخکې یې کوې!

صدف په زوره وخندل.

ـ نه، وروره.

ما وویل:

ـ یو بل پلان هم شته.

شمس موسکی شو.

ـ ښه، وایه مشره!

ـ توبه! خو ګوره، ته راباندې پسخند وهې.

ـ نه، ټوکې کوم. ووایه.

ما وویل:

ـ ژمی ډېرې واورې وشوې. کال آباد دی، ځایونه ډېر شنه دي. کلیوالو د کلي لپاره شپون نیولی.

شمس سر وخوځاوه.

ـ ښه، نو؟

ـ که لږ میږې واخلو؟

ـ څنګه؟

ـ ګوره، هغه یې غره ته بیایي. له هر جنجاله یې خلاص یو. بس یوازې مازیګر به یې له کلي څخه راولو، سهار وختي به یې ورته سپارو. ډېر مصروفیت نه لري.

لږ تم شوم.

ـ او دا پیسې به هم ښځایه درځخه ولاړې نه شي. پوهیږم که درسره یې، نو نه پاتې کیږي. د مالداری ګټه، ان شاءالله، پاتې کیږي.

شمس په خندا راپاڅېد.

ـ هله، راشه! ښکل دې کړم.

زه شاته شوم.

ketabton.com - The Digital Library

ـ پرېږده، وروره! هسې ځان مه قیمته کوه.

شمس وخندل.

ـ سمه ده.

ـ شمس وویل! د خوږ هاخوا، په هغه پټي کې مو تېر کال د منو ونې کېښودې؟

ـ هو، تر اوسه کوچنۍ دي.

ـ سمه ده.

لږ فکر یې وکړ.

ـ له هغه پټي نه هم ګټه اخیستل کېدای شي. هلته به کچالو وکرو.

ـ ښه خبره ده.

شمس سر وخوځاوه.

ـ سمه ده. سبا ښوونځي ته مه ځه. د پټي لپاره تخمونه او نور د ضرورت شیان به واخلو. وروسته چې کومې پیسې پاتې شوې، په هغو به میږې واخلو.

ما وویل:

ـ سمه ده.

هغه شپه تر ناوخته مو خبرې وکړې.

د ځمکې، باغ، ، میږو، د ښوونځي، پوهنتون او د راتلونکي هره خبره مو په وار وار سره وڅېړله.

کله به شمس یوه خبره کوله، کله به ما بله وړاندیزوله او کله به صدف او ثناء له خپلو ساده نظرونو سره زموږ په خبرو کې ورګډېدې.

د شپې هوا ورو ورو سړېده.

د کور په انګړ کې د زردالو له ونې څخه د سپینو ګلانو څو پاڼې راولوېدلې.

باد یې یوه پاڼه تر برندې پورې راوړه.

موږ لا په خبرو وو.

او نه پوهېدو چې زموږ د کور د ژوند یوه نوې پاڼه هماغه شپه، د همدې وړې مشورې له ځایه، ورو ورو لیکل کېده.

سهار ناڅاپه رانه توس په هوا شوه. شمس وویل: «هله لیونیه! لمونځ قضا کېږي، لټ انسانه!» ما په خوبولي غږ وویل: «وروره، ته خو هم کنه! لږ پرېږده چې ویده شم، وختي دی.» ویې ویل: «چېرته دی چې وختي دی؟ هله پاڅه کنه، لغت مې درته سیخه ده!» ومې ویل: «اوف، وروره!»

ولاړ شوم، اودس او لمونځ مې وکړ. وروسته له کوټې راووتلم. د خونې څنګ ته په برنډه کې، د سیوري لاندې فرش هوار شوی و. ورغلم او کېناستم. شمس وویل: «لیونیه، اماده یې؟» ومې ویل: «هو.»

ثناء له دالان څخه راووتله، د حلوا قاب یې راته مخې ته کړ. له دسترخوان څخه د ګرمې ډوډۍ خوږ بوی پورته کېده او د سهار له یخې هوا سره ګډېده. ثناء په چای اچولو اخته شوه او ویې ویل: «لومړی ډوډۍ مې تاسې ته راوړله، بیا درباندې ناوخته کېږي. تاسې چای وڅښئ، زه له خپلې خور سره مرسته کوم، وروسته بیا موږ چای څښنو.»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل: «سمه ده.»

په ګیلاس کې پرتې بورې ته مې وکتل. له پتناسه څخه مې قاچوغه راپورته کړه او لومړی مې د شمس ورور په ګیلاس کې بوره حل کړه. شمس د ډوډۍ څنډه ورپرې کړه، ورسره یې په قاب کې له پرتې ژپړې حلوا څخه یوه ګوله پورته کړه او ویې ویل: «څومره خوږه ده! واه، بس خپل کور او ژوند نه جار.»

ومې ویل: «وروره، مسافري سخته ده.»

ویې ویل: «هو وروره، بیا په بل وطن کې ډېره سخته ده.» سوړ اسویلی یې وویست.

ومې ویل: «الله دې زموږ د وطن حالت سم کړي، چې ځوانان مو نورو هېوادونو ته د دې مرګونو لارو له تګ څخه خلاص شي.»

شمس وویل: «آمین.»

ترموز مې راواخیست، چای مې ورته واچولو او د دسترخوان څنډه مې ټوله کړه. شمس وویل: «هلکه، وخوره، نن دربانديي کار کوم، وړی به شي.»

موسکی شوم او ومې ویل: «وروره، ډېره مې وخوړه، نه وړی کېږم.»

بازار ته لاړلو. تخمونه او اړین توکي مو واخیستل، بیلچه او کولنګ مو هم واخیستل، په زرنج کې مو واچول او کور ته مو راوړل.

مازدیګر شمس وویل: «زه ځم، په پټیو باندې ګرځم، بیا یې وخت تېرېږي، چې هسې کار شروع کړو.»

ومې ویل: «زه درسره ولاړ شم.»

ویې ویل: «نه وروره، زه ځم، مازی ګرځم، بېرته راځم.»

شمس خپل څادر وارخیست او له کوره ووت.

اکرم ته مې زنګ وکړ: «هلکه، راځه دباندې.»

ویې ویل: «سمه ده، اودس کوم، درځم.»

زه هم په کراره له کوره ووتم. د کوڅې سر ته لا نه وم رسېدلی چې اکرم راباندې غږ وکړ: «هلکه، راغلم!»

مخ مې وروړاوه. زه او اکرم جماعت ته روان شوو. په جماعت کې څو کسان ناست وو او ځینې د راتلو په حال کې وو.

ملا امام جماعت ته راننوت. لستونې یې تر څنګلو پورته کړي وو، د پوزې پر سر یې د اوبو یو څاڅکی ولاړ و. څادر یې وارخیست، مخ او لاسونه یې پرې وچ کړل او د لستونو په ښکته کولو بوخت و چې ویې ویل: «اقامت وایه.»

استاد زلمي ور وړاندې شو او اقامت یې شروع کړ. موږ هم صفونه برابر کړل.

له جماعت څخه راووتلو. اکرم ته مې وویل: «چېرته ځو؟»

ویې ویل: «راځه د سیدګل اکا د دوکان پرخوا، هلته مازیګر هم هلکان وي.»

په کراره، کراره د دوکان پرخوا روان شوو. د دوکان مخې ته، د یوه غټ چنار لاندې، څو ځوانان ناست وو. زه او اکرم هم ورغلو. تر مابنامه هماغلته ناست وو او بنډار مو ګرم و.

ketabton.com - The Digital Library

مابنام ببرته د جماعت پرخوا روان شوو. لمونځ مو په جماعت کې وکړ. زه او اکرم د تل په شان د کوڅې په سر کې ناست وو. لږه شېبه وروسته د کلي له بنکته کوڅې څخه شمس ورور هم رابنکاره شو.

اکرم وویل: «ماشاءالله، تازه بنکاري!»

ومې ویل: «هو، بنه دی یاره، موږ ته راورسېد.»

اکرم ورپاڅېد: «سلام، شمسه وروره!»

دواړو ستړي مشي وکړل.

اکرم وویل: «ما غوښتل درشم، مصروفه شوم.»

شمس ورور وویل: «کومه خبره نه ده.»

ویې ویل: «هلکه، ته خو هم ځوان شوی یې!»

اکرم وخندل.

شمس وویل: «بنه، ته د پخوا په شان زما ورور سره کرزي ټول تابې لاري کړي؟»

اکرم وویل: «توبه، استغفرالله وروره! داسه وایې؟»

ټولو یو ځای وخندل.

شمس وویل: «هلکه، راځه، ناوخته ده.»

دري واړه روان شوو. زه او اکرم کور ته ننوتلو. په کوټه کې ناست وو او زه په ټلیفون کې اخته وم. لیکنه مې کوله چې نیټ کار پرېښود. ورو مې وویل: «اوف! د دې د ختمېدو وخت وو.»

شمس وویل: «د څه شي؟»

ومې ویل: «وروره، لیکنه مې کوله، نیټ راباندې خلاص شو.»

ویې ویل: «بنه، د لیکنو شوق دې نه دی ختم شوی؟»

ومې ویل: «نه وروره، نور هم زیات شوی.»

موسکی شو، سترګې یې وځلېدې او ویې ویل: «تل کامیاب اوسې، کوچنیه.»

ومې ویل: «زه نو کوچنی یم؟»

په زوره یې وخندل: «نه وروره، ته خو ما نه مشر یې!»

ومې ویل: «تر تا مشر نه یم، خو کوچنی هم نه یم.»

شمس جیب ته لاس کړ، زر افغانۍ یې راته ونیولې او ویې ویل: «مخکې خو مې په حواله کې درته رالېږلي وو، اوس به نه وي درسره.»

رښتیا هم په جیب کې مې یوازې شل افغانۍ وې.

ومې ویل: «نه، مننه وروره، نه یې اخلم.»

ویې ویل: «مخامخ د شرم تمثیل مه کوه. له ایرانه خو به دې بنې رانه غوښتلې!»

لاس مې ور اوږد کړ او ومې ویل: «دا نو زما لپاره ډېر وخت بسنه کوي.»

ویې ویل: «هو، داسې سخت یې لکه ډبره، پېژنم دې.»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل: «توبه وروره، یو خو ته په ما ډېر کار لرې.»

ویې ویل: «را باندې ګران یې، لیونیه.»

ومې ویل: «پوهیږم.»

بس کارونه مو شروع کړل. تر غرمې وروسته به ما هم ورسره مرسته کوله. په لومړیو ورځو کې یې دوه کاریګر په روزانه نیولي وو. په یوه هفته کې مهم کارونه خلاص شول.

بله ورځ مو د پوري کلي له یوسف څخه درې میږې واخیستې. دواړه یې تازه لنګې شوې وې او یوه یې په نږدې ورځو کې لنګېدله. شمس ته مې وویل: «پیسې به هم نورې ختمې شوې وي.»

ویې ویل: «پیسې پرېږده، دا ووایه چې دا درې بس دي که نه؟»

ومې ویل: «یو دوه نورې میږې او یو کوچنی پسه وای، ښه به وو، خو اوس پیسې نشته، بس دي دا هم.»

شمس څه ونه ویل.

په سبا مازدیګر یې راته زنګ وکړ: «د رحمت الله دوی کور ته راشه.»

زه هم ورغلم. ګورم چې په لاره روان وو؛ دوه میږې، دوه یې کوچني بچیان او یو کوچنی پسه ورسره وو.

ومې خندل او ډېر خوشحاله شوم. ورمخکې شوم: «وروره، دا دې له کومه کړل؟»

ویې ویل: «دا مې واخیستل. وګوره، ټول کارونه مې ستا په خوښه وکړل. الله دې وکړي چې هر څه سم شي.»

ډاډ مې ورکړ: «وروره، بېغمه شه.»

شمس هم وویل: «انشاءالله. اوس نو زمونږ هم غټه مالداري شوه.»

کلیوال ټول حیران وو. هر چا ویل: «شمس دنیا راوړی! په یو ځل یې لس پسونه مال واخیست.»

هر سهار به شپون سهار وختي میږې بیولې او د مابنام په تیاره کې به یې بېرته راوستلې.

سږکال مو باغداري ښه په کش کې روانه وه. هغه خلک څه وایي: «چېرته خپل لاس، چېرته د بل لاس!»

پانې لږ، لږ ژېړې شوې وې. ټول کال یې ښه سم ستړي کړو. یوه مازدیګر په برنډه کې ناست وو. شمس وویل: «وروره، غم مه کوه، تر اوسه خو هر څه سم دي.»

ومې ویل: «هو، خو وروسته به معلومه شي.»

منو ته مو کاریګر ونیول. ټول کار یې په څلورو ورځو کې خلاص شو. وروسته مو منې کابل ته ولېږلې. ښې وې، پیسې یې هم ښې جوړې کړې. همدارنګه لوبیا او کچالو مو هم ډېر کرلي وو.

ما به یوازې له شمس وروړ سره مرسته کوله. د حساب او کتاب په اړه مې ورسره خبرې نه کولې، ځکه راته مناسب نه ښکارېده. د میږو کوچني بچي هم ډېر لوی شوي وو. نور نو زما سالانه امتحانونه هم راورسېدل؛ د ګوتو په شمېر شپې ورته پاتې وې.

مابنام په کوټه کې ناست وم، بالښت ته مې څنګ لګولی و. د وره غږ شو. شمس، لوند سر، کوټې ته راننوت.

ومې ویل: «وروره، دا وخت د سر مینځلو دی؟»

ویې ویل: «ولې؟ پسرلی دی، وینځم یې!»

خندا راغله. ومې ویل: «نه وروره، هسې مې ویل، ناوخته ده.»

ویې ویل: «ورځې بیا نه یم ورته خلاص.»

ketabton.com - The Digital Library

شمس وروز مې ډېر ستړی و. زړه به مې سخت ورته خپه کېده، خو دی بیا په خپل حالت ډېر خوشحاله و. ښایي هغه له دې نه هم ډېرې سختې ورځې تېرې کړې وې؛ خو ما تر اوسه د مسافرۍ او بېوسۍ هغه زور نه و لیدلی چې ده لیدلی و.

ماخستن له ډوډۍ خوړلو وروسته په دهلیز کې د ګیلاسونو غږ شو. صدف ولاړه شوه او د کوټې ور یې خلاص کړ. ثناء په یوه لاس کې پتنوس او په بل لاس کې ترموز نیولی و.

شمس وویل: «لیونۍ، څه بیړه ده؟ یو یو شی به دې راوړلو!»

ثناء خندل.

شمس وویل: «هلته ګوره، زه څه ورته وایم او دا راته خاندي.»

ثناء وویل: «وروره، نه راځخه لوبېږي.»

شمس ته مې وویل: «وروره، داسې فکر مه کوه چې مطلب مې بل څه دی، خو یوه پوښتنه کوم.»

شمس وویل: «ووایه.»

ورو مې وویل: «تاته خو حسابونه درمعلومېږي، څنګه وو؟ سړکال خواري په ځای ولګېده؟»

سترګې یې چت ته ونیولې. یوه شېبه غلی و، وروسته یې ماته وکتل او موسکی شو.

ویې ویل: «وروره، لنډه یې درته وایم؛ تر اوسه مې لا مالدارۍ ته حساب نه دی کړی. له هغه پرته هم دا د ایران له خوارۍ څو چنده ښه دی.»

ډېر خوشحاله شوم. ځکه زمونږ کور کوچنی و. ورور مې چې په ایران کې هم و، بیا یې هم د هېڅ شي کمی راته نه پرېښود. اوس چې ورور مې هم په کور و او وضعه مو له پخوا هم ښه شوې وه، نو بیخي زیات خوشحاله شوم.

ورمنډه مې کړه او شمس مې په غېږ کې ونیو. صدف او ثناء هم ډېرې خوشحاله شوې.

شمس ته مې وکتل او ومې ویل: «ځان لپاره نه وایم، خو د خویندو لپاره یې وایم. دوی هم راسره ډېرې ستړې شوې دي، نویو کارخو ورته وکړه.»

شمس له څنګلي څخه بالښت لرې کړ او زما پر لوري یې راوغورځاوه.

«لیونیه، ځان لپاره وایې!»

ومې خندل: «نه وروره، د دوی لپاره وایم.»

صدف وویل: «نه وروره، مونږ هېڅ هم نه غواړو، بس تاسې دې راته ژوندي وئ.»

د صدف خبرې ساده وې، خو په هماغه ساده جمله کې دومره مینه پرته وه چې زړه مې پرې نرم شو. ښځتیا هم د خور مینه د مور له مینې کمه نه وي؛ یوازې توپیر یې دومره وي چې مور خپل اولاد له زېږېدو سره مینه کوي، خو خور بیا له ماشومتوبه ستا د هرې ورځې ملګرې وي، ستا خندا او ژړا دواړه وینې.

شمس وویل: «صدف نه، بغیر له اظهار د ویلو نه مې هم پام وو.»

بیا یې وویل: «هغه زمونږ پسه به حلال کړو.»

صدف وویل: «نه وروره، هغه بیخي ډېر دی.»

شمس وویل: «ډېر دی وي.»

ما وویل: «وروره، که نه وي، دا به خرڅ کړو، له دې به یو څه کوچنی واخلو.»

ketabton.com - The Digital Library

شمس وویل: «هلکه، په دې دوه دري زره هم ولاکه ډېره شي.»

څه مې ونه ویل. شمس راته وکتل او ویې ویل: «اظهاره، امتحانونه دې نور شروع کېږي، کارونه هم خلاص دي. وروسته له دې خپل کتابونه ګوره. هغه لږ، لږ شیان چې پاتې دي، هغه زه په ساتېرۍ راټولوم.»

ومې ویل: «سمه ده.»

بیا یې وپوښتل: «د فراغت غونډه مو څه وخت ده؟»

ومې ویل: «له امتحانونو یوه هفته وروسته.»

شمس وویل: «پسه به هم هغه وخت حلال کړو.»

ګیلاس یې خولې ته پورته کړ.

ومې ویل: «وروره، دې هر څه ته ضرورت نشته.»

سترګې یې وځلېدې.

«لیونیه، دا غټه خوشحالي ده. ستا لپاره نه، ځان لپاره یې لمانځو!»

ومې خندل او ومې ویل: «بیا نو سمه ده، څنګه چې ستاسې خوښه وي.»

ما هم امتحانونه له ښې کلکې تیارۍ سره تېر کړل. زه او اکرم به زمونږ په حجره کې تر ناوخته ورته ناست وو. د شپې به چې د کلي پر کوڅو چوپتیا خپره شوه او د خلکو د کورونو څراغونه به یو په بل پسې مړه کېدل، مونږ به لا د کتابونو پاڼې اړولې. کله به مې د خوب له لاسه سترګې درنې شوې، خو د امتحانونو فکر به مې بېرته ویښ کړم.

بالاخره هغه ورځې هم تېرې شوې.

د فراغت غونډې یوه ورځ مخکې یې پسه حلال کړ. د سبا لپاره یې ځینې نږدې خپلوان هم د ډوډۍ لپاره راوغوښتل. د فراغت غونډه او مېلمستیا هر څه په ښه خوشحالۍ تېر شول. د کور په انګړ کې د خلکو تګ راتګ، د مبارکۍ خبرې، د ډوډۍ بوی او د خویندو خوښۍ ټول کور له عادي ورځو بېل کړی و. ما به کله خپل کتابونه او د تېر کال ستړیاوې رایادې کړې او کله به مې د خلکو د مبارکیو غږونو ته غوږ نیوه. داسې احساس مې کاوه، لکه یوه اوږده لار مې چې په پای کې شاته پرېښې وي.

وروسته په کوټه کې ناست وم. فېسبوک مې ښکته، پورته کولو. د امتحانونو غټ پیټی مې له اوږو لرې شوی و؛ داسې سپک وم لکه له اوږدې مودې وروسته چې څوک له درانه بار څخه خلاص شي.

یو پوسټ مې وکړ او د فراغت څو انځورونه مې هم ورسره خپاره کړل.

شمس هم راغی او د کوټې تر پایه یې ځان راورساوه.

ومې ویل: «ورځ دې څنګه وه، مشره؟»

ویې ویل: «بیخي ښه وه. ستا څنګه وه، لیونیه؟»

ومې ویل: «ښه وه.»

راته کتل یې.

«تلیفون ته بیا خلاص شوې؟»

ومې خندل: «نه وروره، هسې ځان پکې بوختوم.»

ketabton.com - The Digital Library

په څو دقیقو کي ډېر شمېر کمنټونه راغلل. هر چا مبارکي راکوله. ټولو ته مي مننه وکړه. په پای کي مي سترګي پر یوه کمنټ ولګېدې. لیکلي یې وو:

«د بېځایه ځان ښودنې هڅه مه کوئ، چې کله د کمال څښتن شوئ، پخپله معلومېږئ.»

نوم ته مي وکتل. د ایډي نوم یې «ډیوه» وو.

غوسه راغله. زما مطلب ځان ښودنه نه وه. ما یوازې غوښتل خپل خوشحالي له ملګرو سره شریکه کړم؛ هغه ورځ زما لپاره یوه عادي ورځ نه وه.

ځواب کي مې ورته ولیکل: «هر څه د ځان ښکاره کولو لپاره نه وي، کله کله د نورو د خبرولو لپاره وي.»

ټلیفون مي بند کړ.

شمس راباندې پوه شو چې څه شوي دي. راته یې وکتل او ویې ویل: «څه شوي؟ داسې غوسه ګوري.»

هر څه مې ورته وویل.

وخندل او ویې ویل: «خلک به هر څه وایي. هر چا خبرو ته غوږ مه نیسه.»

د ده خبره مې په زړه کي کېناسته. ږښتیا هم، که هره خبره د انسان پر زړه بار شي، نو د خپل ژوند لپاره به پکې ځای پاتې نه شي.

ثناء او صدف له ډوډۍ سره یوځای راننوتې. ډوډۍ مې وخوړه. لوبیا ډېره خوندوره پخه شوې وه. د کور د ډوډۍ هغه ساده خوند، چې د خپلوانو د خبرو او د کور د تودې فضا سره ګډ وي، له هرې مېلمستیا راته خوږ ښکاږده.

شمس وویل: «هلکه، ځان تیار کړه، شنبې ته به ځي کابل ته.»

په حیرانۍ مې ورته وکتل.

«د څه لپاره؟»

وویل: «امادګۍ لپاره؟ زه چېرته نه ځم!»

شمس راته وکتل. دا ځل یې څېره جدي وه.

«دلته په کور کي نو څه کوې؟ ها څه چې دې زده کړي، دا به هم هېر کړې.»

زما لومړۍ مسافري وه، ځکه ویریدم. د کابل نوم راته یوازې د لوی ښار په معنا نه و؛ له ځان سره یې د ناڅاپه کوڅو، ډېرو خلکو او پردي ځای تصور هم راوړ.

خو صدف او ثناء هم ډېر ټینګار وکړ. هرې یوې خپلې خبرې کولې، تر دې چې بالاخره مجبوره شوم ومې منله.

شمس وویل: «د اکرم پلار راته وویل، اکرم هم ځي.»

د دې خبرې سره یو څه خوشحاله شوم.

ماخستن له جمعې وروسته له اکرم سره یوځای د کور پرخوا روان شوم. ټوله کیسه مې ورته وکړه.

اکرم وویل: «هو یاره، پلار مې راته ډېر ټینګار کاوه. وروسته مې وویل، که اظهار ځي، زه هم ځم، کنه زه نه ځم.»

بس همدا خبره وه چې پلار مې شمس ورور ته ویلي وه.

په ځیر مې ورته کتل، بیا مې ورټوپ کړل.

«هلک، منډه کړه! صبر یو ځل ودریږه، زه به دې خوښ شم!»

ketabton.com - The Digital Library

اکرم په زوره، زوره خندل او منډې یې وهلې. د کوڅې تر سر پورې ورسېد او له لرې یې غږ کړ:

«اظهاره، سبا به ګورو! ښه بخت!»

ومې ویل: «لیونیه، زه به دې خوښ شم!»

کور ته ننوتلم او خپلې کوټې ته ولاړم. فېسبوک مې راخلاص کړ. څو نور کمنټونه هم شوي وو، جوابونه مې ورکړل. ناڅاپه مې سترګې پر هغه کمنټ ولګېدې چې د «ډیوي» په نوم ایډي بیا لیکلی و:

«امممم... زه نه وم خبره چې ته دومره مهم یې چې باید مینوال دې خبر شي، هههههه.»

بیا مې غوسه راغله. دا ځل مې هېڅ ځواب ورنه کړ، یوازې مې د غوسې یو سټیکر ورولېږه.

وروسته فېسبوک ته ولاړم. ما به په فېسبوک کې ډېرې ادبي لیکنې او د کایناتو اړوند معلومات لوستل. د شپې سکوت و، د ټلیفون رنا مې د کوټې په تیاره کې یوازېنۍ رنا وه. لږ وروسته مې سترګې خوبولې شوې. د ټلیفون لوړه پرده مې رابښکته کړه، نیټ مې بند کړ، ټلیفون مې څنګ ته کېښود او اوږد وغځېدم.

څو شېبې وروسته خوب یووړم.

یو وخت چې سترګې مې خلاصې کړې، سپینه رنا د کوټې له کړکۍ را دننه کېدله. ژر مې د کوټې وره ته وکتل، بیا مې ساعت ته سترګې واړولې؛ نهه بجې وې.

خپل ځان ته حیران شوم.

«ولې دوی د لمانځه لپاره نه یم پاڅولی؟»

په بېړه دباندې ووتم.

صدف په برنډه کې کالي په لګن کې اچولي وو او مینځل یې. ثناء ورسره ناسته وه او بادام یې ماتول. د سهار هوا لا تازه وه او د اوبو څاڅکي د صدف له لاسونو سره یو ځای د برنډې پر ځمکه لوېدل.

صدف راته وکتل.

«وروره، لمونځ دې هم ونه کړ؟»

ومې ویل:

«خو غږ به دې راباندې کړی وي!»

صدف وویل: وروره، څو ځله مې درباندې ناري ووهلې، نه ویښېدلې.

ومې ویل: «ښه، سمه ده.»

بیا مې وپوښتل: «شمس ورور چېرته دی؟»

ویې ویل: «هغه فصل ته تللی، هغه ځای ته چې منو لپاره مو پراشوټان وړي وو. لکه چې لږې مڼې پاتې وې، هغه پسې تللی، راوړي یې.»

ومې ویل: «سمه ده، زه پسې ورځم.»

صدف په لاس کې نیولي کالي ونیښلول او ویې ویل: «شمس ورور وویل چې نه دې راځي، نشته دومره کار.»

یا غلې شوه.

ما ورته وکتل.

«خو بیا هم څه؟»

ketabton.com - The Digital Library

هغې ورو وویل:

«درپسې خفه به شو.»

ما په زور خپله خوله راټوله کړه، څو موسکا مې په مخ کې پاتې شي. نه مې غوښتل چې زما په سترګو کې هماغه خپګان وویني.

ورو مې وویل:

«زه هم، خوري.»

مامښام له جمعې وروسته اکرم وویل: «هلکه، سبا له خیره، د برکلي د ناصر موټر ځي. پلار مې خبر ورسره کړی. ځان تیار کړه.»

ومې ویل: «سمه ده، لیونیه.»

ومې ویل: «تا خو مور په لانجه کې واچولو.»

وخندل: «دومره کیسه نه ده.»

کورته ولاړم. صدف په دالان کې په کار اخته وه. د دیګ د بخار نری، نری شغلې پورته کېدې او د پخلنځي له خوا د خوږو بوی راتلو. د کور عادي شور و، خو زما په زړه کې بیا د سبا سفر غلی شور جوړ شوی و.

کوټې ته ننوتلم. شمس په ټلیفون کې په فارسي ژبه خبرې کولې. فکر کوم کوم ایرانی و. زه هم غلی کښناستم، خپل ټلیفون مې راواخیست او نیټ مې خلاص کړ.

د کلیوالي ژوند هغه خواږه انځورونه مې چې له ماشومتوبه مې په سترګو کې ساتلي وو، په یوه لیکنه کې مې راټول کړل. د کلي لارې، د مامښام لوګی، د کورونو له بامونو پورته کېدونکي دودونه، د باغونو شین رنګ او هغه خلک چې هره ورځ به دې مخې ته راتلل او بیا به دې له سترګو پناه شول.

پوهېدم چې نور نو باید کلی پرېږدم. باید خپلو راتلونکو مسئولیتونو او راتلونکې ته فکر وکړم. خو د انسان زړه د حساب کتاب په ژبه نه پوهېږي. کله چې د خپل کور او خپل ځای د پرېښودلو وخت راشي، حتی د کوڅې یوه عادي تیږه هم د زړه له کومې سره ټرلې ښکاري.

لږه شېبه وروسته د شمس ټلیفون بند شو.

شمس راته وویل: «بېغمه اوسه، لیونیه. خپل درسونه وایه. هر څه ته چې دې ضرورت وو، ماته ووایه.»

ومې ویل: «مننه، وروره.»

ډوډۍ مو وخوړه. زه او شمس یو ځای جماعت ته ولاړو او لمونځ مو په جمعه وکړ.

وروسته بېرته د کور پر لور روان شوو. زه او شمس ورور یو ځای کوټې ته ننوتلو. صدف زما په بیک کې جامې ایښې وې. ثناء ته مې وویل: «هله، خوري، یو ګیلاس چای راوړه.»

په منډه له کوټې ووته. لږ وروسته له دهلیز څخه د پتنوس او ترموز سره یو ځای راننوتله.

شمس وویل: «صدف، ګوره، هر څه ضروري شیان ورته کېږده.»

صدف وویل: «وروره، برابر شول.»

د چای ډک ګیلاس مې راپورته کړ، کوچنی غوړپ مې تري وکړ او بېرته مې کېښود.

فېسبوک ته ننوتلم. ډېر کمنټونه شوي وو. چا یو څه لیکلي وو، چا بل څه؛ هر چا خپل نظر درلود. په منځ کې یو ځل بیا د ډیوې کمنټ تر سترګو شو:

ketabton.com - The Digital Library

«کلیوالي ژوند مې ډېر خوښ دی.»

ما هم د زړه یو ستیکر ورکړ او نیټ مې بند کړ.

په زړه کې مې د خوشحالۍ او خواشینۍ ګډ احساس و. خوشحاله وم چې یوه نوې لار مې مخې ته پرانیستل کېده، خو د دې لارې په پیل کې د خپل کور د پرېښودلو درد هم ولاړ و.

د شپې تر ناوخته فکرونو خوب ته نه پرېښودم. نه پوهېږم څه وخت مې سترګې پټې شوې.

سهار چې مې سترګې خلاصې کړې، صدف خور مې سرته ولاړه وه.

«وروره، پاڅه! هله، ناوخته کېږي.»

د خور په مینه کې هم هېڅ کمی نه وي. د هغې غږ داسې و لکه څوک چې د خوب له تیارو دې په نرم لاس راوباسي.

ژر پاڅېدم، اودس مې وکړ او لمونځ مې ادا کړ. رڼا لګېدلې وه. شمس کوټې ته راننوت.

لږ نصیحت یې راته وکړ: «بېځایه مه ګرځه، خپل درسونه دې وایه، ځان ته پام کوه.»

لنډه دا چې ډېرې خبرې یې راته وکړې. ما هم ورته سر خوځاوه.

په شمس پوه شوم، یو څه خفه و؛ خو ځان مې پرې پوه نه کړ. زه هم خفه وم. منم چې کوم لرې هېواد ته نه تللم، خو زما لومړی سفر و او لومړی سفر تل د انسان په زړه کې خپله نښه پرېږدي.

لمر هم خپلې ژېړې وړانګې د غرونو پر سرونو سیخې کړې وې او ورو، ورو د اسمان پر لور ختلې. د سهار سړه هوا لا د کور پر انګړ پرته وه.

شمس غږ کړ: «صدف، چای راوړه چې ناوخته کېږي.»

د صدف غږ راغی: «سمه ده، وروره.»

لږ وروسته یې چای راوړ. چای مې وڅښه.

اکرم هم زنګ راوکړ: «هلکه، نور راوزه، ډرېور راځي.»

ومې ویل: «سمه ده.»

زړه مې په زوره درزېده، خو ځان مې عادي ښود. نه مې غوښتل څوک راباندې پوه شي.

شمس جیب ته لاس کړ، شپږ زره افغانۍ یې راکړې.

«واخله وروره، هر وخت چې دې ضرورت شو، بیا ماته ووایه.»

ومې ویل: «وروره، په میاشت کې خو ضرور راځم، دا ډېرې دي.»

شمس وویل: «نه دي ډېرې. د ځان خیال ساته.»

پیسې مې جیب ته کړې. بیک مې شمس ورور پورته کړ او له کوټې ووتلو.

د صدف او ثناء په سترګو کې اوښکې وې. یوازې لږ پاتې وو چې زه هم وژاړم، خو ځان مې کابو کړ. خدای پامانې مې ورسره وکړه.

له دروازې دباندې راسره شمس ورور هم ووت.

اکرم وختي لا راوتلی و او پلار یې هم ورسره ولاړ و. شمس د اکرم د پلار خواته ورغی، سترې مشي یې ورسره وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

زه هم اکرم ته وروړاندې شوم.

«ای لیونیه، په دې څه جنجال کې دې واچولم!»

وخندل.

«هلکه، هسې نه، هم مسافري مو په مخ کې وه، دا یې نن څه توپیر کوي؟»

ومې ویل: «هلکه، چپ شه، کنه توپیر درته ښایم.»

له خندا شین شو. په څټ کې مې پرې واروکړ.

په همدې وخت کې د برکلي له خوا د خوړ پر پله موټر را ټپر شو.

اکرم وویل: «راغی!»

مورِ هم د کوڅې سر ته ورغلو.

موټر راورسېد.

«لخیره ځو؟»

شمس ورور مو بیکونه موټر ته پورته کړل. خدای پامانې مو واخیسته او موټر ته پورته شوو.

موټر کرار، کرار روان شو.

د کلي هر څه ورو، ورو شاته پاتې کېدل؛ لومړی زمورِ کوڅه، بیا کورونه، بیا د باغونو ونې او په پای کې هغه لارې چې هره ورځ به پرې تلم. ما له شیشې بهر کتل.

لس دقیقې وروسته عمومي سرک ته ووتلو.

زیات خفه وم، خو اکرم خوشحاله معلومېده.

لږ وروسته زمورِ ښکلي ولسوالیِ د بند ساحې ته ورسېدله. زمورِ ولسوالیِ د همدې بند له امله بندچک بلل کېده. د بند اوبه د ژمي په یخ موسم کې غلې پرتې وې او د غرونو سیوري یې پر مخ خپاره وو.

تر دوو ساعتونو مزل وروسته کابل ته ورسېدو. په کوټه سنګي کې مو په درې زره افغانیِ په یوه لیلیه کې داخله وکړه او په امادګیِ کې مو ځان شامل کړ.

لومړیِ اوونیِ ډېره سخته ټپره شوه. درسونه، له کوره لرېوالی او مسافري، درې واړه یو ځای وو. په تلو کې اکرم زیات خوشحاله و، خو هلته یې ډېر زړه پتنګ و. کله به یې د کور خبرې کولې، کله به یې د پلار او مور یادونه کوله.

ما هم د کور تصویرونه په ذهن کې ګرځول. د خویندو ځېرې، د شمس غږ، زمورِ د کور انګړ او د کلي کوڅې به مې سترګو ته ودرېدل. بیا به مې ځان ټینګ کړ.

د خویندو او ورور هیلې مې سترګو ته ودرېدې.

«باید ځان وساتم، باید درس ووایم.»

همدا خبرې به مې زړه بېرته کلک کړ.

مکمله یوه میاشت ټپره شوه. اوس نو له خلکو او ماحول سره لږ عادت شوی وم، خو بیا هم د کورنیِ کمی هېڅ ځای نه پوره کېده. سهار نه تر غرمې امادګي وه او د مازدیګر په وخت کې مو انګلیسي کورس هم ویلو.

مابنام به مې مطالعه کوله.

ketabton.com - The Digital Library

یوه شپه اکرم وویل: «یو ځل کلي ته نه ځو؟»

ومې ویل: «اوس تازه عادت شوي یو. که ولاړ شو، بیا به راته دلته ګوزاره سخته شي. یو څه وخت صبر به وکړو.»

اکرم هم ومنله.

کله، کله به مې په فېسبوک کې لیکنې هم کولې. ځینې خاطري به مې لیکلې او هر پوسټ ته به ډیوې خامخا کمنټ کولو.

کوم وخت به چې کمنټ وځنډېد، له ځان سره به مې ویل:

«نن یې ولې ناوخته کړ؟»

بیا به مې ځان ته ویل:

«اظهاره، لیونی شوی یې؟ څه کوې؟»

خو بیا به مې هم د هغې د کمنټ انتظار کاوه.

اوس مې لیکنې له پخوا ډېرې شوې وې. نه پوهېدم ولې، خو چې د ډیوې کمنټ به راغی، بې دلیله به خوشحاله شوم.

شمس به هم هره ورځ راته زنګ کولو. پوښتنه به یې کوله:

«څه وخت راځې؟»

ورته مې ویل: «وروره، دربشم. اوس لږ عادت شوي یو، داسې نه بیا مو په کلي کې زړه ولګېږي.»

شمس به ویل: «ځنګه چې ستا خوښه وي.»

یوه غرمه مې ډوډۍ وخوړه او دباندې د ژمي لمر ته کېناستم. د ژمي لمر کمزورې تودوخه لرله، خو د انسان لپاره یې هماغه لږه تودوخه هم غنیمت وه.

کتاب مې لوست. لږ وروسته مې کتاب بند کړ، ټلیفون مې راواخیست او نیټ مې پکې روشن کړ.

فېسبوک ته ورغلم.

کتل مې چې د ډیوې د ملګرتیا بلنه راغلې وه.

لاسونه مې په لړزېدو شول.

خپل ځان ته حیران شوم. نه پوهېدم ولې دومره وارخطا شوم. حتی خپله راته خندا راغله.

بلنه مې قبوله کړه او ټلیفون مې بند کړ.

پاڅېدم او اطاق ته ولاړم. ګورم چې اکرم کتاب پر سینه ایښی و او ویده و. کتاب مې تري پورته کړ او سرته مې کېښود.

بېرته ووتلم، اودس او لمونځ مې وکړ.

ناوخته وه. پر اکرم مې غږ وکړ. هغه هم پاڅېد، اودس یې وکړ او لمونځ یې وکړ.

یو ځای دباندې ووتلو.

اکرم ته مې وویل: «نن پنجشنبه ده.»

ویې ویل: «هو، ولې؟»

ketabton.com - The Digital Library

بس بې له فکره مې خولې ته راغلل:

«هلکه، راځه چې ځو. یکشنبه به بېرته راشو.»

اکرم په حیرانۍ راته وکتل.

زه هم تازه خپل فکر ته متوجه شوم.

«هو، ولې؟»

ومې ویل: «تر اوسه خو مازیګر هم نه دی داخل شوی. تر اوسه څه شوي؟ ښځې خو هم نه یو چې په تیارولو کې وخت ونیسو!»

اکرم وخندل.

«سمه ده.»

بېرته خپل اطاق ته ننوتلو. مهم شیان مو راټول کړل. د اطاق ملګرو ته مو وویل:

«مونږ ځو، یکشنبه لخیره راځو.»

دوی هم وویل:

«پخیر لاړ شئ.»

کالي مو یوې خلتې ته کړل او له لیلیې ووتلو.

د بندچک اډې ته ولاړو. موټر کې مو خلتې کېښودې.

ډرېور ته مو وویل: «لمونځ کوو، راځو.»

ډرېور وویل: «یو دوه نفره کم دي، تر هغه وخته به هغه هم راشي.»

نږدې جماعت ته ولاړو. اودس او لمونځ مو وکړ.

بېرته د موټر پرخوا روان شوو.

موټروان وویل: «هله چې ځو، لخیره.»

موټر ته پورته شوو.

زه د شیشې خواته ناست وم. د مازیګر ژړې لمر سپینه واوره ځلوله. د موټر له کوچنیو سوریو څخه یخ باد دننه راتلو او د ژمي سا یې د موټر په هره کونج کې خپروله.

مابنام مو لمونځ د دښت ټوپ په جماعت کې وکړ.

یو ساعت وروسته موټر زمونږ د کلي پرخوا واوښت.

زړه مې یو دم خونږ احساس وکړ.

هغه لارې چې یوه میاشت مخکې مې په درنو سترګو پرېښودې، اوس راته بېرته اشنا شوې وې. د کلي نوم لا نه و ښکاره، خو زړه مې لکه مخکې له سترګو چې لیدلی وي، د کور پر لور تللی و.

د کوڅې په سر کې زه او اکرم تري کوز شوو. د پرې شوې واورې پر لاره مو کور ته قدمونه واخیستل.

له اکرم سره مې خدای پاماني وکړه.

دروازه بنده وه.

ketabton.com - The Digital Library

ټک، ټک مي وکړ.

څوک ښکاره نه شول.

بیا مي په زوره ټک، ټک وکړ.

د شمس غږ مي واورېد:

«صبر، درغلم!»

څو شېبې وروسته دروازه خلاصه شوه.

شمس وویل:

«اوهو! ته؟»

ومې ویل:

«هو، وروره.»

په غېږ کې یې ونیولم.

«خیر خو به وي؟ دومره ناڅاپه؟»

ومې ویل: «هو، خیر دی، بس همداسې ناڅاپه راروان شوو.»

ویې ویل:

«سمه ده، راځه کورته، یخ دی.»

کورته ننوتلو.

له صدف او ثناء سره مي سترې مشي وکړل. ټول ډېر خوشحاله شول. د هغوی په سترګو کې هغه خوشحالي وه چې یوه میاشت مخکې مې د کور پرېښودو پر وخت پکې د اوښکو تر څنګ لیدلې وه.

توخاني ته ننوتلو. د ګرمې تبې ترڅنګ کېناستم. د یخنۍ له اوږده سفر وروسته د تبې تودوخه داسې وه لکه کور مې چې په دواړو لاسونو غېږ کې نیسي.

لږ وروسته ډوډۍ راغله. مخې ته مې د پسه وچې شوې غوښې شوروا کېښودل شوه.

صدف وویل:

«اظهاره، نصیب دې پکې وو.»

شمس وویل:

«هو، بالکل، بېشکه.»

د شپې تر ناوخته مو کیسې کولې. د یوې میاشتې خبرې مو په څو ساعتونو کې نه خلاصېدلې.

شمس وویل:

«هلکه، سترې شوی به یې، ورشه ویده شه.»

زه هم بې له څه ویلو پورته شوم. لمونځ مې وکړ او وروسته خپلې کوټې ته ننوتلم.

ثناء راته ځای جوړ کړی و. دوه ښه غټ توسان یې راباندې هوار کړي وو، چې یخ مې ونه شي.

په لومړي سر کې ځای ډېر یخ و، خو لږ وروسته مې بدن ګرم شو.

ketabton.com - The Digital Library

ټلیفون مې راواخیست. د سر پرده مې رابښکته کړه. د دوو غشو په روښانه کولو سره نیټ هم روښانه شو.

فېسبوک ته ولاړم.

له هغه وروسته مسنجر ته لاړم.

په مسنجر کې به راته ډېرو کسانو مسیجونه کول. دا چې زه په درسونو اخته وم، له مسنجره مې کار نه اخیست. له نړدې ملګرو سره به مې په واټساپ خبرې کولې او په مسنجر کې به یوازې ادبي ګروپونو ته کله، کله سر ورښکاره کولو.

د مسنجر په سر کې مې د «ډیوي» په نوم سترګې ولګېدې.

زړه مې په درزښدو شو.

بدن مې یخ ونیولو.

اوږده ساه مې واخیسته او ځان مې ارام کړ.

لیکلي یې وو:

«سلام، څنګه یې؟»

ورته مې ولیکل:

«ع، سلام. مننه، آغلې، ته څنګه یې؟»

نیټ یې روشن و. لږ وروسته یې مسیج وکتل.

په مسیج کې یې خندلي وو.

ومې ویل:

«ولې خاندې؟»

ویې ویل:

«آغلې؟»

ومې ویل:

«ولې؟ غلطه خبره مې وکړه؟»

مسیج یې راغی:

«نه، خو داسې راسره رسمي خبرې کوې.»

ورته مې ولیکل:

«رسمي څنګه وي او غیر رسمي څنګه وي؟»

ویې ویل:

«رسمي لکه دا اوس چې ته له ماسره کوې، او بل عادي دی، چې هر چا سره یې کوې.»

ومې ویل:

«ښه، نو له تاسره څنګه خبرې وکړم؟»

ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

«عادي.»

یو دم مې فکر ته راغلل:

«داسې نه کوم ملګری دې وي، اوس به دې تېرباسي، بیا به درباندې رشخند وهي.»

ورته مې ولیکل:

«پوهیږم. هلک یې، هسې مې مه ځوروه، ووایه کوم یو یې؟»

مسیج یې راغی:

«صبر، زه خپلې کوتې ته لاړه شم.»

یو څه وارخطا شوم.

لږه شېبه وروسته په مسنجر زنګ راغی.

په نه زړه مې اوکې کړ.

له ټلیفون څخه د یو غږ څپه راغله:

«څنګه یې، اظهاره؟ ښه یې؟»

په خوله کې مې لاړې وچې شوې.

په بنده ژبه مې وویل:

«زه... ښه... ښه یم.»

نرمه خندا یې راغله.

په خبرو کې یې عادي تودوخه وه.

ویې ویل:

«ولې داسې وارخطا یې؟»

ومې ویل:

«نه، نه یم وارخطا.»

یو ځل بیا یې وخندل.

«ښه، اظهارجانه، زه ستا لیکنې ډېرې ګورم. ډېرې مې خوښېږي.»

لهجې یې ناڅاپه بیخي بدله کړه او په خندا یې وویل:

«خوشحاله کېږه مه، ته مې نه خوښېږې، یوازې دې لیکنې خوښوم.»

په زوره یې وخندل.

زه یې جرئت ته هک حیران پاتې وم. داسې راته ښکارېده لکه په ټول بدن کې مې چې وینه وچه شوې وي. څه شېبه غلی وم، بیا مې وویل:

«ښه، سمه ده، بیا به سبا خبرې کوو. اوس د خدای پامان.»

ټلیفون یې بند کړ.

ketabton.com - The Digital Library

زه له ډېرې حیرانتیا هماغسې وچ پاتې وم. تر نیمې شپې مې په ځای کې لټ په لټ واوښتم. کله به مې چت ته کتل، کله به مې سترګې پټې کړې، خو خوب نه راتلو. د هغې د غږ نرموالی او د خندا هغه نرۍ اواز به بیا، بیا زما په ذهن کې راګرځېده؛ لکه د کلي په خاموشه شپه کې چې د لرې کومې ویالې اوبه په پټه روانې وي او سړی یې له خوبه هم اوري.

نه پوهېدم ولې یې غږ دومره په زړه پورې راته تمام شوی و.

د شپې ناوخته ویده شوم.

سهار شاوخوا لس بجې راویښ شوم. د الماریٔ د هنداري مخې ته ودرېدم، ویښتان مې منظم کړل او دباندې ووتلم.

اکرم، صدف او ثناء د ژمې په لمر کې ناست وو. د سهار لمر لا ډېر توده نه و، خو د ژمې په یخ سهار کې هماغه کمزورې وړانګې د کور انګړ ته د ژوند رنګ ورکوي.

شمس راته وکتل او ویې ویل:

«خوب دې پوره شو؟»

ژر مې ډیوه سترګو ته ودرېده، د تېرې شپې خبرې مې را په یاد شوې او ناڅاپه مې پر شوندو موسکا راغله.

شمس وویل:

«هلکه، څه خبره ده؟ لکه چې ښه خوب دې لیدلی.»

ژر مې وویل:

«هو، وروره، پوره شو.»

خواته یې ورغلم. ثناء راته د شین چای له بخار څخه ډک ګیلاس راکړ. صدف هم پاڅېدله او په یوه شېبه کې یې زما مخې ته پخه شوې هګۍ کېښوده.

هګۍ مې په خوند وخوړې.

شمس وویل:

«اظهاره، د برکلي امان الله کاکا ته ویلې وو چې وریره به دې زما زوی ته را نه کړې؟»

د صدف مخ تک سور شو. ژر پاڅېدله او بلې خواته ولاړه.

ثناء وخندل.

ورته مې وویل:

«ډېره مه خاندې، ستا به هم دا وخت راشي.»

ویې ویل:

«وی! زه مېړه نه کوم.»

ومې خندل.

«هغه خوادب ناکه، ښه تکړه، غیرتي او لایق ځوان دی. تېر کال له انجینرۍ څخه فارغ شو، نوم یې هم ریحان دی.»

شمس وویل:

«یو ځل به له صدف هم پوښتنه وکړو.»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل:

«خود به یې تري کوو. خپل ژوند یې دی، د خپلې هرې پرېکړې حق لري.»

شمس وویل:

«البته.»

شمس ته مې وکتل او ومې ویل:

«وروره، خبره په دې نه ده چې چا تعلیم کړی وي او هغه په هر څه پوهیږي. انسان باید غیرت او احساس ولري. ډېر تعلیم لرونکی انسان هم داسې کېدای شي چې دا احساس ونه لري او خپلې لونې او خویندې د پیسو په مقابل کې، د هغوی له خوښې پرته، په جبر او زور ورکړي؛ بیا یې ټول ژوند خراب کړي.»

لږ مې چوپتیا وکړه، بیا مې وویل:

«شکر چې ته مې ورور یې.»

شمس وخندل.

«ښه، ماشاالله! کوچني مې ډېرې پخې خبرې زده کړې دي.»

وویل:

«بس، ته دې راته ژوندی یې.»

شمس ته مې هم وویل:

«ته هم، وروره.»

ثناء په خندا وویل:

«که د ورونو د فلم دا خوږه صحنه خلاصه شوې وي، د صدف نه پوښتنه وکړو.»

ومې خندل.

شمس ته مې وویل:

«هغه شرمېږي، یوازې ته ورشه.»

شمس وویل:

«سمه ده.»

کوټې ته ننوت.

لږ وروسته بېرته دباندې راغی.

ومې ویل:

«څه یې ویل؟»

«چې ستاسې څنګه خوښه وي، بس هماغه زما هم خوښه ده.»

زه هم خوشحاله شوم.

«ریحان جلا هلک دی. زما په نظر بیا به داسې څوک پیدا هم نه کړو.»

شمس وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«هو، کاکایي یې هم ډېر صفتونه وکړل.»

لږ وروسته یې وویل:

«ښه، سمه ده، زه به ورته خبر ورکړم.»

مابنام کاکا زمور کره راغی او ویې ویل:

«ما ورته خبر ورکړی، سبا سهار لس بجې راځي.»

زه له یوې خوا خوشحاله وم چې خور مې به خپل ژوند جوړوي، خو له بلې خوا د جدایی فکر مې زړه ته درونده و. د خور د کوژدې خبره داسې وه لکه د کور په دېوال کې چې یوه نوې دروازه پرانیستل کېږي؛ له هغې خوا به د هغې لپاره نوی ژوند و، خو زمور له خوا به د هغې ځای ورو، ورو تشېده.

خو خلک وایي:

«لونې او خویندې د بل د کور دي.»

نو دا هر څه به ضرور کېدل؛ بله لاره نه وه.

خپلې کوټې ته ولاړم. نیټ مې روښانه کړ.

ډیوې مسیجونه کړي وو:

«سلام، څنګه یې؟»

«چېرته یې؟»

«نن دې ناوخته کړه.»

موسکی شوم.

هر مسیج ته مې جلا ځواب ورکړ.

تر ډېره مو خبرې وکړې. د خبرو په اوږدو کې یو خور احساس ورو، ورو زما په ټول وجود خپرېده؛ داسې چې هر ځل به یې نوم په سکرین راښکاره شو، زړه به مې له خپل ځایه لږ پورته شو.

ویې ویل:

«ښه اظهاره، د کوم ځای یې؟»

ومې ویل:

زما نوم اظهار دی، د وردګو ولایت د بندچک ولسوالی یم. او ته؟

لږه شېبه وروسته یې مسیج راغی:

«نوم مې ډیوه دی، د کندهار اوسېدونکې یم.»

زړه مې جرئت پیدا کړ.

ورته مې ولیکل:

«زما کندهاری لهجه ډېره خوښېږي، بیا په ځانګړي ډول ستا له خولې.»

د خندا مسیج یې راولېږه.

ورپسې یې ولیکل:

ketabton.com - The Digital Library

«پرون خو دې ژبه بنده، بنده کېدله، اوس څنګه خبرې کوې؟»

له خندا سره مې یو ځای ولیکل:

«زه یوازې د مسیج زمری یم.»

ویې ویل:

«تر اوسه دې له انجلی سره خبرې نه دي کړي؟»

ومې ویل:

«نه.»

ویې ویل:

«خیر، عادت به شي.»

لږه شېبه وروسته یې ولیکل:

«کولی شي د واټساپ شمېره دې راکړې؟»

ما هم بې له کوم ځنډه خپله شمېره ورولېږله.

لږه شېبه وروسته پر واټساپ مسیج راغی:

«سلام، زه یم ډیوه.»

ما هم مسنجر بند کړ او په واټساپ کې مې ورسره خبرې پیل کړې.

دومره خوشحاله وم چې فکر مې کاوه د نړۍ تر ټولو نېکمرغه انسان زه یم. تر ډېره مو خبرې وکړې. وروسته مو خدای پامانې وکړه.

ناوخته شوی و، نو ژر ویده شوم.

د شنبې په سهار امان الله کاکا له خپلې کورنۍ سره راغی. زمونږ کور ته د مېلمنو راتګ په کور کې یو نوی شور پیدا کړ. چایونه، خبرې او د ښځو تګ راتګ؛ هر څوک په خپل کار اخته وو.

کله چې د کوژدې خبرې یادې شوې، داسې راته وشول لکه څوک چې مې پر بدن یخې اوبه تویې کړي.

له کوټې راووتلم. وارخطا وم.

کاکا او شمس ورور مې هماغه کوټه کې وو. زه په برنډه کې ناست وم. د کاکا ښځه او لورګانې هم راغلې وې.

لږ وروسته شمس ورور زمونږ پر لور روان شو.

زه وارخطا ولاړ وم؛ داسې به دې ویل چې بدن مې ساه پرېښې وي.

شمس ورور د کاکا ښځې ته وویل:

«اوس یو کوچنی دستمال تیار کړئ، لږ ژر کوئ.»

هغې وویل:

«سمه ده، زویه.»

مبارکي یې ورکړه او ماته یې هم مبارکي راکړه.

زه لا هم حیران ولاړ وم.

ketabton.com - The Digital Library

شمس ورور راته وکتل:

«تر څه وخته به د بت په څېر ولاړ یې؟»

ومې ویل:

«وروره، بس بل ډول شوم.»

شمس وویل:

«په دې کې به مو خیر وي.»

ومې ویل:

«هو، ان‌شاءالله.»

مېلمانه مو رخصت کړل.

مابنام ثناء پاکې جامې تیارولې.

ومې ویل:

«صدف چېرته ده؟»

ویې ویل:

«وروره، هغه بله کوټه کې ده. شرمېږي، نه شي راتللی.»

خندا راغله.

ومې ویل:

«سمه ده.»

دا ځل کابل ته تلل دومره زور نه غوښت. اکرم ته مې زنګ وکړ:

«هلکه، د موټر معلومات دې کړي؟»

ویې ویل:

«نه، اظهاره.»

ومې ویل:

«سمه ده، ماته یې پرېږده.»

اړیکه مو پرې کړه.

شمس ته مې وکتل. خواشینی ناست و.

ومې ویل:

«وروره، هېڅ تشویش مه کوه.»

ترخه موسکا یې وکړه. له سر نه یې خولې پر ځمکه کېښوده او سترګې یې راواړولې.

«نه وروره، هېڅ خبره نه ده.»

ومې ویل:

«کوم کلیوال شمېره درسره شته؟»

ketabton.com - The Digital Library

ویې ویل:

«صبر، وګورم.»

په ټلیفون کې اخته شو.

لږه شېبه وروسته یې ټلیفون غوږ ته کړ.

له سلام کلام وروسته یې ورته وویل چې سبا ځي.

شمس لږه شېبه غلی و. بیا یې یوازې وویل:

«سمه ده.»

ټلیفون یې بند کړ.

راته یې وکتل:

«سهار وختي موټر راځي.»

ومې ویل:

«سمه ده. زه هم ځم، ویده کېږم.»

شمس ورور هم وویل:

«سمه ده، لیونیه. هله ویده شه، سبا به ناوخته پاڅېدلی یې.»

زه هم دباندې راووتلم.

د برکلي له خوا د ښځو د سندرو غږونه لږ، لږ اورېدل کېدل. د کلي پر خاموشه شپه کې هغه سندرې داسې خپرېدې لکه له لرې کوم کور څخه چې د خوشحالۍ رڼا تر تیارو راوتلې وي.

لنډه موسکا مې وکړه او بېرته خپلې کوټې ته ننوتلم.

په ځای کې اوږد وغزېدم. نیټ مې روشن کړ.

لومړی واټساپ ته ولاړم. کتل مې چې د ډیوې نیټ بند و. لږ خفه شوم.

فېسبوک ته ولاړم. لږ پکې نه وم ګرځېدلی چې د ټلیفون په سر کې د واټساپ د مسیج اعلان ښکاره شو.

ژر واټساپ ته ورغلم.

ډیوې لیکلي وو:

«سلام.»

ژر مې ورته ولیکل:

«وعلیکم السلام.»

«څنګه یې؟»

په کیبورډ اخته شوم.

«مننه، ته څنګه یې؟»

ویې ویل:

«ښه یم.»

ketabton.com - The Digital Library

وروسته یې ولیکل:

«نن خو دې ډېر ژر جواب راکړ.»

ومې ویل:

«درته په تمه وم.»

د خندا مسیج یې راولېږه.

«ولې؟»

ومې لیکل:

«نه پوهېږم، هسې نن مې ستا په اړه فکر کولو.»

بیا یې د خندا مسیج راولېږه.

ویې ویل:

«څوک درسره دی، که یوازې یې؟»

ومې ویل:

«یوازې یم.»

په یوه شېبه کې یې پر واټساپ زنګ راغی.

زړه مې په درزېدو شو.

ټلیفون مې اوکې کړ.

د هغې نازک او خوږ غږ مې تر غوږ شو:

«څنګه یې؟»

«ښه یم.»

زړه مې وغوښتل په خندا ورته ووایم، خو یوازې مې وویل:

«مننه، ته ښه یې، آغلې؟»

په کټ، کټ یې وخندل.

د هغې خندا دومره ژوندۍ وه چې داسې راته ښکارېده لکه د ژمي په یخ مابنام کې چې ناڅاپه د لمر یوه توده وړانګه پر مخ ولګېږي.

ومې ویل:

«ها، ولې دې وخندل؟»

په نرمه خندا یې وویل:

«ستا له خولې د آغلې نوم ډېر خوږ لګېږي.»

موسکا مې وکړه.

ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

«ګوره، تر اوسه مې چا خور او لور ته په بده سترګه نه دي کتلي او نه مې له چا سره داسې خبرې کړي. نه پوهیږم له تا سره ولې خبرې کول مې زړه غواړي، خو زړه مې هم نه مني.»

وخندل:

«ښه، ربښتیا وایې که دروغ؟»

ژر مې وویل:

«نه والله، که دروغ وایم.»

په خندا یې وویل:

«ګوره، زه ډېره بدرنګه یم. نور دې خپله خوښه ده.»

ومې ویل:

«ماته کوم توپیر نه لري.»

په کټ، کټ یې وخندل.

بیخي زیات یې خندل، خو د هغې په خندا کې هم داسې یو خوږ احساس و چې زما ټول وجود یې لړزاوه.

ویې ویل:

«ښه اظهاره، څه کار کوې؟»

ما ورته د امادګۍ په اړه هر څه وویل.

ومې ویل:

«سبا ځم، لخیره، ببرته کابل ته.»

ویې ویل:

«ښه، سمه ده. بیده شه، بیا به سهار نه راویښیږې.»

لهجې یې بیا هم هغه نرمه خوږه موسیقي لرله.

ومې ویل:

«سمه ده، خدای پامانې.»

خدای پامانې مو واخیسته.

نیټ مې بند کړ. کلیمه مې وویله، قبله مې مخ ته کړه، اوږده ساه مې واخیسته.

لږه شېبه ویښ وم، وروسته نه پوهیږم څه وخت خوب وړی وم.

سهار له لمانځه وروسته صدف چای کوټې ته راوړل. شمس ورور هم ناست و.

چای مې وڅښنه چې د شمس ورور ټلیفون ته زنګ راغی.

شمس ورور یوازې وویل:

«سمه ده، درځو.»

دباندې هوا ډېره نه وه یخه، ځکه وریځ وه. د واورې سپین، سپین بڅرکي له اسمانه ورو، ورو د ځمکې پر لور راتلل او د کلي لارې یې یو ځل بیا په سپین رنګ پوښلې.

ketabton.com - The Digital Library

د کالیو خلته مې راپورته کړه.

شمس راته وویل:

«صبر.»

جیب ته یې لاس کړ او پنځه زره افغانۍ یې راکړې.

«واخله.»

ما هم تري واخیستې.

«ګوره، د پیسو اندېښنه مه کوه. هر څه ته دې چې ضرورت وو، اخله یې.»

ومې ویل:

«سمه ده، وروره.»

ژر مې اکرم ته زنګ وکړ.

«ژر راووځه.»

ویې ویل:

«سمه ده.»

اکرم هم راسره دباندې ووت.

خدای پاماني مو وکړه او موټر د عمومي سرک پرخوا روان شو.

د پسرلي ښکلې هوا، د ګلانو خوږ بوی او د مرغانو اوازونو طبیعت ته ځانګړې ښکلا وربخښلې وه. پسرلی داسې و لکه طبیعت چې د اوږدې ژمې له خوبه تازه راویښ شوی وي؛ ونو نوې سا اخیستې وه، د ځمکې له غېږې شنې پانې راوتلې وې او د کلي لارې د ګلونو له بوی څخه ډکې وې.

د کلیوالي ژوند تر څنګ ښاري ژوند، په ځانګړي ډول د کابل ژوند، هم راته اوس ډېر په زړه پورې شوی و.

دا ځل زه او اکرم دوه میاشتې کور ته ولاړ نه شوو.

دوه ځله شمس ورور د ډرېور په لاس پیسې رالېږلې وې. له کورنۍ سره مې داسې ورځ نه وه تېره شوې چې خبرې مې ورسره نه وي کړې.

له ډیوې سره به بیا تر نیمې شپې په مسیجونو اخته وم.

مورِ له یو بل سره بیخي ډېر عادت شوي وو.

څو ځله راته ډیوې وویل:

«یو ځل کندهار ته راشه.»

خو ما به ورته ویل:

«په درسونو اخته یم.»

ډیوې به ویل:

«تر څو مې چې په ربښتیني ډول ونه ګورې، په ټلیفون کې به ځان درته نه ښکاره کوم.»

زه یې لیدو ته بیخي بې قراره وم.

ketabton.com - The Digital Library

د هغي غږ دومره خوږ و؛ تل به مي له ځان سره فکر کاوه چې که غږ يې دومره خوږ دی، نو هغه به بیا څومره ښکلي وي؟

نور نو د پټ، پټوني کیسه بیخي اوږده شوې وه.

زه به د یوه نالیدلي مخ مین وم، خو تر اوسه نه ما ورته خپل زړه ښکاره کړی و او نه هغې.

یوه شپه په خپل ځای کې پروت وم. چت ته مې کتل او له ځان سره مې وویل:

«نور نو بیخي کیسه اوږده شوه. هر څه چې کیږي، و دې شي. خو نن به ورته ضرور وایم.»

اوږده ساه مې واخیسته، ځان مې ارام کړ او په ټلیفون کې مې ولیکل:

«سلام، راته ټوله نړۍ ګراني ډیوې!

کله مې چې له تا سره پېژندګلوي شوې، له هغې وروسته مې تر اوسه د بل چا په اړه فکر نه دی کړی. تراوسه مې ستا څېره نه ده لیدلې. پوهیږم، د چا غږ چې دومره ښکلی وي، هغه به نوره هم څومره ښکلي وي. څو ځله مې په خپل ذهن کې انځور کړې یې، خو ذهن مې ماتې خوړلې او ستا تصویر یې نه دی بشپړ کړی.

زما د مینې ډکې خبرې نه دي زده؛ د کلي یو ساده هلک یم. خو دومره درته وایم چې ته چې نه یې، په ما هغه ورځ لکه کال تېریږي. یوه شیبه مې هم له یاده نه وځې.

بس دومره درته وایم چې له ټولو راته ګرانه یې، ډېره، ډېره، ډېره...

مینه درسره لرم.

ستا لیونی اظهار»

لیک مې ورته ولیږه.

زړه مې په درزېدو شو.

ژر مې نیټ بند کړ، ځکه نه مې شو کولی چې هماغه شیبه یې ځواب ته سترګې په لار پاتې شم.

وارخطا وم.

د شپې تر ناوخته راته خوب نه راتلو.

سهار له لمانځه وروسته مې کتابونه راواخیستل او د مطالعې هڅه مې وکړه، خو ټول سوچ او فکر مې د تېرې شپې په مسیج کې بند پاتې و. هر څو کرښې به مې ولوستې، بیا به مې سترګې پر کتاب وې خو ذهن به مې د هغې د ځواب په تمه و.

صبر مې ونشو.

نیټ مې چالان کړ او واټساپ ته ورغلم.

زیات مسیجونه راغلي وو.

لومړی مې د ډیوې مسیجونه راخلاص کړل.

ډېر وارخطا وم.

لیکلي یې وو:

«ع، سلام اظهاره!

ستا خبرې مې چې ولیدې، ځمکه مې له پښو ولاړه.

ketabton.com - The Digital Library

ډپر وخت نه ما هم کوشش کولو چې درته ووایم، خو وېرېدم، داسې نه چې له لاسه دې ورکړم.

هههههه!

او بل، وایي چې ساده یم، د مینې خبرې مې نه دي زده! لږ پاتې وو چې درته وژاړم.

زه هم درسره ډېره، ډېره، ډېره مینه لرم.

ستا ډیوه، یوازې ستا. »

له خوشحالۍ نه راباندې لار ورکه شوه.

سمدستي اکرم ته ورغلم. هغه نه ما کوم څه پټول. هر څه مې ورته وویل.

اکرم وخندل:

«لیونیه، له خوشحالۍ به مړ شې!»

ومې ویل:

«مه کوه، چې مړ شم.»

اکرم وویل:

«ښه، د دې خوشحالۍ په بدل کې راته څه راکوې؟»

ومې ویل:

«هر څه چې ته وغواړې.»

ویې ویل:

«نن به راباندې دباندې ښه غوړ چای څښې.»

ومې خندل.

«دا خو کوچنۍ خبره ده.»

ژر ولاړ شوو.

لمر تازه راختلی و. د پسرلي ښکلي سهار ځانګړې ښکلا هرې خواته خپره کړې وه. د سهار نرمه هوا د ونو له پاڼو سره لوبې کولې او د ښار له شور مخکې د طبیعت غږونه لا ښه اورېدل کېدل.

له لیلیې راووتلو او نږدې هوټل ته ورغلو.

اکرم ته مې وویل:

«هر څه چې ته غواړې، راوغواړه.»

ښه، خوندور سهارنۍ مو وکړه.

وروسته لیلیې ته راغلو، کتابونه مو راواخیستل او د امادګۍ پرخوا روان شوو.

مازدیګر مهال شمس ورور راته زنګ وکړ.

«یادیږې مو، یو ځل راشه. کار مو هم درسره دی.»

وارخطا شوم.

«څه شوي؟ خیر خو به وي؟»

ketabton.com - The Digital Library

شمس وویل:

«خیر دی، ته راشه یو ځل.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې بند کړ، خو بیا مې هم زړه طاقت نه کولو.

د لیلیې له انګړ څخه د اطاق پرخوا روان شوم. په زړه کې مې بیا هغه پخوانی نامعلوم احساس راویښ شو؛ هغه احساس چې کله به د شمس له «راشه» سره پیدا کېده، تل به یې تر شا د یوې نوې خبرې سیوری راته ښکاره کاوه.

اکرم ته مې وویل:

«ډېر وخت کېږي، نه یو تللي. یو ځل به ولاړ شو، بیا هم دومره وخت نه دی پاتې. یوه نیمه میاشت وروسته امتحان دی.»

ویې ویل:

«سمه ده، ځو.»

مازیګر ورو، ورو د ماښام پر لور اوښتی. د لمر وړانګې اوږدې شوې وې او د ښار پر ودانیو یې د ژېړ رنګ وروستی پوړ غوړولی و. موږ هم روان شوو او د ماخستن له اذان سره کور ته ورسېدو.

کور ته چې ننوتلو، د ټولو پر څېرو د خوشحالۍ رڼا خپره شوه. داسې احساس مې وکړ لکه زموږ د راتګ سره چې کور یو ځل بیا خپل پخوانی شور پیدا کړی وي. د خویندو خبرې، د شمس خندا او د کور د انګړ عادي خوږ شور ټول راته ډېر اشنا وو.

د شپې تر ناوخته ویښ وو.

شمس راته وویل:

«هلکه، دا خویندې مې نه پرېږدي. وایي واده وکړه.»

پر شوندو مې موسکا خپره شوه. ژر مې وویل:

«دا خو درته ښه وایي.»

ټناء وویل:

«ته ځان ته لار خلاصوې.»

ټولو وخندل.

ومې ویل:

«نه خوري، ځکه نور د ده وخت دی.»

صدف وویل:

«ما ورته یوه انجلی خوښه کړې.»

ومې ویل:

«څوک؟»

ketabton.com - The Digital Library

«د فریشتي خاله لور، ځانګه.»

ومې خندل.

«واه وروره! عجیبه جوړه مو ده.»

صدف په لاس کې نیولی ځادر راته کش کړ او ویې ویل:

«چپ، رذیله!»

ومې ویل:

«ښه وروره، هغه دې خوښه ده کنه؟»

ویې ویل:

«بس، چې ستاسې خوښه وي.»

موسکی شو.

ما کټ، کټ وخندل.

«هسې نشې ویلی، پوهیږم چې خوښه دې ده.»

صدف وویل:

«وروره، څو ورځې دې لا دلته دي؟»

ومې ویل:

دري ورځې وروسته ځم. یوه نیمه میاشت درسونه پاتې دي، وروسته امتحان دی.

صدف وویل:

«که کیږي، سبا خیر، له خاله سره خبرې وکړو.»

ومې ویل:

«البته. سبا سهار به ورته زنګ وکړې. ته اول تړې پوښتنه وکړه چې څه وایي.»

ویې ویل:

«سمه ده، وروره.»

خپلې کوټې ته لاړم.

نیټ مې روښانه کړ او واټساپ ته ولاړم.

د مینې له اظهار وروسته مې جرئت زیات شوی و. ډیوې ته مې مسیج وکړ:

«سلام، ژوند مې.»

ژر یې مسیج راغی:

«سلام، ته دې علیکم السلام! غوړه مالي پرېږده. چېرته وې؟ په انتظار دې اوبه شوم.»

ومې خندل.

ومې لیکل:

«ژوند مې، نن کور ته راغلی یم. د ورور د کوژدې په اړه مو خبرې کولې.»

ketabton.com - The Digital Library

ویې ویل:

«ښه، انو بیا کومه خبره نه ده. څنګه یې، جان مې؟»

د «جان مې» لفظ مې چې ولوست، په ټول وجود کې مې یو خوږ احساس خپور شو؛ داسې لکه د پسرلي لومړۍ ګرمه وړمه چې د اوږدې یخنۍ وروسته د انسان له مخه تېره شي.

ومې ویل:

«مننه، زه ښه یم. دا ووایه، چېرته یې؟»

ویې لیکل:

«خپله کوټه کې.»

ما ځواب ورنه کړ. نیټ مې بند کړ.

په لومړي ځل مې د هغې شمېره ډایله کړه.

زنګ روان شو.

زړه مې په زور، زور درزېده.

د هغې غږ راغی:

«سلام.»

په مینه مې وویل:

«ع، سلام.»

ویې ویل:

«جرئت دې زیات شوی.»

ومې خندل.

«ستا له برکته.»

هغې هم وخندل.

لږه شېبه مو خبرې وکړې او وروسته ویده شوم.

سهار له چای څښلو وروسته مې ټلیفون صدف خور ته ورکړ.

«زنګ وکړه، خاله ته ووایه.»

ویې ویل:

«سمه ده، وروره.»

شمس کرار له ځایه پورته شو. ما د سترګو له کونجونو ورته کتل او موسکی شوم. ځان یې پوه نه کړ او دباندې ووت.

زه هم خپلې کوټې ته ولاړم.

له الماری مې د ویښتانو ټپل او برس راواخیستل. ویښتان مې منظم کړل، بیا د هنداري مخې ته ودرېدم.

خپل ځان ته مې ځیر وکتل.

ketabton.com - The Digital Library

خندا راغله.

له ځان سره مې وویل:

«دومره بد هم نه یې!»

له کوټې ووتلم.

صدف ناسته وه او چای یې څښلو.

ومې ویل:

«زنګ دې وکړ؟»

صدف وویل:

«هو.»

«خاله څه وویل؟»

«ډېره خوشحاله شوه. ویې ویل چې زما خوښه ده، خو پلار ته به یې ووایم چې څه وایي. مابنام ته به درته خبر درکړم.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې تړې واخیست او له کوره دباندې ووتلم.

شمس ورور د دروازې دباندې ولاړ و.

د قصده مې وخندل.

شمس ته مې وویل:

«ان‌شاءالله، کار کېږي.»

وخندل.

«چپ، رذیله!»

زه او شمس ورور د باغ پر خوا روان شوو.

پسرلی و او د باغ کارونه هم ډېر شوي وو. ونې له خوبه راویښې شوې وې؛ پر څانګو یې نوې پاڼې راشنې شوې وې او د لمدې خاوړې بوی د باغ په هوا کې خور و. د مرغانو اوازونه له یوې ونې بلې ته تلل او د باد په نرم حرکت کې د ونو پاڼې داسې ښورېدې لکه د پسرلي په راتګ چې یو بل ته مبارکي وایي.

شمس ورور هم ډېر کارونه لرل.

زه هم ورسره اخته شوم.

ډېر یې راته وویل:

«ته کېنه، دوه ورځې لپاره راغلی یې، اوس دلته هم اخته یې.»

ومې ویل:

«نه وروره، همداسې ښه یم.»

ketabton.com - The Digital Library

غرمه مو ډوډۍ وخوړه او بیا باغ ته ولاړو.

تر ناوخته هماغلته وو.

ما ورور ته وویل:

«راځه، اودسونه وکړو. مابنام به ځان جماعت ته ورسوو.»

ویې ویل:

«سمه ده.»

زه روان شوم چې اودس وکړم.

د فصل په سر کې د غټې ویالي رنې اوبه بهیدې. د اوبو پر مخ د پسرلي د لمر وروستۍ وړانګې لکه وړې سپینې توتې ښکارېدې. د توت د ونې تر څنګ د ویالي پر غاړه کېناستم.

اوبه یخې وې.

لاسونه مې ور دننه کړل او اودس مې وکړ. د اوبو یخوالي مې سترېا راویښه کړه او د ورځې د کار ټولې درنې شېبې یې رانه لرې سپکې کړې.

شمس هم راپورته شو.

لږه شېبه وروسته دواړه د جماعت پرخوا روان شوو.

جماعت مو کور ته نږدې و.

له شمس مې بیلچه واخیسته.

«زه دا کور ته وړم، درځم.»

ویې ویل:

«سمه ده.»

دواړه بیلچې مې یو ځای پر اوږه واړولې او د کور پر طرف روان شوم.

له دروازې چې ننوتلم، نږدې دیوال ته مې بیلچې ودرولې.

ثناء له څاه څخه اوبه راایستلې.

«چېرته ځې، وروره؟»

ومې ویل:

«جماعت.»

څه یې ونه ویل.

زه هم د جماعت پرخوا روان شوم.

له لمانځه وروسته زه او اکرم یو ځای روان شوو.

اکرم وویل:

«څنګه ده؟ مینه دې لانجې خو نه کوي؟»

ومې خندل.

ketabton.com - The Digital Library

«نه یاره.»

لږه شېبه ولاړ وو، وروسته د کور پرخوا روان شو.

کور ته چې ننوتلم، صدف د برنډې په څنډه ناسته وه او لوښي يې مینځل.

ومې ویل:

«خوري، د خاله د دوی حال معلوم نشو؟»

ویې ویل:

«تراوسه خو نه.»

کوټې ته ننوتلم.

شمس په ټلیفون کې اخته و. ورغلم، څنګ ته يې کېناستم.

ومې ویل:

«وروره، کارونه څنګه دي؟ ستړی کړی خو به يې نه؟»

ویې ویل:

«نه وروره، اوس ورسره عادت یم.»

ومې ویل:

«ځه، شکر.»

شمس وویل:

«ستا درسونه څنګه دي؟»

ومې ویل:

«ښه دي، وروره. بس ورسره اخته یو.»

ویې ویل:

«افرین. درسونه دې وایه، درسونه ووایه چې ناکام نشې.»

ومې ویل:

«سمه ده، وروره.»

هماغه شېبه مې ټلیفون په جیب کې ولړزېد او غږ يې پورته شو.

د ټلیفون غټ سکرین ته مې وکتل.

د نوم پر ځای یو سور زړه و.

زړه مې هم ورسره وخندل.

سمدستي خوشحاله شوم او له کوټې ووتلم.

زنګ مې پورته کړ.

د ډیوې له نازه ډک غږ راغی:

«سلام، ژوند مې.»

ketabton.com - The Digital Library

«مننه، جان مي.»

«ورځ دې څنګه وه؟»

«ښه وه، مننه.»

«اوس در په یاد شوم؟»

«آها! ته باید زما پوښتنه وکړي.»

ومې ویل:

«ولې؟»

«ځکه که ته یې وکړې، اسمان خو نه را نړیږي!»

وخندل.

«زه نازولي یم.»

ومې ویل:

«هو، هو،مور اوبو راوړي یو؟»

ژر یې وویل:

«الله دې نکړي! داسې خبرې مه کوه.»

ومې خندل.

«زه ځکه درته زنګ نه شم کولی، وایم څوک به درسره وي، داسې نه مشکل درته جوړ شي.»

«پوهیږم، هسې ټوکې کوم.»

ویې ویل:

«زه چې یوازې شم، بیا درته خپله زنګ وهم.»

ومې ویل:

«سمه ده. اوس څه کوې؟»

ویې ویل:

«هیڅ. په اواز پسې دې خفه شوې وم.»

ومې خندل.

«درواغ وایې.»

«ولې درواغ وایم؟ ته نه پوهیږې، ته راباندې څومره ګران یې.»

ومې خندل.

«ولې؟»

«زه خپله په دې نه پوهیږم.»

ما ورته وویل:

«په ما هم ډېره ګرانه یې.»

ketabton.com - The Digital Library

ویې ویل:

«ولې؟»

ومې خندل.

«ځکه چې ډېره بدرنګه یې.»

«اممم...»

بیا یې وویل:

«ته خو غلی شه! تر تا اوس هم شایسته یم.»

کټ، کټ مې وخندل.

ومې ویل:

«ټوکې کوم، ته خو غوسه شوې. د چا چې غږ دومره ښکلی وي، د حسن به یې څه وایم؟»

وخندل.

«زغله، درواغجنه!»

ومې ویل:

«قسم، درواغ نه وایم.»

په ټیټ غږ یې وویل:

«ډېر راته ګران یې.»

زړه مې یو ځل بیا په زور درزېدو پیل کړل.

«ماته هم... لیونی مې.»

یوازې ستا لیونی.

لږه شېبه غلې وه.

بیا یې وویل:

«ښه، سمه ده، جان مې. هله، اوس ټلیفون پرې کوم.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې بند کړ.

مخ مې راوګرځاوه.

شاته مې ثناء ولاړه وه.

په حیرانۍ یې راته کتل.

رنګ مې ژیړ واوښت.

«ته څ... څ... څه وخت راغلې؟»

له خندا یې غاړه هسکه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

«له هغه وخته چې تا ویل: د چا چې غږ دومره ښکلی وي، د حسن به یې څه ووایم!»

له شرمه مې پورته نشو کتل.

که څه هم ثناء له ما کشره وه، خو ډېر تري شرمېدم.

وویل:

زه ځم، شمس ورور ته وایم.

په خوله کې مې لاړې وچې شوې.

د هغې لاس مې ټینګ ونیو او زارۍ مې ورته شروع کړې.

هغې له خندا شنه وه.

«انو، په بدل کې یې څه راکوې؟»

ژر مې وویل:

«څه غواړې؟»

«ماته به اختر ته ښایسته، ګران کالي اخلې.»

اوږد اسویلی مې وکړ.

«ومې ویل: قران درته اخلم.»

هغې خوله پټه ونیوله او په خندا، خندا د کوټې پرخوا روانه شوه.

ما هم اوږد اسویلی وکړ.

«شکر، خدایه!»

صدف غږ راکړ:

«وروره، راځه، ډوډۍ تیاره ده.»

کوټې ته ننوتلم.

ثناء راته مخامخ ناسته وه او خندل یې.

ما سر ښکته اچولی و.

شمس وویل:

«جلی، څه خبره ده؟»

ثناء وویل:

«هغه، وروره، اظهار په برنډه ولاړ وو...»

له لاسه مې ګوله وغورځېده.

رنګ مې ژیړ واوښت.

ثناء ژر وویل:

«ما وربانديې ناڅاپه ناره کړه، لږ پاتې وو له برنډې وغورځې.»

لږ ارام شوم.

ketabton.com - The Digital Library

ثناء راته وکتل او کټ، کټ يې وخندل.

شمس وویل:

«دسترخوان هوار دی، څه کوئ؟ لیونی شوي یاست؟»

سترګې مې ورته برګې کړې.

ثناء موسکی وه او سترګې يې پوره کش کړې؛ داسې ښکارېده لکه په ټوله نړۍ کې چې تر ټولو بېګناه انسانه وي او په دې ټوکه کې يې هېڅ برخه نه وي اخیستي.

دسترخوان چې ټول شو، لا مو د ورځې د خبرو تودوخه نه وه ختمه شوې چې لږه شېبه وروسته مې ټلیفون ته زنګ راغی. سکرین ته مې وکتل؛ د خاله شمېره وه.

ټلیفون مې صدف ته ونیو.

صدف وپوښتل:

«څوک دی؟»

شمس ته مې وکتل او موسکی شوم.

«خاله ده.»

شمس سترګې راته برګې کړې؛ داسې يې راته وکتل لکه زما له موسکا چې يې د ټولې خبرې مطلب لوستی وي.

صدف ټلیفون واخیست او دباندې ووتله. ثناء هم ورپسې په منډه ووته.

شمس راته کتل.

ما ورته وخندل.

ویې ویل:

«لیونیه، لږ سړی شه.»

خوله ته مې لاس ونیو. ده ته هم خندا ورغله.

ژر يې وویل:

«ګیلاس راډک کړه.»

«سمه ده، وروره.»

له شنه چای مې ګیلاس ډک کړ او مخې ته مې کېښود، بیا لږ شاته شوم.

لږه شېبه وروسته صدف او ثناء راغلې.

صدف لا د دروازې له خولې نه وه اوښتې چې په خوشحالۍ يې وویل:

«خاله میړه ویلي چې را دې شي!»

زړه مې له خوشحالۍ داسې سپک شو لکه د اوږدې مودې وروسته چې له سینې مې یوه درنه تیږه پورته شوې وي.

شمس ته مې وویل:

«زه دلته یم. سبا نه، بل سبا ځم. باید زه همدلته اوسم، کار خلاص شي.»

ketabton.com - The Digital Library

صدف وویل:

«هو، وروره.»

شمس ته مې مخ واړاوه:

«وروره، کاکا ته زنګ وکړه چې سبا زه او کاکا ورشو.»

شمس وویل:

«زه په کې کار نه لرم.»

ومې خندل.

ټلیفون مې راواخیست او د کاکا په نوم ثبت شوې شمېره مې ډایله کړه.

له سلام او کلام وروسته مې ټوله کیسه ورته وکړه.

په خوشحالۍ یې وویل:

«دا خو ښه خبره ده. سهار وختي مورږ ټول درځو، بیا به له نږدې خبرې وکړو او ور به شو.»

«سمه ده.»

ټلیفون مې پرې کړ.

له ځان سره مې وویل:

«دا کار هم وشو.»

شمس وویل:

«راځه، جماعت ته.»

زه هم ورسره روان شوم.

لمونځ مو ادا کړ او یو ځای ښپرته کور ته راغلو. زه نېغ خپلې کوټې ته ننوتلم. د ورځې ستړیا او د زړه د خوشحالۍ ګډ احساس دومره دروند و چې سترګې مې خپله پټېدې.

لږه شېبه وروسته ویده شوم.

لا لمر د غره له شا نه راوتلی نه و چې د کاکا کورنۍ مو راورسېده. ټول راغلي وو. د سهار یخې هوا لا په انګړ کې پرته وه، خو د کور دننه د خلکو د خبرو او راتګ له شور څخه داسې ښکارېده لکه ورځ له وخته راویښه شوې وي.

ټولو یو ځای چای وڅښه.

کاکا مې شمس ته مخ واړاوه:

«څنګه ورسره وکړو؟ ته څه وایې؟ د مهر او همدارنګه د نورو خبرو په اړه؟»

شمس په درناوي وویل:

«کاکا، ته له ما مشر یې. په هر څه کې له ما ښه پوهیږې. هر څنګه چې دې وکړل، زما خوښه ده.»

د کاکا سترګې له خوشحالۍ وځلېدې. په موسکا یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«سمه ده، زویه.»

بیا یې ماته مخ راواړاوه:

«ځو؟»

ومې ویل:

«ځو، لخیره! زه لږ ځان برابر کړم.»

ټول ناست وو.

ثناء په خندا راته وویل:

«د چا لپاره؟»

په غوسه مې ورته وکتل.

ټولو وخندل.

صدف وویل:

«ته راځه، زه درپسې یم. تاسره زما کار دی.»

ثناء ته مې وکتل. سترګې یې غټې کړې وې.

هماغه شېبه پوه شوم چې د ټبرې شپې ټوله کیسه یې صدف ته رسولې ده.

خپلې کوټې ته ولاړم.

جامې مې واغوستې، ځان مې برابر کړ. لا مې د کمیس تنۍ تړلې نه وې چې صدف کوټې ته راننوته.

له شرمه مې سر ښکته نیولی و. د سترګو له کونجونو مې ورو ورته وکتل.

زما په طرف یې په غوسه کتل.

له هر څه نه ورور خبر دی؟

له څه نه؟

«ځان راته ببوزله مرغۍ مه جوړوه! ښه پوهیږې چې څه وایم.»

ورو مې وویل:

«نه، خوږې.»

صدف وویل:

«ګوره ورورە، دا کارونه مه کوه.»

نصیحت یې راته وکړ.

ما هم په پرله‌پسې ډول وویل:

«سمه ده، سمه ده.»

خو په زړه کې مې له ځان سره ویل: له ډیوې پرته به مې زړه بلې خوا ته کېدله؟

البته دا خبره مې صدف ته نشوه ویلی.

ثناء ته مې هم په زړه کې غوسه راتله.

ketabton.com - The Digital Library

له ځان سره مې وویل:

«خیر، زه به درسره ګورم.»

صدف ووتله او زه هم ورپسې ووتلم.

له دروازې چې ووتلو، کاکا مې خپل موټر راوستی و.

زه او کاکا موټر ته پورته شوو.

له شاوخوا شلو دقیقو مزل وروسته د خاله کور ته ورسېدو.

حجرې ته مو لار پیدا کړه.

چای یې راوړ. د کورنۍ له خوا دومره تود هرکلی وشو چې د پردیتوب احساس پکې نه پاتې کېده. له چای څښلو وروسته مې کاکا ته اشاره وکړه.

کاکا خبرې پیل کړې.

نږدې نیم ساعت یې خبرې وکړې. د هرې خبرې تر منځ به کله سکوت راغی، کله به د هوکړې نښه په سرونو کې ښکاړېده.

په پای کې سره جوړ شول.

لنډه دعا وشوه.

کاکا وویل:

«غټ دسمال ته به بیا راشو. اوس یو کوچنی دسمال راکړئ.»

د خاله میړه له ځایه پورته شو.

«سمه ده.»

لږ وروسته راغی.

لومړی یې کاکا ته مبارکي ورکړه، بیا یې ماته مخ راواړاوه.

زه له خوشحالۍ په جامو کې نه ځایېدم.

په زړه کې مې د یوې خوږې هیلې ځای نیولی و؛ که صدف له کوره ولاړه شي، نو یوه داسې ورنداره به ولرو چې له ثناء سره به یو ځای وي، کور به لا راته خپل ښکاري.

کاکا ته مې هم غږ ورکړه.

«کاکا، انګور دې مبارک شه!»

په خندا یې وویل:

«تاته هم، زویه.»

په کوټه کې زه او کاکا ناست وو. ټلیفون مې په کور کې پاتې و. صدف ویلي وو چې بیا به ماته احوال راکړي.

شمس ورور هم باغ ته تللی و.

کاکا ته مې وویل:

«یو ځل خو دې ټلیفون راکړه.»

ketabton.com - The Digital Library

«واخله، زویه.»

ژر مې خپلې شمپرې ته زنګ وکړ.

صدف ټلیفون پورته کړ.

وار له واره یې وویل:

«څنګه شو؟»

ومې ویل:

«مبارک دې وي! اوس درځو.»

له هغې خوا د ټولو د خوشحالۍ چیغې شوې.

زما زړه هم له خوشحالۍ ډک و.

د خاله میړه راغی او شاته یې مشر زوی هم ورپسې و.

په لاس کې یې پټنوس و.

د خاله زوی راته وویل:

«اظهاره، ودرپرې.»

زه هم ودرپدم.

یو ښکلی دسمال یې راوایست. په څلورو کونجونو کې یې ځوندي ځوړند وو او په منځ کې یې په مریو پټه شوې هنداره ځلپده.

ویې ویل:

«شا راواړه.»

ما شاته ور وګرځوله.

دسمال یې زما پر اوږه راواچاوه. یوه سر یې په یوه اوږه وتاړه او بل یې په بله خوا برابر کړ.

خدای پاماني مو وکړه او موټر ته پورته شوو.

کاکا مې هم ډېر خوشحاله و.

لږ وروسته موټر له لویې لارې د کلي پر خوا واوښت.

د کلي هوا لا له لرې بدله ښکارپده؛ د خاورې بوی، د ونو سیوري او د کورونو تر منځ تنګې لارې هغه احساس راکوه چې ښار یې هېڅکله نه شو راکولی.

د کلي د ښکته کوڅې له سر څخه چې تېرپدو، له لرې مې پر خپل کور سترګې ولګپدې.

کوڅه له خلکو ډکه وه.

زړه مې لا نور هم درزا پیل کړه.

موټر د دروازې څنګ ته ودرپد.

زه او کاکا تري راکښته شوو.

ketabton.com - The Digital Library

خلکو راته مبارکي راکوله. له کوره د سندرو غږونه پورته کېدل. د کور دروازه او انګړ داسي ښکارېدل لکه ټول کلی چې د یوې ورځې لپاره زمونږ په کور کې راټول شوی وي.

اکرم هم راورسېد.

غږ یې راکړه او مبارکي یې راکړه.

په لاس کې یې دوه غټې زرینې پټکی وې. اور یې ورکړ.

په فضا کې یې درز، دروز جوړ کړ.

له کوڅې د ماشومانو او ځوانانو چیغې پورته شوې.

ما اکرم ته وویل:

«ملمانه حجرې ته راوله. هر څه به کور تیاروي، نور خپله پوهیږې.»

ویې ویل:

«هله، ته ورځه. دوی ماته پریږده.»

زه هم کور ته ننوتلم.

کور له ښځو ډک و.

یوه شېبه حیران پاتې شوم.

له ځان سره مې وخندل:

«په دې دومره لږ وخت کې دومره ښځې له کومه شوې؟»

د شمس هغه خبره مې را په یاد شوه:

«د ښځو استخبارات ډېر قوي دي.»

په زړه کې مې وویل:

«ربښتیا هم، نن مې په خپلو سترګو ولیدل.»

هر لوري ته شور و. چا شیریني وېشله، چا چنې او چا چاکلېټونه شیندل. کوچنیان مې په پښو کې راټول وو او هر یو هڅه کوله چې ځان راته نږدې کړي.

صدف او ثناء په خوشحالۍ زما څنګ ته راغلې.

دواړو په سترګو کې اوښکې وې.

مبارکي یې راکړه.

ما هم مبارکي ورکړه.

خو په همدې شېبه کې د مور او پلار کمی مې په زړه کې یو ځل بیا په زور احساس کړ.

زړه مې بدې څړیکې وکړې.

له ځان سره مې وویل:

«کاشکې راسره وای... کاشکې یې دا ورځ په خپلو سترګو لیدلې وای.»

د خوښۍ په منځ کې یوه نرۍ تشه راته پیدا شوه؛ داسې تشه چې د خلکو په دومره شور کې هم یوازې ما اورېدله.

ketabton.com - The Digital Library

صدف او ثناء د کور پر خوا کش کړم.

ومې ویل:

«زه نه ځم! څومره ښځې دي، شرمیږم.»

دسمال مې له اوږې خلاصول غوښتل، خو هغوی نه پریښودم.

په زور یې کش کړ.

دسمال سره یو ځای برندې ته ولاړم.

له شرمه مې پورته نه کتل.

له کوره د سندرو غږونه لا هم راتلل.

لږه شېبه وروسته مې دسمال له اوږې ښکته کړ او له صدف مې ټلیفون واخیست.

د حجرې مخې ته ودرېدم.

شمس ته مې زنګ وکړ:

«چېرته ورک یې، وروره؟ کورته راشه.»

ویې ویل:

«پریږده چې مېلمانه لاړ شي.»

ومې ویل:

«تاته راغلي دي، بد کار دی. ژر کوه.»

«دادی، درغلم.»

لږ وروسته شمس هم کورته راغی.

بیا شورماشور جوړ شو.

ما ورته مبارکي ورکړه او هغه هم له ټولو سره مبارکي وکړه.

غرمه مېلمانه کمېدل، خو خپلوان لا هم وو.

ورو، ورو مې د ورځې ستړیا پر وجود درنه شوه.

په حجره کې اوږد وغځېدم.

څوک نه وو.

ځان ته مې چای واچاوه.

هماغه وخت ټلیفون راغی.

ډیوه وه.

سلام او کلام مو وکړ.

ورته مې وویل:

«کوژده مو وکړه.»

په شوخۍ وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«اوس نو ستا مخه خلاصه شوه.»

ومې ویل:

«هو، اوس سره مساوي شوو.»

وخندل.

بیا یې په نرم غږ وویل:

«غم مه کوه. الله مهربانه دی. یوه ورځ به زما او ستا هم کوژده وي.»

ومې ویل:

«زه له تورو مخیو سره واده نه کوم.»

په مینه یې وویل:

«هر څنګه چې یم، ستا یم.»

د دې خبرې خوږوالی مې په زړه کې داسې خپور شو چې د ورځې ټول شور مې له ذهنه ووت.

ومې خندل.

«اوف، څومره خوږ احساس!»

هماغه وخت صدف راننوتله.

«شمس ته زنګ وکړه. له مېلمنو سره دباندې وتلی دی، ورته ووایه چې ډوډۍ ته راشي.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

ډیوې ته مې ژر وویل:

«هله، ژوند مې، اوس خدای پامان.»

«سمه ده، جان مې.»

ټلیفون مې بند کړ.

شمس ته مې زنګ وکړ:

«وروره، راځئ، ډوډۍ تیاره ده.»

«سمه ده، درځو.»

اکرم ته مې زنګ وکړ:

چېرته یې؟

«کور.»

«راځه.»

«، که ډوډۍ ته مې را غواړې او که کار راباندې کوې، درځم.»

ومې خندل.

«دواړه.»

ketabton.com - The Digital Library

«سمه ده، درغلم.»

له حجري مې ګیلاسونه او شیان ټول کړل.

اکرم هم راورسېد.

ورته مې وویل:

«مېلمانه اوس راځي. زه دا شیان وړم. بس د حجري کار تا ته پاتې، نور شیان زه خپله راوړم.»

«سمه ده، ورځه.»

لږ وروسته مېلمانه هم راغلل.

په دالان کې صدف، د کاکا ښځه او لور یې وې. ډوډۍ همدوی تیاروله او ما تر کوټې رسوله. هلته اکرم ولاړ و. د ورځې ټول کارونه ورو، ورو پای ته ورسېدل.

لږ خپلوان لا هم شپې ته پاتې وو.

مابنام مې ډوډۍ وخوړه.

له لمانځه وروسته مې ډیوي ته زنګ وکړ. پوهېدم چې په خپله کوټه کې یوازې ده، نو تر ډېره مو خبرې وکړې.

هغې وویل:

«سبا به ځې کابل ته. ستړی به یې، بیده شه، بیا به خبرې کوو.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

کوټې ته ننوتلم.

صدف ته مې وویل:

«خورې، کالي مې راته برابر کړي؟ سبا ځم.»

«سمه ده.»

په کور کې نارینه مېلمانه نه وو؛ یوازې ښځې پاتې وې. شمس ورور هم ځوانانو بنډار ته بیولی و.

حجره تشه وه.

ثناء ته مې وویل:

«حجره کې دوه ځایونه برابر کړه.»

«شمس ورور نه راځي.»

«اکرم راغواړم.»

«سمه ده.»

روانه شوه.

اکرم ته مې زنګ وکړ:

«چېرته یې؟»

ketabton.com - The Digital Library

«دادي، چای څښم.»

«راځه حجرې ته، یوازې یم. دلته به ویده شې.»

ویې خندل.

«لکچي له کوره یې پسې را اخیستی؟»

ومې خندل.

«همداسې یې وبوله.»

«سمه ده، درځم. دروازه خلاصه کړه.»

روان شوم.

دروازې ته ورسېدم او کرار مې خلاصه کړه.

اکرم هم په کوڅه کې منډې راوهلې.

ومې ویل:

«کرار، لکچي! ډارپېږي.»

ویې ویل:

«زه داسې څوک نه یم چې وډار شم. زه داسې څوک یم چې نور خلک زما څخه ډارپېږي.»

ومې ویل:

«رامعلومه ده، هسې غټې، غټې خبرې کوې.»

وخندل.

دروازه مې بنده کړه او حجرې ته ننوتلم.

ځایونه برابر وو او چای هم ایښودل شوی و.

اکرم وویل:

«ما خو وڅښلو.»

ومې ویل:

«راځه، د خوب لپاره مې نه یې راوستی.»

وخندل.

تر ناوخته ویښ وو.

سهار لا هوا خړه وه چې د شمس غږ مې واورېد:

«هله پاڅئ، درباندې ناوخته کېږي.»

د اکرم ورو غږ مې واورېد:

«شمسه، سخت خوب راځي. څه کېږي چې نن ولاړ نه شو؟»

شمس وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«نه کېږي. لږ وروسته موټر راځي.»

له خوبه پورته شوم.

اکرم هم په بیړه تیار شو.

«وروسته به سره ګورو.»

په منډه له حجري ووتلو.

اودس او لمونځ مې وکړ.

شمس ورور راته پیسې راکړې.

«کېدای شي د غټ دسمال مراسم ژر شي، بیا به راشي.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

اوس نو د کابل تګ راته دومره دروند نه و. زړه مې د کور له خوږ شور، د کوڑدې له خوشحالۍ او د راتلونکو ورځو له تصور څخه ډک و.

صدف کوتې ته راغله، چای یې راوړل.

ورپسې ثناء هم راننوته.

زما د کالو خلته یې په لاس کې وه.

چای مې وڅښله.

له دوی مې خدای پاماني واخیسته.

اکرم ته مې هم زنګ وکړ.

زه او شمس ورور یو ځای له دروازې ووتلو.

لږ وروسته موټر راغی.

زه او اکرم یو ځای موټر ته پورته شوو.

موټر چې روان شو، شاته مې خپل کور ته وکتل.

د کور دېوالونه ورو، ورو له سترګو لرې کېدل، خو د هغې ورځې شور لا هم زما په غوږونو کې و.

له دې وروسته هر ځای چې به تللو، خبرې به مو له امتحان پرته پر بل څه نه کېدې.

کله به مې چې د امتحان خبره واورېدله، په زړه کې به مې یوه نااشنا وېره را وټوکېده.

نه پوهېدم چې دا وېره د ناکامۍ وه، که د هغه راتلونکي بار چې ټولې هیلې مې ورسره ټړلې وې.

پنځلسمه ورځ شمس ورور راته زنګ وکړ.

ویې ویل:

«ستا په خاطر مو د غټ دسمال پروګرام سبا، جمعې ورځې ته کړی.»

ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

«سمه ده، مازیګر درځم.»

د پنجشنبې په مازیګر زمونږ د انګلیسي کورس هم رخصت و.

اکرم ته مې وویل:

«مازیګر ځو.»

ویې ویل:

«مخکې خو به تر یوې نیمې میاشتې مخکې نه تللو، دا ځل خو مو ایله دوه اونۍ کېږي.»

ورته مې وویل:

«کیسه دا ډول ده.»

ویې ویل:

«یاره، ته ولاړ شه. زه تر امتحانه نه ځم.»

ومې ویل:

«نه کېږي، چې ته نه یې خوند نه کوي.»

وخندل.

«له زړه وایې؟»

ورته مې وکتل.

«ته خپله ووایه، زه دروغ وایم؟»

وخندل.

په غېږ کې یې ونیوم.

«نه، هسې ټوکې کوم. سمه ده، مازیګر ځو.»

زړه مې خوشحال و.

اکرم د اطاق پرخوا روان شو او زه د لیلیې په انګړ کې د صبر تر وني لاندې کېناستم.

د وني پاڼې د باد له لاسه ورو، ورو ښورېدې. د تلونکي ماسپښین رڼا د انګړ پر خاوره اوږده سیوري غوړولي وو.

ډیوي ته مې زنګ وکړ.

ټلیفون یې پورته نه کړ.

پوه شوم چې څوک ورسره دی.

بل زنګ مې ورته ونه کړ.

څو شېبې وروسته یې خپله زنګ وکړ.

پورته مې کړ.

«سلام.»

په نازک غږ یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«وعلیکم السلام. وبخښه، کورنۍ سره وم.»

«کومه خبره نه ده.»

پوه شوم.

ومې ویل:

«وګوره، لیدلو ته دې بیخي بېقراره یم. نور نو نه کېږي.»

وخندل.

«ربښتیا راځې؟»

ومې خندل.

«لیونۍ، نه کېږي.»

په غمجن غږ یې وویل:

«څه وخت به ستا له خولې واورم چې کېږي؟»

ومې ویل:

«وګوره لیونۍ، ښه پوهېږې چې زه له تا ډېر ستا لیدلو ته بېقراره یم. ته خوښه یې، زما دا بدرنګه څېره دې خو په عکس کې لیدلې، مګر تا خو راته عکس هم نه دی لېږلی.»

ویې ویل:

«نه کېږي. ترڅو چې مې خپله ونه ګورې، دا ارمان به دې پوره نه شي.»

ومې خندل.

سمه ده.

بیا مې د سبا ورځې په اړه ورته وویل.

زموږ د رواجونو خبره ورته هیره نه وه. هر وخت به یې ویل:

«کاشکې زه هم هلته وای.»

ومې ویل:

«سبا راشه.»

وخندل.

«دومره درته ټوکې ښکاري؟»

«پوهېږم.»

ومې ویل:

«ما ویل هسې نه بیا شوندې بوڅې نیولې وې چې غوښتلی به دې وم.»

وخندل.

«وو، نو که دې راته نه وای ویلې، یوه اونۍ خبرې نه کول یې سزا وه.»

ومې خندل.

ketabton.com - The Digital Library

«هو، زه خو پوهیږم چې همداسې یې.»

«الله ج هم ټول لیوني زما پر غاړه کړي.»

په کټ، کټ یې وخندل.

«ته هم نیم لیونی یې.»

«غم مه کوه، کله چې سره یو ځای شو، بیا به بشپړ لیوني شو.»

ومې خندل.

«قبوله مې، ډیوه.»

«زما هم دخدای پامان.»

«خدای پامان، ژوند مې.»

زما او د ډیوې خبرې یوه شپه، بله شپه کېدلې.

کله به مې چې صبر نه شو، هر وخت به چې فرصت پیدا شو، زنګ به مې ورته وکړ.

هغې به په خندا راته ویل:

«ته لیونی شوی یې، جرئت دې ورځ په ورځ زیاتیږي.»

ما به ورته یوازې خندل.

ځکه ځینې خبرې داسې وې چې په خندا کې یې ویل تر هرې اوږدې جملې ډېر څه بیانول.

مازیګر لمونځونه مو په لیلیه کې وکړل او وروسته د کلي پر خوا روان شوو.

د مابنام سیوري لا اوږده شوي وو چې کور ته ورسېدو. هغوی هم لا ډوډۍ نه وه خوړلې. څو لرې خپلوان راغلي وو او حجره یې له خبرو او خندا ډکه کړې وه.

سیده حجرې ته ننوتلم.

د خاله زامن او د کاکا زامن ناست وو او بنډار یې ګرم کړی و.

احمد، زما د خاله زوی، چې پر ما یې سترګې ولګېدې، په خوشحالۍ یې وویل:

«اوه، وګورئ څوک راغلل!»

ټولو راته راوکتل.

مخکې شوم.

لومړی مې شمس ورور ته غېږ ورکړه.

هغه شېبه چې د ورور په غېږ کې شوم، د زړه په کومه تیاره برخه کې مې د پلار د غېږې هغه پخوانی سکون راویښ شو؛ هغه سکون چې کلونه مې له لاسه ورکړی و.

تر هغه وخته مې هېڅکله له شمس سره داسې احساس نه و کړی چې ګوندې زه بې پلاره یم.

شمس راته وویل:

«پخیر راغلی، زما کوچنیه.»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل:

«مننه، وروره.»

بیا مې له ټولو سره په وار ستړي مشي وکړل.

ټولو ویل:

«بیخي دې بدلون کړی! شکل، عمر، ستایل... بیخي د کابلیانو په شان شوی یې. موږ ته خو هیڅ وخت نه راکوې.»

ومې خندل.

«نه، داسې نه ده. شمس ورور ته معلومه ده، ټول ژمي کې دوه ځله راغلی یم، هغه هم دوه ورځې دلته وم. وخت نه پیدا کېږي.»

رښتیا هم په دې دریو میاشتو کې ډېر بدل شوی وم. د کلي هغه ساده ځوان چې له کوڅو، ونو او ویالو سره به یې د ورځې نیمایي تېروله، اوس یې په خبرو، جامو او حتی په ناستې ولاړې کې د ښار رنګ لږ، لږ نیولی و.

ومی ویل:

«زه به یو ځل کور ته لاړ شم، هسې نه هم ټوله شپه همدلته یو.»

ټولو وخندل.

«سمه ده، ولاړ شه.»

له حجرې ووتلم.

له سرای څخه مې سترګې پر برنډه ولګېدې. یوه ډله ښځې ناستې وې.

پخوا به مې له ښځو دومره شرم کاوه چې حتی د هغوی د ناستې له ځایه به مې لار بدلوله، خو د کابل ژوند، د ډیوې پېژندګلوي او د تېرو میاشتو بدلونونو داسې جرئت راکړی و چې پخوانی اظهار نور په ما کې چندان نه پاتې کېده.

یو څو قدمه مې واخیستل، خو ناڅاپه مې له ځان سره وویل:

«هسې نه کومه نابلده ښځه وي.»

له برنډې مې عمه غږ کړ:

«راځه زویه، څوک نشته.»

له زینو پورته شوم.

عمه مې په دواړو مخه ښکل کړم.

ویې ویل:

«ماشاءالله! عمه دې درنه جار شي، ځوان شوی یې.»

د عمه دوه لونې هم هلته وې. له هغوی سره مې ستړي مشي وکړ او پوښتنه مې تري وکړه.

وروسته د دالان پر خوا ولاړم او د دروازې له مخې ښېرته را وګرځېدم.

له برنډې خاله راباندې غږ وکړ:

«ورشه زویه، څوک نشته. نازیه ده.»

ketabton.com - The Digital Library

نازیه...

زما د خاله لور.

ټولو زما پر لور راوکتل.

هغوی د ډوډۍ په تیارولو بوخت وو. صدف او ثناء په خوشحالۍ راباندې غږ وکړ:

«وروره، پخیر راورسېدلې!»

«مننه.»

ستړي مشي مې ورسره وکړ.

نازیه مې ډېر وخت نه وه لیدلې.

اوس پیغله شوې وه.

لاس مې ور اوږد کړ.

هغې سترګې راباندې نیولې وې او د مخ پیکۍ یې د باد په نرمه څپه پر تندي ښورېده.

یوه شېبه مې ورته وکتل، بیا مې ژر سترګې تړې واړولې.

له دباندې ووتم.

زړه مې بې اختیاره د ډیوې خبرې را په یادې کړې.

له ځان سره مې وخندل.

«که دا خبره یې اوریدلی وای، بیا به یې راته قیامت جوړ کړی وو.»

مېلمنو ته تیاری نیول شوی و.

اکرم ته مې زنګ وکړ:

«راځه، ډوډۍ ته.»

ویې ویل:

«ډوډۍ زموږ کره هم شته.»

ومې خندل.

«راځه هله، هسې مې اعصاب مه خرابوه.»

«سمه ده، درځم.»

حجرې ته چې ننوتلم، شمس وویل:

«اظهاره، ډوډۍ تیاره وه.»

ومې ویل:

«په تیارېدو وه.»

شمس ورور د خاله له مېړه سره د کوټې په پای کې ناست و. دوه د کاکا زامن او دوه د خاله زامن د کوټې په سر کې ناست وو او بنډار یې ګرم کړی و.

ketabton.com - The Digital Library

په منځ کې یې راته ځای جوړ کړ.

«راشه، دلته کښنه، کیسې وکړه.»

ومې خندل.

«کیسې نشته، له تاسو یې اورم.»

ټولو وخندل.

احمد وویل:

«له کابله ته راغلی یې، کیسې له موږ اوري؟»

احمد زما ډېر ټینګ ملګری و، خو څه موده مو سره لیدلي نه وو.

ویې ویل:

«هلکه، ډېر مغرور شوی یې.»

ومې خندل.

«دا څه وایې؟ داسې کومه خبره نه ده.»

«نه ولا، اوس موږ ته دومره وخت نه راکوې.»

د حجرې دروازه خلاصه شوه.

اکرم په خوشحاله خوله راننوت.

ټولو ور وکتل.

د کاکا زوی وویل:

«زموږ اظهار دی، دې ته ډېر وخت ورکوي.»

ومې ویل:

«هلکه، هله راځه.»

اکرم له ټولو سره ستړي مشي وکړل او وروسته زما څنګ ته کښناست.

له ټولو سره یې پوښتنه وکړه.

احمد په خندا ورته وویل:

«دا زموږ د خاله زوی تا له موږه لرې کړی.»

اکرم وخندل.

«نه یاره، بس دا ډېر راباندې ګران دی، ځکه نه شم تړې لرې کېدلی.»

دوی بیا وخندل.

زه هم پورته شوم.

«زه به د ډوډۍ ترتیب وکړم، اوس به تیاره وي.»

ډوډۍ مو وخوړه.

ketabton.com - The Digital Library

د شپې تر ناوخته ویښ وو.

د غټ دسمال مراسم هم په سبا ښه په شوق او خوشحالۍ تېر شول. ډېر خپلوان راغلي وو. له سهاره تر ماښامه پورې به یو کس راتلو او بل به تلو؛ حجره، انګړ او د کور لارې ټولې د خلکو په تګ راتګ ګرمې وې.

زه هم ډېر ستړی شوم.

ماښام مې له اکرم سره خبرې وکړې.

«سبا ځو. هسې درسونه تېرېږي.»

هغه هم ومنله.

ماخستن مې شمس ته هم وویل.

هغه هم راسره ومنله.

ساعت ته مې وکتل؛ لس بجې وې.

پوه شوم چې ډیوه به اوس یوازې وي.

نور راته مسیج کول خوند نه راکاوه؛ غوښتل مې غږ یې واورم. د هغې غږ به چې نه و، ورځ به مې نیمګړې ښکارېده.

خپلې کوټې ته ولاړم او ډیوې ته مې زنګ وکړ.

لږ ځنډ وروسته یې ټلیفون پورته کړ.

«سلام، جان مې.»

«وعلیکم السلام، ژوند مې. څنګه یې؟ ورځ دې ښه وه؟»

«مننه. ستا څنګه وه؟»

«ښه وه.»

«مراسم پخیر تېر شول؟»

«هو، مننه.»

لږه شېبه غلې وه.

بیا یې وویل:

«نن مې ډېر یادېږې.»

ومې خندل.

«ربښتیا؟»

«هو، باور وکړه.»

«یو ځل دې وګورم، د دې ټول انتظار سزا درته کوم.»

ژر یې وویل:

«په خپله دې پر ځان کړی. څو ځله مې درته ویلي چې راشه.»

ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

«یوه میاشت وروسته، لخیره، امتحان تېرېږي. که ژوند وو، خامخا درځم.»

خوشحاله شوه.

«الله ج څومره لري مېن کړی وم!»

ومې خندل:

«د نصیبونو فیصلې دي.»

«هو، بیشکه.»

زه خپله هم حیران وم. تر اوسه مې هغه لیدلې هم نه وه، خو زړه مې پرې داسې تړلی و لکه له ډېرې مودې راهیسې چې مې پېژندلې وي.

ویې ویل:

«پوهنتون چېرته وایې؟»

ومې ویل:

«هغه د الله کارونه دي، چې څنګه کېږي.»

ویې ویل:

«خیر، کندهار هم انتخاب کړه.»

ومې خندل:

«هسې نه ته دومره بدرنګه یې چې دومره لرې مسافرې ته هم ولاړ شم، زړه به مې وچوي.»

په غوسه یې وویل:

«غلی شه! تر تا اوس هم شایسته یم.»

ومې ویل:

«تر ما شایسته نشته.»

کټ، کټ یې وخندل.

«ځان ته مه خوشحاله کېږه. دومره بدرنګ یې چې یوه انجلی هم نه درته ګوري. هسې زما په څېر شایسته انجلی درته پیدا شوه.»

ومې ویل:

«نه، پرون مې د خاله لور داسې په ځیر، ځیر راته کتل.»

ژر یې وویل:

«ښه! نو تا څه وکړل؟»

ومې خندل.

«ما هم ورته کتل.»

«اوف!»

یوه شېبه چوپه شوه.

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې په غوسه وویل:

«ما فکر وکړ چې یوازې ماسره مینه لرې! زه لیونۍ وم چې درباندې مې باور وکړ.»

غږ یې ږېرېدېده.

ځان ته مې غوسه راغله.

«لیونۍ، ټوکې کوم! تا ځوروم. زه پرته له تا د بل چا په اړه فکر هم نه کوم.»

په ژړغوني غږ یې وویل:

«زغله، درواغجنه!»

ومې ویل:

«قسم، که درواغ درته وایم.»

لږه ارامه شوه.

«بل ځل ماسره داسې ټوکې ونه کړې.»

«سمه ده، بیا نه کوم.»

«اوس به ویده شم.»

«سبا ځم کابل ته.»

«ښه، سمه ده. ښه شپه ولرې.»

«تاته هم.»

ټلیفون مې بند کړ.

پر ځای مې اوږد وغځېدلم.

د ورځې سترګې، د سفر فکر، د ډیوې غږ او د سبا د کابل لارې ټول یو ځای زما په ذهن کې ګرځېدل، خو خوب ورو، ورو د سترګو دروازې وتړلې او د خوب زوروړو څپو ځان سره یووړم.

سهار کابل ته روان شوم.

درس ته مې ځان ورساوه.

صنف ته چې ننوتلم، داسې ښکارېده چې د ټولو خبرو محور یوازې یو شی دی: امتحان.

هره خوا به د امتحان خبرې وې.

«فلانی مضمون دې څومره لوستی؟»

«سږکال به څنګه سوالونه راشي؟»

«څومره وخت پاتې دی؟»

ما به چې د امتحان نوم واورېد، زړه به مې بې اختیاره ولړزېد.

نه پوهېدم دا وېره د څه وه؛ د ناکامۍ؟ د راتلونکي؟ که د هغو ټولو هیلو چې ما د یوه امتحان په څو پاڼو پورې تړلې وې؟

ketabton.com - The Digital Library

یوازې دومره پوهېدم چې هر ځل به مې د امتحان خبره واورېدله، په زړه کې به مې یو مبهم، درونده احساس پیدا شو.

اکرم بیا دومره په دې کیسه کې نه و.

زما او د اکرم ترمنځ له پخوا راهیسې ډېر توپیر نه و. زمونږ د نمرو ترمنځ به تل یوازې یوه نمره پورته یا ښکته وه. د لیاقت په برخه کې مو هم دومره واټن نه درلود.

خو ما ته د دې امتحان خبره یوازې امتحان نه ښکارېده.

ما ته داسې ښکارېده لکه د راتلونکي دروازه چې مخې ته مې ولاړه وي؛ نه پوهېدم چې کله به یې راخلاصه کړم، او نه پوهېدم چې له هغې غاړې به څه راته انتظار وي.

ورځې او شپې تېرېدلې.

درسونه مې ډېر تکرارول. کتاب به مې مخې ته ایښی و، خو کله، کله به مې سترګې پر یوه کرښه داسې پاتې شوې چې څو شېبې وروسته به مې بیا له سره لوستله. ذهن مې له یوه فکره بل ته تلو؛ یو خوا امتحان و، بل خوا د راتلونکي انتخابونه، او تر ټولو ژوره برخه کې مې د ډیوې خبرې انګازې کولې.

له ډیوې سره به مې خبرې کولې.

هغې به پر دې ډېر ټینګار کاوه چې کندهار هم انتخاب کړم.

د ډیوې لیونۍ مینې چې به مې فکر ته راغله، داسې به راته ښکارېده چې که د نړۍ تر ټولو لیرې ځای ته هم تلل وي، زه به یې د لیدو لپاره تیار شم. خو له کورنۍ او کلي څخه دومره لیرې تلل هم اسانه خبره نه وه.

پنځه انتخابونه مې لرل.

له ځان سره مې وویل:

«وخت ته به ګورو، څه چې کېږي، هماغه به کېږي.»

خو هره ورځ چې امتحان رانږدې کېده، زما وارخطایي هم ورسره زیاتېده.

زه له امتحانه وېرېدم.

هغه که په ښوونځي کې وي، که په امادګۍ کې، ما ته فرق نه کاوه؛ دا امتحان زما د راتلونکي د یوې مهمې دروازې په څېر و. داسې احساس مې کاوه چې که دا دروازه پرانیستل شي، د ژوند لار به مې بدله شي، او که بنده پاتې شي، بیا به مجبور یم بله لار پیدا کړم.

په سبا ورځ مو په وردګو پوهنتون کې د کانکور لپاره بایمتریک و.

ما هم د کتاب مهم ځایونه مطالعه کول.

په امادګۍ کې استادانو هم وروستۍ مهمې لارښوونې راته وکړې؛ څه باید وکړو، څه باید ونه کړو، د انتخابونو پاڼه څنګه ډکه کړو، او د امتحان پر وخت باید څنګه له وارخطایۍ ځان وساتو.

د امادګۍ دوه ورځې مخکې درسونه پای ته رسېدلي وو.

زه او اکرم په لیلیه کې کتابونو ته پراته وو. کتابونه مخې ته وو، خو د مابنام له رانږدې کېدو سره زما زړه لا پسې درزېده.

زمونږ د کانکور کارتونه هم ښوونځي ته راغلي وو.

شمس ورور مخکې راته ویلي وو:

ketabton.com - The Digital Library

«زه یې یوه ډرپور ته ورکوم، دربه یې وړي.»

ځکه زموږ پلان دا و چې له همدې ځایه بایمتریک وکړو او وروسته کور ته لاړ شو.

هماغه وخت شمس زنګ وکړ.

«زه راغلی یم، چېرته درشم؟»

ومې ویل:

«وروره، خیرت دی؟»

هو، خیرت دی. بس زه راغلم.

«ښه دې وکړل.»

«شیان مو راټول کړي؟ فلاني هوټل ته راشئ. سبا به یو ځای راشو.»

«سمه ده.»

کالي او شیان مو راټول کړل.

د اطاق له ملګرو مو خدای پاماني واخیسته زه او اکرم هوټل ته ورغلو.

زړه مې لا درزېده.

کله چې شمس مې ولید، په لومړۍ شېبه پوه شو چې زه ځومره وارخطا یم.

په اوږه یې لاس راکړ.

«لیونیه، مه وارخطا کېږه. دومره هم سخت نه دی.»

ما سر وخوځاوه، خو زړه مې خبره نه منله.

هر ځومره مې چې هڅه وکړه ځان آرام کړم، نه کېدل.

هغه شپه مې تقریباً په ویښه تېره کړه.

سترګې به مې پټې کړې، خو ذهن مې بیا هم په سوالونو، انتخابونو او د امتحان په پاڼه کې ګرځېده.

کله به مې د ډیوې خبره رایاده شوه:

«کندهار هم انتخاب کړه.»

او کله به مې د شمس خبره په ذهن کې ګرځېده:

«څه چې دې خوښېږي، هماغه انتخاب کړه.»

د خوب او ویښې ترمنځ مې ټوله شپه همدا فکرونه له ځان سره جنګول.

سهار ټول له هوټله ووتلو او موټر ته پورته شوو.

په دشت ټوپ کې د وردګو پوهنتون مخې ته ښکته شوو.

یو شمېر کسان لا له مخکې راغلي وو.

شمس ورور وویل:

«زه درته په تمه کېږم.»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل:

«نه، وروره. ته ولاړ شه او دا زموږ کالي او شیان ورسوه. له دې مو خلاص کړه.»

ویې ویل:

«سمه ده.»

زه او اکرم په کراره د وردګو پوهنتون دروازې ته ورننووتو.

زړه مې درزېده.

که څه هم اصلي امتحان دوه ورځې وروسته و، خو یوازې د «بایمتریک» نوم اورېدو هم زما په زړه کې وېره اچوله.

د کانکوریانو اوږده صفونه ولاړ وو.

زه هم په صف کې ودرېدم.

څو شېبې وروسته پوهنتون لا پسې له خلکو ډک شو.

ما حیران، حیران شاوخوا وکتل.

دومره کانکوریان!

هغه شېبه مې یو ډول خوشحالي هم په زړه کې پیدا شوه.

له ځان سره مې وویل:

«ربنتیا هم وردګ تعلیم ته تر هر څه لومړیتوب ورکوي. په دومره اقتصادي ستونزو کې هم خلک خپل ماشومان تر دې ځایه رسوي.»

د کانکوریانو دغه لویه ډله راته د هیلو یوه لویه نښه ښکاره شوه.

«شکر، چې دومره کانکوریان لرو.»

شاوخوا نیم ساعت وروسته زموږ نوبت راورسېد.

بایمتریک یې وکړ او د انتخابونو پاڼه یې راکړه.

اصلي امتحان سبا نه، بلکې بله ورځ و.

خو زما لپاره هغه دوه ورځې د دوو کلونو په اندازه اوږدې شوې.

زه او اکرم غرمه کور ته راورسېدو.

له کانکور پرته مې بل څه په زړه کې نه وو.

داسې راته ښکارېده لکه زما د مغز په هره برخه کې چې یوازې یوه کلمه لیکل شوې وي:

کانکور.

مابنام ډیوی راته زنګ وکړ.

ورته مې وویل:

«ډېر ورته وارخطا یم.»

ketabton.com - The Digital Library

هغي په نرمه لهجه وویل:

«هیڅ فکر مه کوه، الله مهربانه دی.»

د ډیوي د تسلی خبري بیا راته قوت راکاوه.

بیا یې وویل:

«خیر دی، کندهار هم انتخاب کړه.»

ومې خندل.

«حتماً؟»

ژر یې وویل:

«وکړه، قسم.»

ومې خندل.

د هغي غږ ناڅاپه له خوشحالۍ ډک شو.

«زه اوس دوه رکعته نفل کوم او په دعا کې غواړم چې زما څنګ ته راشي.»

ومې ویل:

«ښه، زه تاته درشم که خپلو زده کړو ته؟»

په خندا یې زیاته کړه:

«دواړو ته؟»

ومې ویل:

«دوه کارونه نه کیږي.»

په غوسه یې وویل:

«اوس پوه شوم! یعني زه درته مهمه نه یم؟»

ومې خندل.

«ته راته له هر څه مهمه یې.»

د هغي غږ له خندا ډک شو.

«ماته هم، جان مې.»

ټلیفون مې پرې کړ.

خو هغه شپه بیا تر ډېر وخته خوب راته نه راتلو.

سترګې مې پټې وې، خو زړه مې له سبا سره منډې وهلې.

سهار مې چای څښنه.

شمس ورور ته مې وویل:

«کارونه څنګه دي؟»

ketabton.com - The Digital Library

ویې ویل:

«کارونه بیخي ښه دي. بس خپل خیال ساته.»

زمور مالداري هم اوس، ماشاءالله، ډېره شوې وه. خو د دې تر شا د شمس د ورور ډېر زحمت و.

هغه به ستړی کېده، خو مور ته به یې څه نه ویل.

ما به یې په څېره کې ستړیا لیدله، خو هغه به تل هڅه کوله چې زمور مخې ته یې پټه کړي.

ثناء راته وویل:

«وروره، دا څو ورځې کېږي، ډېرې دعاوې درته کوم.»

ومې خندل.

«قربان دې شم، خورې. ان شاءالله ستاسو دعاوې به مې کامیابوي.»

صدف هم وویل:

«هو، ان شاءالله.»

شمس ورور راته وکتل.

«تر اوسه دې د انتخابونو په اړه فکر کړی؟»

ومې ویل:

«نه وروره، نن به یې زه او اکرم پرې فکر وکړو.»

شمس لږ جدي شو.

«کومه څانګه چې د چا خوښه نه وي، په زور نه ویل کېږي. د خلکو خبرو ته هېڅ غوږ مه نیسه. څه چې دې خوښ دي، هماغه انتخاب کړه.»

ما ورته وکتل.

«مننه، وروره.»

شمس هم راته وکتل.

«د څه لپاره؟»

ومې ویل:

«چې خپل انتخاب ته دې پرېښودم.»

وخندل.

«لیونیه! دا خو دې خپل حق دی.»

د هغه خبرې ساده وې، خو زما لپاره ډېرې درنې.

ځکه کله کله انسان ته یوازې دا اړتیا وي چې یو څوک ورته ووایي:

«خپل ژوند ته خپله لار وټاکه.»

سبا امتحان و.

ketabton.com - The Digital Library

زه او اکرم په حجره کې ناست وو.

چای راته اینبودل شوی و، خو زموږ پام تر چای ډېر د انتخابونو پاڼې ته و.

په امادګۍ کې استادانو راته ویلي وو چې انتخابونه باید له امتحان مخکې په ډېر فکر وشي؛ ځکه د امتحان په ورځ انسان د وارخطایۍ له امله تېروتنه کولی شي.

زه او اکرم تر ډېر وخته د پاڼې مخې ته ناست وو.

لومړی انتخاب مو یو شان وکړ.

کابل.

زما ذهن ته ډیوه راغله.

یوه شپېه مې موسکا وکړه.

بیا مې د کندهار پوهنتون پاڼه وپلټله.

دوهم انتخاب مې کندهار کې وکړ.

وروسته مو همداسې په ترتیب نور انتخابونه هم وټاکل.

ما په اکرم درېیم انتخاب هم په کندهار کې په زور وکړ.

اکرم راته وکتل او ویې ویل:

«لیونیه، ته خو لیونی یې! د مینې له لاسه مې ولې د دنیا هغه بل سر ته بیایې؟»

ومې خندل.

«نړدې دی.»

ویې ویل:

«هو، هو، ډېر نړدې!»

دواړو وخندل.

خو زما د هغې خندا تر شا یو پټ امید و؛ داسې امید چې نه مې غوښتل په خوله یې ووایم.

سهار وختي یو ځای د وردګو پوهنتون پر خوا روان شوو.

پوهنتون ته چې ورسېدو، کلیمه مې وویله او له دروازې دننه شوو.

خپل ټاکل شوي ځای ته ولاړو.

زړه مې بیا درزېده.

لږه شېبه وروسته دوه استادان راغلل، لارښوونه یې وکړه او ببرته ووتل.

زه ډېر وارخطا وم.

څه شېبه وروسته یې د سوالونو له پارچو سره بیا راننوتل.

هر چا ته یې د هغه خپله، د ایډي چاپ شوې پارچه ورکوله.

زما نوبت راورسېد.

ketabton.com - The Digital Library

استاد فورم راته ونيو.

لاسونه مې لږ ږپږدېدل.

استاد پوه شو.

په آرامه يې وويل:

«هيڅ کيسه نشته، سوالونه اسانه دي. مه وارخطا کېږه.»

سر مې وخوځاوه.

لږه شېبه وروسته امتحان پيل شو.

سوالونه متوسط وو.

پوره دوه ساعته ورته ناست وم.

کله به مې ساعت ته وکتل او کله به مې د پاڼې کړښو ته.

په پای کې مې پارچه ورکړه.

اکرم لا هم په خپل ځای ناست و.

له خونې دباندې ووتم.

اوږده ساه مې واخيسته.

داسې مې احساس وکړ لکه له اوږو مې چې يو درونده بار پورته شوی وي.

لس دقيقې وروسته اکرم هم راووت.

«څنګه وو، هلکه؟»

ومې ويل:

«بد نه وو. او ته؟»

«ښه وو.»

بيا دواړه له پوهنتونه ووتلو.

د دشت ټوپ له دوراهي سره مو يو څه وخوړل، وروسته موټر ته پورته شوو او د کور پر خوا روان شوو.

د لارې دوړې، د موټر شور او د کور د رسېدو انتظار؛ ټول راته داسې وو لکه له اوږدې جګړې وروسته چې د خپل کلي پر لور ستنېږم.

کور ته چې ورسېدم، ټول راته مخې ته راووتل.

ستړي مشي يې وکړل.

ثناء او صدف په يوه غږ وويل:

«وروره، څنګه وو امتحان؟»

شمس هم وپوښتل:

«څنګه وو؟»

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل:

«بد نه وو، ښه وو. نور به وخت فیصله کوي چې څه کېږي.»

شمس وویل:

«الله مهربانه دی.»

بیا یې وویل:

«راځه هله، د ډوډۍ وخت دی.»

ډوډۍ مو وخوړه.

خو زما په ذهن کې لا هم د امتحان پاڼه پرته وه.

هغه پاڼه مې وسپارله، خو د هغې پایله لا هم زما په زړه کې ناسته وه.

زه نه پوهېدم چې د هغې دوه ساعته ازموینې به زما د راتلونکو کلونو لار ټاکي، که به د ژوند لپاره به راته بله دروازه پرانیستل کېږي.

یوازې دومره پوهېدم چې ما خپله هڅه کړې وه.

اوس به د وخت، نصیب او د الله تعالی فیصلې ته انتظار کوم.

وخت ورو، ورو تېرېده.

ورځې په ورځو او شپې په شپو بدلېدې، خو زما لپاره هره ورځ د یوې اوږدې لارې په څېر وه. له شمس سره به په باغ کې بوخت وم، د ونو تر سیوري لاندې به مو کار کاوه او د اوبو د لارې، ونو او ځمکې په کارونو کې به مو ځانونه مصروف ساتل. اکرم هم له خپل پلار سره په خپلو کارونو بوخت و.

ډیوې څو ځله راته ویل:

«راشه.»

خو ما مناسب نه ګڼله.

شمس ورور ستړی و. ما ته به دا خبره ښه نه ښکارېده چې هغه دې دلته د کور او باغ په کارونو کې ستړی وي او زه دې د چکر لپاره ووځم.

ډیوه ته به مې ویل:

«کارونه دي.»

هغې به نه منله.

ربښتیا، زه خپله هم د هغې لیدلو ته بېقراره وم. کله به مې چې د هغې خبرې یادې کړې، زړه به مې ویل چې هر څه پرېږده او ورشه. خو بیا به مې د شمس څېره سترګو ته ودرېده؛ هغه ورور چې تل زما تر څنګ ولاړ و، زما د ستونزو بار یې پر خپلو اوږو اخیستی و او ډېرې لارې یې راته هواري کړې وې.

خپل وجدان مې اجازه نه راکوله چې هغه یوازې پرېږدم.

همدا خبره وه چې ډیوه رانه خفه شوه.

یوه هفته یې راسره خبرې ونه کړې.

د هغې چوپتیا زما لپاره د ورځې له شور څخه هم درنه وه.

ketabton.com - The Digital Library

هر ځل به مې ټلیفون ته وکتل، زړه به مې ویل شاید پیغام یې راغلی وي؛ خو پرده به خاموشه وه.

یوه ورځ سهار ټلیفون راغی.

ډیوه وه.

ژر مې پورته کړ.

په لومړیو خبرو کې لا نه وم خبر چې څه وایي، خو ناڅاپه یې وویل:

«پلار مې غواړي ما د خاله زوی ته ورکړي.»

لکه د پښو لاندې مې چې ځمکه ورکه شوې وي.

زړه مې یو دم درز وکړ.

«دا څه وایې؟»

غږ مې وارخطا و.

هغې وویل:

«څه دې چې واورېدل.»

سترګو ته مې تیاره راتله.

«تر اوسه خو ما لیدلی هم نه یې...»

ویې ویل:

«دا خپله ستا غلطي ده.»

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. ما ډېر وخت نه و ژړلي، خو هغه شېبه مې زړه داسې مات شو لکه د یوې شېبې په دننه کې چې ټولې هیلې راڅخه اخیستل شوې وي.

«اوري؟»

په ژړغوني غږ مې وویل:

«اورم.»

ناڅاپه یې په لوړ غږ وخندل.

«واخ، زما ساده کلیوال جانانه! ټوکې کوم.»

په غوسه شوم.

«داسې ټوکې څوک کوي؟»

ویې ویل:

«کټل مې چې رښتیا دربانديِ ګرانه یم که نه.»

ومې ویل:

«په دې کې دې نو شک وو؟»

«شک نه و، خو څو ځله مې درته وویل چې راشه، ته نه راتلې.»

ketabton.com - The Digital Library

ما ټوله کیسه ورته وکړه؛ د شمس ستړیا، د کور کارونه، زما زړه نه منل چې هغه پرېږدم او یوازې د لیدو لپاره لاړ شم.

لږه شېبه چوپه وه.

بیا یې وپوښتل:

«نو څه وخت راځې؟»

ومې ویل:

«نمرې په دې نږدې ورځو کې راوځي. غم مه کوه، هر څنګه چې کېږي، ژمنه کوم، درځم.»

د هغې په غږ کې بیا خوشحالي راغله.

«ښه، سمه ده. ګوره، ضرور بیا ماته خبر راکړه.»

ومې خندل.

«نو تاته درځم.»

«پټ به څنګه درشم؟»

«تا کې ولاکه شک وي.»

دواړو وخندل.

خدای پامانې مو سره واخیسته.

له هغې ورځې وروسته مې هره ورځ د ازموینو د ملي اداري پاڼه څارله.

خلکو به ویل چې نمرې نږدې دي.

ما هم هره ورځ موبایل راخیست، پاڼه مې تازه کوله، بیا به مې یو ځل پرېښوده، خو څو دقیقې وروسته به مې بیا کتل.

له امتحانه پوره یوه میاشت او دولس شپې تېرې شوې وې.

ما د ورځې حساب نیولی و.

هره ورځ به مې ځان ته ویل:

«کېدای شي نن.»

خو ورځ به تېره شوه او هېڅ به نه وو.

هغه ورځې راباندې نه تېرېدلې.

شمس به ویل:

«صبر ولره، الله مهربانه دی.»

د هغه خبرې به مې زړه لږ آرام کړ، خو بېصبرې به مې بیا څو شېبې وروسته پر زړه غالبه شوه.

یوه غرمه له ډوډۍ وروسته اوږد وغځېدم.

ketabton.com - The Digital Library

شمس وویل:

«اوس ګرمي ده، هغه کوز پټی به بیا مازیګر اوبه کړو.»

ومې ویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې راواخیست.

د ازموینو د ملي اداري پاڼه مې بیا خلاصه کړه.

سترګې مې ناڅاپه پر نوي پوسټ ولګېدې.

شین بګروند یې درلود.

پر عکس لیکل شوي وو:

«د کانکور نتایج ډېر ژر.»

له خولې مې ناڅاپه ووتل:

«واه!»

شمس را وکتل.

«څه وشول؟»

ومې ویل:

«اعلان یې کړی، نمرې سبا یا بل سبا راووځي!»

شمس وخندل.

«شکر، اعلان یې وکړ. ته خو نور لیونی کېدلې.»

ژر مې اکرم ته زنګ وکړ.

«هلکه، نوی خبر خبر یې؟»

«نه یاره، څه شوي؟»

«اعلان وشو چې نمرې ژر راوځي.»

په لوړ غږ یې وویل:

«څه؟!»

ومې خندل.

خو لا مې خبره نه وه ختمه چې ټلیفون یې بند کړ.

ما وخندل.

«دا تر ما هم لیونی دی.»

شمس ورور راته وکتل.

«په دې کې خو شک نشته.»

---

ketabton.com - The Digital Library

هغه ورځ او شپه راباندې د کال په شان اوږده شوه.

هره دقیقه به مې حسابوله.

سهار اعلان وشو چې د سرطان پنځلسمه، له غرمې وروسته پایلې خپرېږي.

لا غرمه نه وه راغلې چې اکرم زنګ وکړ.

«خبر شوې؟»

«هو.»

«الله دې خیر کړي، چې څنګه به وي.»

«الله پوهیږي.»

زړه مې له دننه نه داسې درزېده لکه هره لحظه چې غواړي له سینې ووځي.

تر سبا غرمه مې ځان په یوه کار او بل کار مصروفاوه.

خو هېڅ شي خوند نه راکاوه.

ثناء، صدف او شمس به راته ویل:

«صبر ولره.»

خو زړه مې د چا خبره نه منله.

بالاخره هغه برخلیک ټاکونکې غرمه راورسېده.

صدف څو ځله راته وویل:

«ډوډۍ وخوره.»

ما سر وخوځاوه.

«هر وخت چې نمرې راووتلې، وروسته به یې خورم.»

اکرم ته مې زنګ وکړ.

«غونډه شروع کېږي، راځه حجرې ته.»

«سمه ده، درځم.»

په یوه بجه غونډه شروع شوه.

موږ په فېسبوک کې په ژوندۍ بڼه کتله.

کله به چې یو کس ډېرې خبرې کولې، اکرم به غوسه شو:

«دا نو څه کوي؟ ژر دې خلاصه کړي!»

ما به هم ورسره وخندل، خو زړه مې له وارخطایۍ ډک و.

په پای کې یې پنځه غوره زده‌کوونکي وړاندې کړل.

وروسته غونډه ختمه شوه.

د پایلو لینک خپور شو.

ketabton.com - The Digital Library

زما ګوتې ریږدېدې.

لینک مې خلاص کړ.

سترګې مې پردې ته نیولې وې، خو زړه مې نه کېده چې خپله نتیجه وګورم.

اکرم ته مې وویل:

«هله، ایډي نمبر دې راکړه.»

ویې ویل:

«نه، اول دې ته وګوره.»

«هله، ژر کوه!»

نمبر یې راکړ.

داخل مې کړ.

د لټون پر ټنۍ مې ګوته کېښوده.

د هغه پایلې راووتې.

لومړی مې د پانې پای ته وکتل.

سترګې مې پر یوې کربنې ولګېدې:

«کندهار پوهنتون، شرعیات پوهنځی، فقه او قانون څانګې ته بریالی.»

په لوړ غږ مې وویل:

«اکرم!»

هغه چیغه کړه:

«اخ، شکر!»

مخ یې له خوشحالۍ روښانه و.

«مبارک دې شه.»

«مننه! هله، خپله وګوره.»

زما لاسونه لا هم ریږدېدل.

خپل ایډي نمبر مې ډایل کړ.

د لټون ټنۍ مې ووهله.

سترګې مې پټې کړې.

اکرم زما تر څنګ ناست و.

یوه شېبه چوپتیا وه.

بیا یې په لوړ غږ وویل:

«کندهار پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ادبیاتو څانګې ته بریالی!»

سترګې مې خلاصې کړې.

ketabton.com - The Digital Library

سترګي مې سکرین ته نیولی وې.

یوه شېبه داسې وم لکه ذهن مې چې خبره نه منې.

بیا مې د خوشحالۍ چیغه کړه.

ټلیفون مې له لاسه ولوېد زه اکرم ته ورغاړې وتم.

هغه هم راته وخندل.

«وګوره، اوس بیا یو ځای شوو.»

ومې ویل:

«هو، شکر!»

بیا مې وویل:

«هله، ته ورشه، خپلې کورنۍ ته خبر ورکړه. زه به هم لاړ شم.»

دواړه په منډه له حجرې ووتلو.

په منډه کوټې ته ننوتلم.

زما پام نه و چې شمس ویده دی.

په لوړ غږ مې چیغه کړه:

«شمسه وروره!»

شمس یو دم له خوبه راپاڅېد، نږدې و چې له ځایه راولوېږي.

«بسم الله الرحمن الرحیم! یا الله خیر! څه خبره ده؟»

ما په خوشحالۍ وویل:

«کندهار پښتو ادبیاتو ته کامیاب شوم!»

صدف او ثناء هم په منډه راننوتې.

ټول ډېر خوشحاله شول.

خو تر ټولو ډېره خوشحالي د شمس په سترګو کې وه.

هغه داسې موسکی شو لکه د اوږدې اندېښنې بار چې تري پورته شوی وي.

صدف وویل:

«اوس به نو درته ډوډۍ راوړم.»

ومې خندل.

«سمه ده، ورشه.»

ماښام مې صدف او ثناء ته ټوله کیسه کوله چې ځنګه مې شمس له خوبه راویښ کړ.

ټول له خندا شنه وو.

ketabton.com - The Digital Library

شمس ورور هم وخندل.

بیا یې راته وویل:

«دومره دې ووپرولم! که دې ژر زیری راباندې نه وای کړی، سخت وهل به مې درکړي وو.»

تولو بیا وخندل.

ما هم وخندل.

خو په زړه کې مې یوه عجیبه سکون پیدا شوی و.

هغه سکون چې له څو اوونیو راهیسې مې نه و احساس کړی.

د امتحان د نتیجې انتظار ختم شوی و.

اوس مې لږ تر لږه د راتلونکي یوه لار لیدله.

ماخستن مې د خپلې بریا پوسټ وکړ.

لا مې پوسټ نه و ښه کتلی چې د ډیوې زنګ راغی.

تلیفون مې پورته کړ.

هغې په بیړه وویل:

«ایا دومره حق نه لرم چې وختې دې خبره کړې وای؟»

ومې ویل:

«له خوشحالۍ نه رانه هر څه هېر شوي وو.»

«زه هم.»

ومې خندل.

«وګوره، داسې خبرې مه کوه.»

«بس، نور څه نه اورم.»

پوه شوم چې ملامته وم.

ښښنه مې تړې وغوښته.

بیا مې پخلا کړه.

هغې په نرم غږ وویل:

«پوهنتون ته دې دومره نه یم خوشحاله لکه تاته.»

ومې خندل.

«هو، ستا خو زما د راتلونکي په اړه هېڅ فکر نشته.»

ژر یې وویل:

«نه، داسې مه وایه.»

بیا یې وخندل.

ketabton.com - The Digital Library

«اوس له راتلونکي نه لومړی ته راته مهم یې.»

کټ، کټ مې وخندل.

تر ناوخته مو خبرې وکړې.

هغه شپه مې زړه بیخي آرام و.

له څو اوونیو وروسته مې داسې احساس کاوه لکه د زړه له دروازې مې چې یوه درنه ډبره لرې شوې وي.

پنځه ورځې وروسته د ثبت نام لپاره کندهار ته ولاړو.

مابنام ناوخته ورسېدو.

د لارې ستړیا، د موټر ستونزه او اوږده سفر موږ دومره ستړي کړي وو چې هوټل ته ولاړو، یوه کوټه مو ونیوله او بې له ډېرو خبرو ویده شوو.

سهار چې چای مو وڅښه، اکرم ته مې وویل:

«ښه، اوس څه کوو؟»

ویې ویل:

«پوهنتون ته ځو.»

موږ مخکې کندهار ته نه وو راغلي.

ومې ویل:

«سمه ده، زه یو ځل زنګ وهم.»

هغه وخندل.

«سمه ده.»

د هوټل له دباندې ووتم.

د کندهار ګرمي سخته وه؛ د سهار له وخته لا لمر د ښار پر کوڅو خپل توده لاس غوړولی و.

ما قصداً ډیوی ته خبر نه و ورکړی.

ټلیفون مې راواخیست او زنګ مې ورته وکړ.

له سلام او کلام وروسته مې ورته وویل:

«ډیوی، مثلاً که زه کندهار کې وای او تاته مې اوس ویلي وای چې راسره وګوره، ته به څه کول؟»

سمدستي یې وویل:

«هر ځای چې تا غوښتی وای، درتللم.»

ومې ویل:

«ښه، کورنۍ به دې څه ویل؟»

ویې ویل:

«دا اطراف نه دي، لیونیه. یوه لاره به مې پیدا کوله.»

ketabton.com - The Digital Library

«نو یوه لاره پیدا کړه.»

«د څه لپاره؟»

ومې ویل:

«چې وګورو.»

په خندا یې وویل:

«ته لیونی شوی یې.»

ومې ویل:

«کندهار کې یم.»

یوه شېبه چوپه شوه.

بیا یې په شکمن غږ وویل:

«ته دروغ وایې.»

ومې ویل:

«صبر. زه دا ځای نه پېژنم. زه یې درته عکس لېږم.»

ژر مې عکس ورولېږه.

څو شېبې وروسته یې زنګ راغی.

غږ یې له خوشحالۍ ډک و:

«دا خو په ربښتیا راغلی یې!»

ومې خندل.

«تاته ټوکې ښکاري؟»

ویې ویل:

«زه په یوه بهانه درځم. شل دقیقې انتظار شه.»

ومې خندل.

«څومره بېصبره یې! تر هغه ښه سم پلان جوړ کړه. زه یو ځل پوهنتون ته ځم. ملګری مې هم راسره دی. کله چې هغه کار خلاص شو، شل دقیقې مخکې درته زنګ کوم.»

په خوشحالۍ یې وویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې بند کړ.

څو شېبې هماغلته ولاړ وم.

د کندهار ګرمه هوا پر مخ لګېده، خو زما په زړه کې بیا د پسرلي په شان یو نوی شور پیدا شوی و.

تر دې دمه مې ډیوه یوازې په غږ، خبرو، پیغامونو او د خپل خیال په سترګو لیدلې وه.

اوس د هغې لیدل دومره نږدې شوي وو چې یوازې د یوې لنډې شېبې واټن ترمنځ پاتې و.

ketabton.com - The Digital Library

او زه نه پوهېدم چې هغه لیدنه به زمونږ د کیسې کومه نوې پانه پرانیزي.

زه او اکرم ټکسي ته پورته شوو.

ومې ویل:

«کندهار پوهنتون ته ځه.»

ډرېور سر وخوځاوه.

«سمه ده.»

شاوخوا لس دقیقې وروسته د کندهار پوهنتون د دروازې مخې ته ښکته شوو.

زما سترګې سمدستي پر هغه لوحه ولګېدې چې د دروازې پر سر لیکل شوي وو:

کندهار پوهنتون

په زړه کې مې ناڅاپه یوه عجیبه خوشحالي خپره شوه.

تر دې څو ورځې وړاندې به مې یوازې د پوهنتون نوم په خیال کې اورېد، خو اوس یې دروازه زما مخې ته ولاړه وه. هغه دروازه چې د راتلونکو کلونو د ژوند یوه برخه به مې له همدې ځایه پیلېده.

دروازې ته نږدې ساتونکو ودرولو.

«کارت؟»

ومې ویل:

«د ثبت نام لپاره راغلي یو.»

«ښه، سمه ده. ولاړ شئ.»

«مننه.»

پوهنتون ته ننوتلو.

چاپېریال یې لوی او پراخ و. د ودانیو ترمنځ به خلک په بېړه تېرېدل، ځینې محصلین به په ډلو کې ولاړ وو او هره خوا د زده کړو د نوي ژوند شور خپور و.

مونږ مخته ولاړو.

د پوهنتون په پای کې خپل مربوط ځای ته ورسېدو. خپل ایډي نمبر مو ورکړ.

وروسته یې زه خپلې پوهنځی ته او اکرم یې خپلې پوهنځی ته ولېږه.

ضروري اسناد راسره وو.

زه د ادبیاتو پوهنځی پر لور روان شوم.

له یوه کس مې پوښتنه وکړه:

«نوم لیکنه چېرته کېږي؟»

ویې ویل:

«درېیم پوړ کې.»

لس دقیقې وروسته مې کار خلاص شو.

ketabton.com - The Digital Library

اکرم ته مې زنګ وکړ:

«کار مې خلاص شو.»

«درځم.»

د پوهنتون د دروازې مخې ته ورته ودرېدم.

لږه شېبه وروسته اکرم راغی.

دواړه له پوهنتونه راووتلو.

خو زما د زړه اصلي سفر لا اوس پیل کېده.

ډیوی ته مې زنګ وکړ.

«کار مې خلاص شو.»

په لړزېدلي غږ یې وویل:

«ښه... سمه ده.»

پوه شوم چې هغه هم زما په شان وارخطا ده.

«چېرته درشم؟»

«شهیدانو چوک ته ځان راورسوه، زه هملته درځم.»

«سمه ده.»

ټکسي ته پورته شوو.

ومې ویل:

«شهیدانو چوک ته ځم.»

اکرم په خندا راته وکتل.

«هی، نامرده!»

ومې ویل:

«ته هوټل ته ولاړ شه، زه درځم.»

مور کندهار نه پېژانده، نو شپه مو د کابل اډې ته نږدې په یوه هوټل کې تېروله.

اکرم هم د هوټل نوم ډرېور ته وویل.

ډرېور سر وخوځاوه او موټر روان شو.

لومړی یې زه د شهیدانو چوک سره ښکته کړم.

زړه مې دومره درزېده چې راته داسې ښکارېده، که څوک لږ نږدې ولاړ وي، ښایي د زړه ټکان مې هم واوري.

اکرم په خندا وویل:

«ښه بخت، یاره!»

ومې خندل.

«خدای دې مل شه.»

ketabton.com - The Digital Library

شاوخوا مې وکتل.

ټلیفون مې له جیبه راویست.

د ډیوي شمپره مې په لړزېدلو ګوتو ډایله کړه.

ژر یې غږ راغی:

«چېرته یې؟»

«همدلته په چوک کې.»

«ته چېرته یې؟»

«دررسم.»

ومې ویل:

«څوک درسره دي؟»

«د کاکا لور مې ده.»

«څومره...؟»

زما خپله ژبه هم د وارخطایۍ له امله بنده شوه.

هغې وویل:

«دومره لکه ته چې وارخطا یې.»

زړه مې نور هم درزا پیل کړه.

«زه ځم ببرته.»

هغې وخندل.

«مه وېرېږه. ما هغې ته هر څه ویلي دي.»

خو زه لا هم وارخطا وم.

بیا یې وویل:

«اظهاره، ته هوټل کې فامیلي ځای ونیسه.»

«هوټل؟»

«هو، هلته به راشو.»

«خو...»

«هله ژر کوه.»

ټلیفون یې بند کړ.

زړه مې نور هم په درزا شو.

نږدې یوه هوټل ته ورغلم.

«فامیلي ځای لرئ؟»

«هو، شته.»

ketabton.com - The Digital Library

شاګرد مخکې شو او ځای یې راوښود.

بېرته دباندې راووتلم.

«چاته په تمه یم.»

«کوم مشکل نشته.»

څو دقیقې د هوټل مخې ته ودرېدم.

هر موټر، هره ریکشا او هره ښځینه څېره به مې سترګو ته داسې ښکارېده لکه همدا به ډیوه وي.

ناڅاپه یوه ریکشا ودرېده.

تر یو دوه نجونې راکوزې شوې.

دواړو تور حجابونه اغوستي وو.

یوه یې له بلې ټیټه وه او بله یې په قد لوړه وه.

زړه مې یو ځل بیا درب شو.

لوړې قد لرونکې نجلۍ له خپل لاسي بکس څخه ټلیفون راویست.

ما ورته کتل.

په همدې شېبه زما ټلیفون زنګ وکړ.

پوه شوم.

ډیوه ده.

ژر مې مخ د هوټل پر لور واړاوه او ټلیفون مې پورته کړ.

«اظهاره، چېرته یې؟»

«زه ولاړم.»

په خندا یې وویل:

«ګوره، داسې ټوکې راسره مه کوه.»

ومې خندل.

په ورو غږ مې وویل:

«ماشاءالله... زما ټیټ قد نه خوښېږي؟»

د زارۍ په شان یې وویل:

«خیر، ځای راته وښایه.»

«ته څنګه پوه شوې چې زما قد لوړ دی؟»

ومې ویل:

«د طلایي رنګ د سکول درسره بیخي جلا خوند کوي.»

«خیر، چېرته یې؟»

مخ مې د هوټل پر لور و.

ketabton.com - The Digital Library

«ستا شاته، سپین کالي او تور واسکټ والا، زه یم.»

ویې خندل.

«ولې پټ یې؟»

زړه مې درزېده.

په کراره مې مخ واړاوه.

مخامخ راته هماغه دوه نجونې ولاړې وې.

یوه یې ډیوه وه.

د لومړي ځل لپاره مې هغه له نږدې ولیده.

تورې، غټې سترګې.

غټو بنو یې داسې سیوری پرې اچولی و لکه سترګې یې چې له نړۍ څخه ځانته یوه وړه نړۍ جوړه کړې وي.

زما فکر د یوې شېبې لپاره ودرېد.

هغه ټولې خبرې چې د درېیو میاشتو راهیسې مو په پیغامونو او زنګونو کې کړې وې، لکه یو دم زما له ذهنه تېرې شوې.

هغې په خندا وویل:

«خوله دې پټه کړه.»

زه هم وشرمېدم.

ځان ته مې پام شو.

«ستړي مشي... زه اظهار یم.»

په نرم او جادویي غږ یې وویل:

ډیوه یم.

زما زړه بیا درب وکړ.

تر څنګ یې ولاړې نجلۍ وویل:

«اسما، د ډیوې د کاکا لور.»

«راځئ.»

زه مخکې شوم.

دواړه راته راغلې.

مورِ ټاکلي ځای ته ولاړو.

زه نه پوهېدم چې اوس باید څه ووایم.

د میاشتو خبرې، ټوکې، مینه، شکایتونه او انتظار ټول راته په ذهن کې وو؛ خو چې هغه زما مخې ته ولاړه وه، ژبه مې د ټولو خبرو له منځه تشه شوې وه.

د ناستې لپاره مې ورته وویل.

ketabton.com - The Digital Library

د ډیوي د کاکا لور وویل:

«زه یو زنګ کوم، راځم.»

پوه شوم چې ډیوي ورسره مخکې خبرې کړې وې.

اسما له کوټې ووتله.

اوس یوازې زه او ډیوه پاتې وو.

زړه مې لا پسې تېز شو.

هغې خپل سکول کېښود او د حجاب پرده یې لرې پورته کړه

«یو برګر راوغواړه.»

ژبه مې بنده بنده کېده.

«س... س... سمه ده.»

نرم یې وخندل.

زما د دې بېځایه خبرې مقصد هماغه و چې یوه بهانه پیدا کړم او څو شېبې له دې حالته ووځم.

ژر له کوټې ووتم.

له دباندې مې یوه اوږده ساه واخیسته.

داسې مې احساس وکړ لکه تر دې شېبې مې چې ساه نیولې وه.

هوټل شاګرد ته مې وویل:

«درې خوراکه برګر او د ځښاک لپاره څه راوړه.»

«سمه ده.»

ببرته په لړزېدلو قدمونو د ډیوې خواته روان شوم.

ښکته مې کتل.

ناڅاپه مې پام شو چې د دیوال څنګ ته، د میز شاته ناسته وه.

ورو مې ورته وکتل.

سپین، ګرد مخ یې د حجاب له سیوري څخه لا روښانه ښکارېده.

سرې شونډې، د موسکا پر مهال ښکاره کېدونکي سپین غاښونه او د خندا پر وخت د غومبورو هغه وړې کندې...

سترګې مې وچې پاتې شوې.

په کراره روان وم.

بل څه مې نه لیدل.

شرم، ډار، خوښي او د میاشتو انتظار؛ هر څه د یوې شېبې په لیدو کې سره ګډ شوي وو.

ناڅاپه مې پښه د میز له څنډې سره ولګېده.

«اخ!»

بې اختیاره مې له خولې ووتل.

ketabton.com - The Digital Library

ډیوه په خندا شوه.

لاس یې خولې ته نیولی و.

ماته هم خندا راغله.

مخامخ ورته کښناستم.

سترګې مې بیا ښکته کړې.

هغې وپوښتل:

«څنګه یې؟»

ښکته مې کتل.

«مننه. ته څنګه یې؟»

«اوس بیخي ښه شوم.»

زه حیران وم چې څه ووایم.

هغې راته وکتل.

«ولې دومره وارخطایې؟»

ژر مې وویل:

«زه نه یم وارخطا.»

و یې خندل.

«شایسته یې.»

سر مې نور هم ټیټ شو.

په کراره مې وویل:

«ته هم.»

هغې ځان داسې وښود لکه خبره یې نه وي اورېدلې.

«څه؟»

ومې ویل:

«ته هم ښایسته یې.»

په خندا یې وویل:

«په دې خو هر څوک پوهیږي.»

خندا مې راغله.

یو ځل بیا مې سر پورته کړ.

سترګې یې راته نیولې وې.

په سترګو کې یې موسکا وه.

هغه موسکا چې په ټلیفون کې یې یوازې غږ اورېده، اوس مې د سترګو مخې ته لیدله.

ketabton.com - The Digital Library

زړه مې جرئت وکړ.

ومې ویل:

«دا ارمان مې هم پوره شو.»

ویې ویل:

«زما هم.»

ومې ویل:

«ما چې څومره فکر کړی و، له هغه هم ښکلې یې.»

ښکته یې وکتل.

د مخ پیکۍ یې ورو، ورو ښورېدې.

په کراره یې وویل:

«رښتیا؟»

ومې ویل:

«ما تاته کوم وخت دروغ ویلي؟»

په نرمه لهجه یې وویل:

«مننه.»

زما جرئت نور هم زیات شو.

«مننه له هغه خالق نه وکړه چې په هنر یې پیدا کړې یې، له ما نه نه.»

ویې خندل.

«دومره صفت مې هم مه کوه.»

ومې ویل:

«دا خو لږ دی.»

بیا یې وخندل.

لږه شېبه چوپه شوه.

بیا یې وپوښتل:

«ښه، بیا کله راځې؟»

ومې ویل:

«یوه نیمه میاشت وروسته.»

سترګې یې ښکته کړې.

په ټیټ غږ یې وویل:

«زیات وخت دی.»

«نه، دومره نه دی زیات.»

ketabton.com - The Digital Library

«دا به نو ته وایي.»

ومې خندل.

ډیوه لکه د خپل نوم په شان روښانه موسکی شوه.

بیا یې وویل:

«اظهار، څنګه دی چې نوم دې داسې نه یې؟ په مینه درسره لرم ویلو کې دې دري میاشتې تېرې کړې.»

ومې خندل.

«زه ډېر شرمېږم.»

هغې وخندل.

«ته او شرم؟»

ما هم خندا وکړه.

«وګوره، لومړی څنګه د تاثیر لاندې وم.»

ومې ویل:

«زه هم همداسې وم.»

بیا مې ورزیاته کړه:

«نه، ته داسې نه وې.»

هغه وخندل.

زموږ مخې ته برګرونه هم راورسېدل.

د ډیوې د کاکا لور هم بېرته راغله.

«ډیوی، راځه چې ځو.»

ما وویل:

«دا خو وخوړئ.»

ډیوې وخندل.

«د دې ښاغلي مصرف کېږي، راځه دا برګر وخوره.»

ومې ویل:

«مصرف خبره نه ده، اسراف دی.»

ډیوه په خندا کراره وویل:

«کنجوس انسان.»

ما داسې وانګېرله چې خبره یې په ټیټ غږ وکړه، خو وا مې ورېده.

خندا مې راغله.

بیا مې وویل:

«تا څه وویل؟»

ketabton.com - The Digital Library

ژر یې وویل:

«ما دا ویل چې د دې ځای برګر شایسته خوند کوي.»

کرار مې وخندل.

هغوی هم برګر وخوړلو.

وروسته له هوټله دباندې ووتلو.

د خدای پامانۍ وخت راورسېد.

دواړه ریکشا ته پورته شوې.

ما یوازې دومره وویل:

خدای پامان.

ډیوه هم په ورو غږ ځواب راکړ.

ریکشا روانه شوه.

زه هماغلته ولاړ وم.

سترګې مې تر هغې پورې ورپسې وې چې ریکشا د خلکو، موټرو او د کندهار د ګرمې ورځې په شور کې ورکه شوه.

خو زما سترګې لا هم هماغه لورې ته نیولې وې.

درې میاشتې مې د هغې غږ اورېدلی و.

درې میاشتې مې د هغې په خبرو کې یوه ځېره جوړه کړې وه.

او اوس، چې هغه رښتیا زما مخې ته راغله او بېرته لاړه، ما د زړه په کومه پټه برخه کې داسې احساس کاوه لکه د اوږدې انتظار وروسته مې چې د خپل خیال یوه ورکه پاڼه پیدا کړې وي.

یوازې یوه خبره راته پاتې وه:

اوس مې هغه لیدلې وه؛ خو د بیا لیدلو انتظار به ښایي تر لومړي انتظار هم اوږد وي.

زه هم هوټل ته راستون شوم.

اکرم مې په لیدو وویل:

«څنګه شو؟ کار وشو کنه؟»

ما په موسکا وویل:

«هو، وشو.»

اکرم وخندل.

«ځه، شکر چې کار دې وشو، هلکه! څه وخت ځو؟»

«شپه ناوخته حرکت کوو، سهار وختي به کور ته ورسېږو.»

«بس، څنګه چې ستا خوښه وي.»

ketabton.com - The Digital Library

هغه ورځ هوا ډېره ګرمه وه، نو تر مازیګره په هوټل کې پاتې شوو. کله چې لمر ورو، ورو د کندهار له تودې فضا څخه د مابنام پر لور کښته کېده، له هوټله راووتلو.

تر ناوخته مو د کندهار په کوڅو او سړکونو کې چکر ووا‌هه.

کندهار د شپې بل رنګ درلود.

د ورځې ګرمي به چې د شپې له نسیم سره ورو ورو سړه شوه، د بنار شور به هم لږ نرم بنکارېده. د څراغونو رڼا به پر سړکونو خپره وه او خلک به لا په خپلو کارونو بوخت وو.

زه ډېر خوشحاله وم.

کندهار راته ډېر بنکلی بنکارېده؛ بنایي ځکه چې همدا بنار هغه ځای و چې نن مې پکې د خپل ژوند له تر ټولو اوږده انتظار وروسته ډیوه لیدلې وه.

د شپې یوولس بجې مو د موټر ټکټ وکړ او د کابل پر لور روان شوو.

د سهار لمونځ مو په غزني کې ادا کړ.

د لمر له راختو سره د دشت ټوپ سیمې ته ورسېدو. له موټره بنکته شوو. د کابل له خوا یو بل موټر راغی، لاس مو ورکړ او روان شوو.

د چای وخت ته کور ته ورسېدو.

شمس ورور راته وویل:

«کار دې خلاص شو؟»

«هو، وروره، خلاص شو.»

موټر کې ډېر ستړی شوی وم.

«زه به ویده شم.»

شمس ورور وویل:

«هو، ورشه. ستړی به یې.»

خپلې کوټې ته ولاړم، پر بستر اوږد وغځېدم او لا مې سم فکر هم نه و کړی چې خوب یو دم پر سترګو راغی.

غرمه مهال له خوبه راپاڅېدم.

دباندې راووتلم.

د برنډې ترڅنګ د زردالو د ونې سیوري ته صدف او ثناء پر فرش ناستې وې. د ونې پاڼو د لمر وړانګې ماتې کړې وې او د سیوري پر مخ یې د رڼا وړې وړې ټوټې جوړې کړې وې.

دوی ته ورنږدې شوم.

صدف په خندا وویل:

«خوب دې پوره شو؟»

«هو، خوږې، پوره شو.»

بیا مې وپوښتل:

«شمس ورور چېرته دی؟»

ketabton.com - The Digital Library

«باغ ته تللی، اوس راځي.»

«سمه ده، خوږ.»

لږه شېبه وروسته شمس ورور هم راغی.

ډوډۍ مو وخوړه.

د ډوډۍ له خوړلو وروسته شمس ورور وویل:

«امان الله غواړي واده وکړي.»

په خوشحالی مې وویل:

«دا خو ښه خبره ده!»

شمس ورور صدف ته وکتل.

«صدف خوږ، ته څه وایې؟»

صدف سر ښکته کړ.

په حیا یې وویل:

«څنګه چې تاسي ته ښه ښکاري.»

شمس ورور وویل:

«نو زه به ورته ووایم چې راشي، خبرې به سره وکړو.»

ما شمس ورور ته وکتل.

«وروره، یوه خبره کوم، که دې خوښه وي.»

«ووایه.»

«که چېرته ستا واده هم وشي...»

شمس ورور په حیرانتیا راته وکتل.

«ته څه وایې؟»

ما وویل:

«تاته خو معلومه ده، زمونږ په ټولنه کې د واده لپاره ډېر دودونه او رواجونه شته. ځینې وخت د مهر نه هم د واده نور لګښتونه ډېر لوړ شي. که څوک یې ترسره نه کړي، خلک پرې خبرې کوي او وایي چې بې غیرته دی. یو ځوان خوارکی لس کاله خواري وکړي، خو بیا هم ښایي د خلکو ټول رسمونه پوره نه شي.»

لږه شېبه چوپ شوم.

«بس، الله دې وکړي چې دا بدبختي یوه ورځ له ټولنې ورکه شي.»

بیا مې شمس ورور ته وکتل.

«که ستا واده هم له دې سره یوځای شي، نو له ډېرو لګښتونو به خلاص شو.»

شمس ورور لږ فکر وکړ.

«زه به له کاکا سره خبرې وکړم.»

ketabton.com - The Digital Library

«سمه ده.»

مانبام شمس ورور راته وويل:

«د کاکا هم خوښه ده. تا ښه ويلي وو. سبا امان الله او د هغه کورنۍ راځي. دوی چې نېټه کېښوده، بيا به هلته هم خبر ورکړو.»

«سمه ده.»

هغه شپه مې ډيوی ته زنګ وکړ.

«که واده وي، ته نه راځې؟»

هغې وخندل.

«کاشکې درغلې وای.»

«ليونۍ، ډېره مې يادېږې.»

په داسې غږ يې وويل چې غرور پکې له ورايه ښکارېده:

«زما نه يادېږې.»

ما وخندل.

«درواغ ويل دې هم زده کړي.»

«درواغ نه وايم، نه مې يادېږې.»

«هغه ستاسو په اصطلاح زغله دروغجنه!»

هغې په خندا وويل:

«ولې خاندي؟»

«عجيبه ښکارېږي، ستاسو لهجه.»

«بايد ځان عادت کړم، دا خو د ټول عمر مسئله ده.»

هغې ناڅاپه وويل:

«که پلار مې درنکړي؟»

ما بې له ځنډه وويل:

«تښتوم دې.»

«اله، توبه! داسې مه وايه.»

«نو ته هم داسې منفي خبرې مه کوه.»

هغې وويل:

«اظهاره، ناوخته ده. هله، بيده شه.»

«سمه ده.»

ټليفون مې بند کړ.

شل ورځې تېرې شوې.

ketabton.com - The Digital Library

د واده ټول تیاری نیول شوی و.

مېلمانه مو راغوښتي وو او مابنام مېلمستیا پیل شوه. کلیوالو ته مو ډوډۍ ورکړه. په کور کې شورماشور و؛ د نارینه‌وو خبري، د ماشومانو منډې، د مېلمنو راتګ او تګ، او د ښځو له خوا د سندرو غږونه ټول سره ګډ شوي وو.

زه، اکرم او شمس ورور ډېر ستړي وو.

له ډوډۍ وروسته مو مېلمنو ته چای برابر کړ.

له ښځینه‌وو خوا د سندرو او خوښۍ شور اورېدل کېده.

زه برنډې ته ووتلم.

صدف خور او څو نورې نجونې سره راټولې وې.

ما چې ورته وکتل، زړه مې یو ځل وځړېده.

زموږ په کور کې د مور هغه مینه نه وه چې د داسې ورځو خوښي ورسره شریکه کړو.

اوس صدف هم له موږه تلله.

ثناء لا دومره لویه نه وه چې د کور تش ځای ډک کړي.

زما زړه له یوې خوا دردېده، خو له بلې خوا د شمس ورور لپاره ډېر خوشحاله وم.

هغه هم خپل ژوند جوړاوه.

او شاید د ژوند خوښي همداسې وي؛ یوه دروازه چې پرانیستل کېږي، کله کله ورسره بله دروازه هم ورو ورو ټرل کېږي.

سبا ماسپښین لومړی موږ ولاړو او ناوې مو راوړه.

وروسته امان الله او د هغه کورنۍ راغلل.

تر یوه وخته هر څه ښه وو.

زه د صدف ترڅنګ ولاړ وم چې شمس ورور غږ وکړ:

«هغوی تیار دي، راځي.»

د صدف سلګۍ مې واورېدې.

زړه مې راډک شو، خو ځان مې قابو کړ.

هغې ته مې تسلي ورکوله.

له کوره ووتلو.

ناوې مو په ګلپوښ موټر کې کېنوله.

زموږ په کلي کې رواج و چې له ناوې سره څو کسان د هغې کور ته ځي. له موږ څخه کاکا، د کاکا زوی، ثناء او څو نور خپلوان، او یوه سپین‌سرې ښځه هم راسره ولاړل.

تر مابنامه هلته وو.

دوی ډېره ښه مېلمه پالنه رانه وکړه او ډېر یې خوشحاله کړو.

خو د مابنام په راتلو سره هغه شېبه هم راورسېده چې له صدف سره مې خدای پامانې کوله.

ketabton.com - The Digital Library

هغي مې په غېږ کې ونیوله.

دواړو سترګو کې اوښکې وې.

هغه په سلګو سلګو له خپلو تللو خپلوانو سره پاتې شوه، او زه د ژړا په حال کې د کور پر لور روان شوم.

د لارې هر ګام راته دروند و.

کور ته به نږدې کېدم، خو داسې راته ښکارېده لکه د کور له یوه ګوټ څخه چې یو څوک د تل لپاره کم شوی وي.

درېیمه ورځ وه.

خپلوان هم ببرته تللي وو.

زمونږ په سیمه کې رواج و چې په درېیمه ورځ زوم ناوې د خپل پلار کور ته وړي.

سهار صدف راته زنګ وکړ.

«مونږ درځو.»

ډېر خوشحاله شوم.

شمس ورور ته مې وویل:

«نن صدف راځي.»

هغه هم خوشحاله شو.

ما وویل:

«مګر نن خو ستاسې هم درېیمه ورځ ده.»

زما ورېندار د شمس له خبرو مخکې وویل:

«څه پروا لري؟ سبا به ولاړ شو.»

شمس ورور هم وویل:

«ښه وایي. ضرور نه ده چې خامخا نن لاړ شو.»

لږ وروسته صدف راغله.

له هغې سره یې خاوند او خوښې هم وو.

مېلمەپالنه مو وکړه.

ما له صدف څخه وپوښتل:

«کوم مشکل خو به نه وي؟»

«نه، وروره. ټول راباندې ډېر پام کوي. خوشحاله یم.»

زړه مې ډاډه شو.

«شکر چې خوشحاله یې. خو بیا هم، که کوم مشکل وو، ماته خبر راکوه.»

«سمه ده، وروره.»

مازیګر هغوی هم روان شول.

دا ځل صدف هم خفه وه، خو د پخوا په شان نه.

ketabton.com - The Digital Library

شمس ورور ته مې وویل:

«عادت کېږي.»

شمس ورور وویل:

«هو، عادت کېږي.»

ثناء وویل:

«ورېندار خو مې هسې نه هم دلته عادت ده، مخکې هم راتله.»

د هغې خبره مې واورېده او موسکی شوم.

پوهنتون ته د تګ لپاره دري ورځې پاتې وې.

په دې درېیو ورځو کې څو ځله صدف ته ورغلم.

په لومړیو کې لا خفه وه، خو اوس به مې خوشحاله لیدله.

زما زړه هم لږ ډاډه شو.

زما ورېندار هم له ثناء سره ښه بلده شوې وه.

کله کله به چې دواړه یو ځای په کوم کار اخته وې، له لرې به مې ورته کتل او داسې به راته ښکارېده لکه صدف چې وي.

زما د خور په شان به یې زما خیال ساته.

که څه هم ثناء زما خپله خور وه، خو هغه هم راته له هغې کمه نه وه.

د هغې حیا، شرم، عزت او درناوي به هر ځل صدف خور رایادوله.

شمس ورور هم خوشحاله و.

د کور فضا بدله شوې وه.

له یوې خوا د صدف د بېلتون تشه وه، خو له بلې خوا د شمس ورور د نوي ژوند خوښي.

او زه د همدې دواړو احساساتو ترمنځ ولاړ وم؛

نه مې غوښتل د خوښۍ پر ځای غم ته ځای ورکړم، او نه مې زړه اجازه راکوله چې د خپل کور د یوې خور د تللو تشه هېره کړم.

خو ژوند همداسې روان و.

یوه ورځ څوک درسره وي، بله ورځ یې د ژوند په بله غاړه کې ځای نیولی وي.

او ته یوازې دومره کولی شې چې د دوی لپاره د زړه له کومې دعا وکړې، بیا خپل سفر ته دوام ورکړې.

مابنام مې شمس ورور ته وویل:

«ورورە، دري ورځې وروسته پوهنتون هم پیلېږي.»

هغه په خوښۍ وویل:

«دا خو ښه خبره ده. الله دې هر ځای کې کامیاب لره.»

«مننه، ورورە.»

ketabton.com - The Digital Library

ډیوی ته مې هم د پوهنتون د پیل خبر ورکړ.

هغه هم ډېره خوشحاله شوه.

اوس چې صدف خور له کوره تللې وه، فکر مې کاوه چې شاید بیا به د کور له فضا سره دومره زړه ونه لګوم؛ خو برعکس، هر څه ورو، ورو بېرته خپل عادي حالت ته تللي وو.

درېیمه ورځ سهار وختي شمس ورور راباندې ناري کړې:

«پاڅه، ناوخته کېږي!»

له خوبه پاڅېدم، اودس مې وکړ او لمونځ مې ادا کړ.

کله چې له کوټې راووتلم، ورېندار مې راغله.

«اظهاره وروره، راځه. هغه بله کوټه کې مې درته چای برابر کړی.»

ورسره ولاړم.

زما جامې او بکس، هر څه یې له شپې تیار کړي وو.

ما وویل:

«مننه، ورېنداري.»

هغې وویل:

«بل ځل داسې مه وایه. دا خو زما کار دی، باید مې کړی وای.»

د هغې خبرې مې زړه ته ولوېدې.

ما په زړه کې احساس کړه چې صدف یوه خور له کوره تللې وه، خو بله خور مې پیدا کړې وه.

چای مې وڅښه.

وروسته مې اکرم ته زنګ وکړ.

بکس مې پر اوږه کړ.

له ثناء او ورېنداري سره مې خدای پاماني وکړه.

شمس ورور هم راسره روان شو.

په لاره کې یې ډېرې پیسې راکړې.

«هر وخت چې هر څه ته ضرورت لرې، بس ما خبر کړه. هېڅ اندېښنه مه کوه. د کور هر څه ته زه پام ساتم.»

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې.

غېږ مې ورکړه.

«ته چې ونه وایې هم، پوهېږم چې ته به له ما نه ښه ساتنه کوې.»

شمس ورور وخندل.

«لیونیه! غټ سړی یې، محصل یې، ته ژاړې؟»

په ژړا کې مې خندا ګډه شوه.

هماغه وخت اکرم هم راورسېد.

ketabton.com - The Digital Library

موټر ته پورته شوو.

موټر چې حرکت وکړ، کلی ورو، ورو شاته پاتې کېده.

ما بیا، بیا شا ته کتل.

زړه مې نه غوښتل هغه مابنامونه، هغه یخه هوا، د ویالي غاړه، د کلي د ځوانانو بنډارونه او هغه ساده ژوند پرېږدم.

هر څه راته دومره نږدې وو، خو موټر هره شېبه تر لیرې کېده.

خو بله لار نه وه.

ژوند همدا دی؛ کله کله باید له هغه ځایه لرې شي چې زړه دې پکې ارام وي، ځکه د خپل ژوند د جوړولو لپاره باید پر ځان خواري وکړې.

له وردګو کابل ته ولاړو.

وروسته د احمدشاه بابا ابدالي د نمایندګۍ خواته لاړو.

شاوخوا نیم ساعت وروسته مو ټکټونه واخیستل.

نیم ساعت وروسته موټر ورو، ورو حرکت وکړ.

له نمایندګۍ راووتلو.

د موټر مخ د کندهار پر سړک شو.

ورو، ورو یې سرعت زیاتېده او زمونږ د ځلورو کلونو د نوي سفر یوه بله پاڼه پرانیستل کېده.

مابنام کندهار ته ورسېدو.

سبا پوهنتون ته ولاړو.

درسونه لا سم نه وو پیل شوي. د لیلیې اړوند کارونه مو خلاص کړل او نور نو کندهار پوهنتون زمونږ د ژوند نوی کور شو.

ورځې تېرېدې.

محصلین ورو، ورو زیاتېدل او درسونه هم پیل شول.

ما درسونه په شوق ویل.

له نویو ټولګیوالو سره بلد شوم، د پوهنتون له چاپېریال سره مې عادت پیدا کړ او د ژوند نوی نظم مې ورو، ورو زده کړ.

په دوو اوونیو کې به مې خامخا یو ځل له ډیوی سره لیدل.

هغه هم په سختۍ له کوره راوتله؛ کله به یې یوه بهانه کوله او کله به یې بله، خو بیا به مو د لیدو لپاره لږه شېبه پیدا کوله.

له شمس ورور سره به مې هره ورځ خبرې کولې.

د کور، کلي او خپلوانو پوښتنه به مې ترې کوله.

هغه به تل تشویق راکاوه.

کلونه په منډه تېرېدل.

ketabton.com - The Digital Library

په دوو مياشتو کې به کور ته تللم، بيا به د يو سمستر او بل سمستر په پای کې هم تللم.

د دوبی په رخصتيو کې به مې له شمس ورور سره په کارونو کې مرسته کوله.

زمونږ مالداري هم زياته شوې وه.

ما به خپل درسونه په شوق لوستل او له ډيوی سره به مې ليدل.

زمونږ مينه هم ورځ په ورځ ژورېده.

څو ځله يې راته ويلي وو:

«مرکه راته راولېږه.»

خو ما به ورته ويل:

«درسونه مې خلاص شي.»

دا يوازې يوه بهانه نه وه.

ما غوښتل لومړی خپل ځان په خپلو پښو ودروم.

ځکه دا زما د ورور هيله هم وه.

ما احساس کاوه چې که واده وکړم، نور به يوازې د خپل ژوند مسؤول نه يم؛ بلکې د يوې بلې انساني د راتلونکي مسؤوليت به هم زما پر غاړه وي.

نو بايد لومړی خپل ځان جوړ کړم.

خو له دې سره يوه وېره هم راسره وه.

تل به مې له ځانه پوښتل:

که داسې وشول چې ډيوه بل چا ته ورکړل شوې؟

که د هغې پلار زما خبره ونه منې؟

که يې زړه نه و چې خپله لور دومره لرې، وردګو ته، ولېږي؟

همدا فکرونه به کله کله زما د ټولو خوشحاليو ترمنځ يو نری سيوری واچوه.

وروستی کال او وروستی سمستر تازه پيل شوی و.

ژوند ډېر بدل شوی و.

هغه هلک چې څو کاله مخکې يې د کلي له ساده ژوند څخه کندهار ته د راتلو پر مهال زړه درزېده، اوس د پوهنتون د څلورم کال محصل و.

ځواني، زده کړې، ښار، ملګرتيا او د ژوند تجربو زه له پخواني ځان څخه ډېر بدل کړی وم.

خو يو شی نه و بدل شوی.

زما او د اکرم ملګرتيا.

مورږ به لا هم اکثره وخت يو ځای وو، يو ځای به خوشحاله کېدو او د پخوانيو ورځو يادونه به مو کوله.

د وروستي سمستر لپاره دواړه ډېر خوشحاله وو.

ځکه د څلور کلن مزل پای ته نږدې وو.

ketabton.com - The Digital Library

یوه شپه مې مطالعه کوله.

کتاب مې مخې ته خلاص و.

د یوې مهمې پانې په منځ کې مې قلم ایښی و چې بیا له هماغه ځایه مطالعه پیل کړم.

ناڅاپه مې ټلیفون ولړزېد.

سکرین ته مې وکتل.

ډیوه وه.

له کوټې دباندې ووتم.

له سلام او کلام وروسته یې په غمجن غږ وویل:

«زما ترور څو ځله راغلې او پلار ته مې وایې چې لور دې زما زوی ته راکړه. نن بیا راغله.»

پښې مې ولړزېدې.

پورته مې اسمان ته وکتل.

ستوري راته داسې ښکاړېدل لکه د شپې په توره پرده کې چې ورو، ورو حرکت کوي.

پښې مې پر ځمکه کلکې شوې.

ژبه مې درنه شوه.

په بنده ژبه مې وویل:

«ښه... نو پلار دې څه وویل؟»

«هغه ورته وویل چې زه له خپلې لور نه پوښتنه کوم.»

«ویې ویل، که کولی شې نو یو کار وکړه، هغه هېڅ نه تېرېږي.»

ما ژر وویل:

«ته غم مه کوه. زه سبا له خیر کور ته زنګ وهم.»

په خوشحالۍ یې وویل:

«سمه ده.»

ټلیفون مې بند کړ.

ډېر خفه شوم.

خو لږ وروسته مې له ځانه سره وویل:

اوس خو پوهنتون هم په ختمېدو دی.

په همدې وروستي کال کې شمس ورور څو ځله راته ویلي وو چې واده وکړه، خو ما به ورته ویل:

«پرېږده، پوهنتون خلاص شي.»

اوس نو هغه وخت رارسېدلی و.

ما وېره لرله چې هسې نه ډیوه له لاسه ورکړم.

هماغه شپه مې د اوږدې مودې هغه زړه‌نازړه حالت مات کړ.

ketabton.com - The Digital Library

ژر مې صدف خور ته زنګ وکړ.

ټوله کیسه مې ورته وکړه.

هغې وویل:

«دا هماغه ده؟»

ومې خندل.

«هو، خوږې.»

«اوس دې په ربښتیا خوښه ده؟»

بې له ځنډه مې وویل:

«هو.»

هغې وویل:

«باید زما هم خوښه شي.»

ما ژر وویل:

«حتماً به دې خوښه شي.»

«و به ګورو. زه سبا له خیر کور ته ځم، شمس ورور ته به ووایم.»

«مننه.»

ټلیفون مې بند کړ.

خو هغه شپه خوب رانه ورک و.

تر سهاره مې سترګې پټې نه شوې.

فکرونه مې یو بل پسې راتلل.

کله به مې د ډیوې خبره په ذهن کې ګرځېده، کله به د هغې د پلار فکر راتله، کله به مې د شمس ورور څېره سترګو ته درېده.

سهار وختي ویده شوم.

لا مې سترګې نه وې سمې پټې کړې چې اکرم راباندې ناري وهلې:

«ژر کوه! ناوخته کېږې، پوهنتون ته ځو.»

سترګې مې خلاصې کړې.

زړه مې هېڅ قرار نه درلود.

«نه ځم.»

اکرم حیران شو.

«خیرت دی؟»

«هو... نن مې زړه نه کېږي.»

«سمه ده.»

ketabton.com - The Digital Library

بیا ویده شوم.

کله چې سترګې مې خلاصې کړې، یوولس بجې وې.

ژر پاڅېدم.

ټلیفون ته مې وکتل.

د شمس ورور دوه زنګونه راغلي وو.

زړه مې درب شو.

سمدستي مې زنګ ورته وکړ.

«سلام، هلکه! څنګه یې؟»

«وعلیکم السلام، مننه. ته ښه یې؟»

«هو، زه بیخي ښه یم. خو ته راته ښه نه ښکاري.»

ما هڅه وکړه عادي غږ وکړم.

«نه، وروره، ښه یم.»

شمس ورور وویل:

«ماته چې صدف څه ویلي، هغه رښتیا دي؟»

په ټیټ غږ مې وویل:

«هو.»

یوه شېبه چوپ شو.

بیا یې په خندا کې وویل:

«ولې دې وختي نه ویل؟ دا خو ووایه چې څه وخت درشو.»

له خوشحالی مې خوله خلاصه پاتې شوه.

بې اختیاره مې وویل:

«نن مابنام.»

هغه وخندل.

«سمه ده، سبا سهار ځان دررسوم.»

ټلیفون مې بند کړ.

ژر مې ډیوی ته زنګ وکړ.

هغې هم د خبرو له پیله پوه شوه چې څه شوي.

ډېره خوشحاله شوه.

«ببغمه شه. د پلار کیسه ماته پرېږده.»

ما وخندل.

ketabton.com - The Digital Library

«سمه ده، نوره خپله پوهیږي.»

د زړه پر سر مې چې کوم دروند بار پروت و، لږ سپک شو.

اکرم ته مې تر اوسه د تېرې شپې کیسه نه وه کړې.

کله چې مې ورته ټوله خبره وکړه، هغه هم ډېر خوشحاله شو.

په خندا یې وویل:

«یاره، یوه ماته هم پیدا کړه!»

ما وخندل.

«انجلۍ هم درته زه پیدا کړم؟»

هغه وخندل.

«نه یاره، موږ ته چې پلار او مور خوښه کړه، زما خوښه ده.»

بیا یې راته وکتل او په خندا یې وویل:

«خو ته له ما جلا یې.»

ما هم وخندل.

خو زما په زړه کې هغه شېبه یوازې یوه خبره ګرځېده:

څلور کاله مې انتظار ایستلی و.

او اوس، د همدې انتظار وروستۍ دروازه مې مخې ته ولاړه وه.

سبا سهار وختي مې ټلیفون زنګ وکړ.

«موږ راورسېدو.»

ما وویل:

«پخیر راغلئ.»

«هو، اوس دا ووایه چې چېرته درشو؟»

«له اډې نه راووځئ، په ټکسي کې شهیدانو چوک ته راشئ.»

سمه ده.

زه هم ژر پاڅېدم.

اودس مې وکړ او لمونځ مې ادا کړ.

اکرم ته مې غږ وکړ:

«هله، لمونځ وکړه.»

«سمه ده، پاڅېږم.»

«زه شمس ورور ته ورځم.»

هغه لا په خوب کې و.

ما چې اکرم راویښ کړ، سر یې له بالښت څخه راپورته کړ او په خوبولي غږ یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«زه درسره ولاړ شم؟»

«نه، يوازې ځم.»

بيا يې سر پر بالښت کېښود، سترګې يې پټې کړې او په کراره يې وويل:

«ښه، سمه ده.»

زه هم له اطاق راووتلم او د شهيدانو چوک پر لور روان شوم.

په لاره کې مې ټليفون زنګ وکړ.

«چېرته يې؟»

«اودس او لمونځ مې کاوه، دا دی دررسېږم.»

سهار وختي و او لا دومره ګڼه ګوڼه نه وه.

له لرې مې صدف خور او شمس ورور وليدل.

موټر ودرېد.

ورسره مې سترې مشې وکړل.

«راځئ.»

صدف وپوښتل:

«چېرته؟»

«هوټل ته. سترې به ياست، لږ خوب به وکړئ.»

دواړو څه ونه ويل.

هوټل ته ولاړو.

دوی هم لومړی اودسونه او لمونځونه وکړل.

وروسته خپلې کوټې ته ننوتل.

زه دباندې راووتلم.

سهار لا تازه و. هوا ښکلې وه او د شپې پاتې يخني ورو، ورو د ورځې په رڼا کې ورکېده. د لمر رڼا هم په کراره پر ښار خپرېده.

لږ وروسته ببرته کوټې ته لاړم.

دوی ويده شوي وو.

زه هم هماغلته پرېوتم.

نه پوهېدم چې خوب کله وړی وم.

يوه شېبه وروسته مې د شمس ورور غږ واورېد:

«هلکه! پاڅه!»

ژر راپاڅېدم.

شمس ورور راته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

«ته پوهنتون ته ولې نه یې تللی؟»

ما سترګې وموښلې.

«وروره، هېڅ نه پوهیږم. څنګه چې خوب یوړم، هماغسې ویده شوم.»

ساعت ته مې وکتل.

نهه نیمې بجې وې.

له کوټې راووتلم.

چای مې راوغوښت.

مور چای ته کښناستو.

شمس ورور په نرمه لهجه وپوښتل:

«دا دې خوښه ده؟»

ما ځان داسې وښود لکه نه چې پوهیږم.

«د چا؟»

هغه وخندل.

«خبره بلې خوا ته مه بیایه.»

ما نرمه موسکا وکړه.

«هو، وروره.»

شمس ورور هم وخندل.

«خوشبخته ده چې ته یې پیدا کړی یې.»

ما په کراره وویل:

«نه، وروره، زه خوشبخته یم.»

صدف خور وویل:

«و به ګورو چې د دومره صفت کولو ارزې که نه.»

«سمه ده، خوري.»

د سهار له چای وروسته مې ټکسي ته د ډیوې د کور پته ورکړه.

«دوی ورسوه.»

شمس ورور راته بد، بد وکتل.

«شرمیږې هم نه؟ د کور پته یې هم درمعلومه ده!»

سترګې مې ښکته کړې.

موټر روان شو.

ما ژر ډیوی ته زنګ وکړ.

وګوره، دوی اوس دررسیږي. ځان ورته ښایسته جوړه کړه چې زما د خور هم خوښه شې.

ketabton.com - The Digital Library

په ناز يې وويل:

«ولې؟ اوس بدرنګه يم؟»

«اوف! داسې نه وايم. خو بايد لکه څنګه چې په لومړي ځل دې زما هوش له ځانه وړی و، اوس پر خور هم هماغه چل وکړې.»

کټ، کټ يې وخندل.

«بېغمه شه، مازې يې وګوره.»

ټليفون مې بند کړ.

خو زړه مې نه ارامېده.

يوې خوا ته به روان وم، بلې خوا ته به ګرځېدم.

ځان مې په هر څه بوختاوه.

په بازار کې وګرځېدم، دوکانونه مې کتل، خلکو ته مې کتل، خو فکر مې بل ځای و.

هره شېبه به مې ذهن ته هماغه يوه پوښتنه راتله:

که صدف يې خوښه نه کړې؟

دولس بجې وې چې د شمس ورور زنګ راغی.

ژر مې ځواب کړ.

«هلکه، چېرته يې؟ په هوټل کې نه يې.»

«دا دی دباندې يم، درغلم.»

ژر هوټل ته روان شوم.

د دروازې مخې ته شمس ورور راغی.

«چېرته ځې؟»

«دباندې وځم، درځم.»

زه په بېړه کوټې ته پورته شوم.

صدف ناسته وه.

تر هر څه مخکې مې پوښتنه وکړه:

«خورې، خوښه دې شوه؟»

تندی يې لږ کونځې کړ.

زړه مې يو دم راولوېد.

هغې وخندل.

«نه، وروره، ډېره مې خوښه شوه.»

ما هم ساه واخيسته.

«ښه، پلارې شمس ورور ته څه ويلې؟»

ketabton.com - The Digital Library

صدف وویل:

«شمس ورور ته یې ویلي چې خپل خوریي ته یې څو ځله غوښتي، خو د ډیوې نه خوښیږي. که څه هم دوی دواړو یو بل لیدلي، خو بیا هم غواړي چې خپله لور نه پوښتنه وکړي.»

لږه شیبه چوپه شوه.

«او ویلي یې دي چې مورږ تاسې نه پیژنو. که بده نه وي، تر سهاره وخت راکړئ.»

شمس ورور هم خپلې کورنۍ او کلي اړوند ډېر څه ورښودلي وو.

اوس نو مورږ تر مابنامه د یوه ځواب په تمه وو.

زه ژر له کوټې ووتم.

ډیوی ته مې زنګ وکړ.

ټوله کیسه مې ورته وکړه.

هغې وویل:

«نور یې ماته پرېږده.»

«سمه ده، خو زه وېرېږم.»

«مه وېرېږه. الله مهربانه دی.»

ټلیفون مې بند کړ.

ورځ راته هېڅ نه ټېږده.

د ساعت ستنې به روانې وې، خو ماته به داسې ښکاږده لکه وخت چې په قصد ورو شوی وي.

زه هم له دوی سره په هوټل کې پاتې شوم.

شپه مې هم په هوټل کې تېره کړه.

هرځومره چې سهار نږدې کېده، زما وارخطایي هم زیاتېدله.

سهار مې دوی ته وویل:

«زه پوهنتون ته ځم.»

شمس ورور وویل:

«سمه ده. مورږ به بیا احوال درکړو.»

پوهنتون ته ولاړم.

په ټولګي کې ناست وم، خو فکر مې له پوهنتونه ډېر لیرې تللی و.

لکه د فکرونو کوم مرغه چې وزرونه یې غوړولي وي او د ټولګي له کړکیو دباندې الوتلی وي.

څو ځله له ټولګي څخه راووتلم، لږ به وګرځېدم او بیا به ببرته ټولګي ته ننوتلم.

لس بجې وې چې ټلیفون مې زنګ وکړ.

له استاد څخه مې دباندې د تلو اجازه وغوښته.

هغه هم اجازه راکړه.

ketabton.com - The Digital Library

له صنفه راووتلم.

د ټلیفون پر سکرین مې د شمس ورور نوم ولید.

زړه مې درب شو.

ژر مې ځواب کړ.

«سلام.»

«وعلیکم السلام.»

«څه حالات دي؟»

یوه شېبه یې چوپتیا وکړه.

بیا یې وویل:

«کیسه خرابه شوه. کار ونه شو.»

زما له خولې هېڅ غږ ونه ووت.

هغه ژر وویل:

«مه وارخطا کېږه... مبارک دې وي!»

زه هماغسې وچ ولاړ وم.

لکه ساه مې چې د یوې شېبې لپاره هیره شوې وي.

«مبارک دې وي.»

د شمس ورور غږ بیا راغی.

زه لا هم غلی وم.

څو ځله یې راباندې غږ وکړ.

ما احساس وکړ چې پښې مې پر ځمکه ولاړې دي، خو ذهن مې لا په هماغه یوه جمله کې بند پاتې دی.

بالاخره مې وویل:

«وروسته درته زنګ وهم.»

هغه لا څه ویل، خو ما ټلیفون بند کړ.

صنف ته ښېرته ننوتلم.

استاد ته مې وویل:

«یو کار پیدا شو، کولی شم ولاړ شم؟»

«هو، تللی شې.»

له ټولګي ووتم.

اکرم راته وکتل.

«څه شوي؟»

ما په کراره وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«کوژده مي شوه.»

د هغه خوله له خندا ډکه شوه.

په ټیټ غږ یي وویل:

«مبارک!»

ما هم مننه وکړه.

«زه دوی ته ورځم.»

«سمه ده.»

له ټولګي په بیړه ووتم.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د بنې لاس له عمومي دروازې څخه دباندې شوم او په چټکو قدمونو روان شوم.

شمس ورور ته مې زنګ وکړ.

«وروره، چېرته یې؟»

«هوټل کې.»

«زه هم درسره رسیږم. له هوټله راووځئ.»

«سمه ده.»

زه ټکسي ته کښناستم.

ډرېور وپوښتل:

«چېرته ځې؟»

ما بې له ځنډه وویل:

«شهیدانو چوک.»

ډرېور نور څه ونه ویل.

موټر روان شو.

ما د موټر له بنیښې دباندې کتل.

د کندهار سړکونه، خلک او دوکانونه ټول زما د سترګو مخې ته تېرېدل، خو زما فکر یوازې په یوه ځای کې و.

څلور کاله انتظار...

څلور کاله مینه...

او اوس هغه ورځ رارسېدلې وه چې زما د ژوند یوې لویې هیلې یو نوم پیدا کړی و.

ډیوه.

له ټکسي بنکته شوم.

صدف خور او شمس ورور د سړک پر غاړه ولاړ وو. ورغلم، ستړي مشي مې ورسره وکړل.

شمس ورور په خندا وویل:

«هلکه، مبارک!»

ketabton.com - The Digital Library

سر مي ښکته کړ او په ټیټ غږ مي وویل:

مننه.

صدف خور هم مبارکي راکړه.

ما وپوښتل:

«ښه، اوس نو څه کوئ؟»

شمس ورور وویل:

«اوس نو ځو. که ته راسره څو ورځي لپاره ځي؟»

ما سر وخوځاوه.

«نه، نه شم تللی. تاسي ولاړ شئ.»

«سمه ده. لس ورځي وروسته د غټ دسمال پروګرام دی، بیا خو به حتماً راسره ځي.»

ما وخندل.

«سمه ده.»

دوی ټکسي ته پورته شول او زه هم ورسره د کابل اډې پورې لاړم.

کله چې هغوی موټر ته پورته شول، زه بېرته د خپل اطاق پر لور روان شوم.

خو نن هر څه راته بدل ښکارېدل.

هماغه کوڅې وې، هماغه خلک، هماغه دوکانونه او هماغه شور؛ خو زما په سترګو کې ټول ښار رنګین شوی و. داسي راته ښکارېده لکه نړۍ چې په پټه له ما سره خوشحاله وي.

هماغه وخت مې ټلیفون زنګ وکړ.

سکرین ته مې وکتل.

ډیوه.

بې اختیاره مې پر شونډو موسکا خپره شوه.

ټلیفون مې پورته کړ.

«سلام.»

له هغې سره مې لږې خبرې وکړې.

بیا یې وویل:

«مصروفه شوم، بخښنه غواړم.»

«کومه خبره نه ده.»

لږه شېبه چوپتیا شوه.

بیا یې په خوږ غږ وویل:

«کوژده دې مبارک شه.»

ما وخندل.

ketabton.com - The Digital Library

مننه، ستا دې هم مبارک وي.

هغې په تعجب وویل:

«ماته يې ولې مبارک کوې؟ ورشه خپلې کوژدنې ته دې ورکړه!»

ما په خندا وویل:

«هغه سمه لکه شیشکه ده، زه ورته نه شم ویلی، زما له طرفه ورته مبارکي ورکړه.»

هغې وخندل.

«کوژدنې دې ویلي چې هغه اطرافي ته زما په شان شاهزادګۍ ورسېده.»

ما هم وخندل.

«هغه شاهزادګۍ ته دې ووایه چې اطرافي چې څه وغواړي، لاس ته يې راوړي.»

کټ، کټ يې وخندل.

«جان مې، خوشحاله يې؟»

ما په ټیټ غږ وویل:

«په ژوند کې مې تر ټولو لویه خوشحالي همدا ده چې ته مې لاس ته راوړې.»

«زما هم.»

ما لږه شېبه چوپتیا وکړه.

بیا مې په ټوکه وویل:

«میرمني...»

هغې سمدستي وویل:

«ها؟ ووایه!»

ما وخندل.

«هسې مې وویل چې د میرمن نوم خوند کوي.»

کټ، کټ يې وخندل.

«ښه، خوند کوي؟»

«هو، بېخي ډېر.»

ما بیا وپوښتل:

«اوس نو د بېلتون هېڅ وېره نشته؟»

هغې په کراره وویل:

«هو. پلار مې راته ویل چې لوړې، هغه ځای ډېر لیرې دی. ما ورته وویل چې زه له اظهار پرته له بل چا سره کوژده نه کوم. مجبور شو.»

لږه شېبه غلې شوه.

بیا يې وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library

«خو خفه دی چې دومره لرې یې کوژده کړم»

ما وخندل.

«خیر دی، عادت به شي.»

ټلیفون مې بند کړ.

له ډیرې خوشحالۍ نه په ځان نه پوهیدم.

لکه زړه مې چې د سینې دننه د ځای پر ځای کېدو پر ځای په هوا کې ګرځېده.

اکرم ته مې زنګ وکړ.

«چېرته یې؟»

«اطاق کې یم.»

«راشه چوک ته، چې روش درباندې وخورم!»

هغه وخندل.

«سمه ده، درغلم.»

له هغې ورځې وروسته مې له ډیوې سره خبرې لا ډېرې شوې.

خو درسونه مې د پخوا په شان نه وو.

وروستی سمستر و، او د څلور کلونو د پای ورځو ته نږدې کېدو سره به کله کله کتاب راته مخې ته پروت و، خو ذهن مې به په بل ځای کې و.

کله به مې د درس پاڼه اړوله، خو سترګې به مې پر لیکو وې او فکر به مې د هماغه یوې ورځې په لور تللی و:

د غټ دسمال ورځ.

لس ورځې ډېرې ژر تېرې شوې.

د غټ دسمال لپاره له وردګو څخه زمونږ نږدې خپلوان راغلل. درې موټر وو.

هغه وخت زه په پوهنتون کې وم.

اکرم ته مې وویل:

«کالي دې ټولوه، ځو وردګو ته.»

هغه بې له ځنډه وویل:

«ته ولاړ شه، زه نه ځم.»

ما ورته وکتل.

«یوازې د یوې پوښتنې ځواب راکړه.»

«پوښتنه وکړه.»

«تر اوسه پرته له تا تللی یم؟»

هغه لږه شېبه راته وکتل.

ketabton.com - The Digital Library

«ته خو هم کنه، لیونی یې!»

ما وخندل.

«هو، همداسې یم.»

ما له بل چا سره نه و لیدلي.

شمس ورور او نور خپلوان نېغ د ډیوې کور ته تللي وو. هلته یې ډوډۍ او نور هر څه برابر کړي وو.

مازیګر شمس ورور زنګ راکړ.

«چېرته یې؟»

«پوهنتون کې یم.»

«سمه ده. ځان برابر کړه، موږ درځو. د پوهنتون دباندې درپرو.»

«زه درځم.»

«ډېرې خبرې مه کوه، ژر کوه.»

«اکرم هم راسره دی. په موټر کې ځای شته؟»

هغه وخندل.

«ته به وایې چې زه نه پوهېدم.»

ما هم وخندل.

له شنه چمنه راووتم.

ورو، ورو د پوهنتون د دروازې پر لور روان شوم.

لا دروازې ته نږدې شوي نه وو چې موټرونه ودرېدل.

د مخکنې موټر پر مخ یو سور، غټ دسمال ټینګ ټرل شوی و.

اکرم چې موټر ته یې وکتل، وویل:

واه!

ما وخندل.

«غم مه کوه، ستا وخت به هم راشي.»

له پوهنتونه چې راووتلو، ټول خپلوان له موټرو راکوز شول.

له ټولو سره مې ستړي مشي وکړل.

هر چا راته مبارکي ویله.

ځینې خلک چې به له سړکه تېرېدل، زموږ موټرو او دسمال ته به یې حیران، حیران کتل.

د شمس ورور غږ راغی:

«موټر ته پورته شئ!»

موږ هم موټرو ته پورته شوو.

د بسم الله په ویلو سره موټرونه روان شول.

ketabton.com - The Digital Library

مابنام مو لمونځ په دامان نومي ځای کي وکړ.
له لمانځه وروسته بېرته موټرو ته پورته شوو.
موټر د کاکا و او د کاکا زوی مې هم راسره ناست و.
هغه یوه مسته سندره ولګوله او موټر بیا روان شو.
په موټر کي مو ډېرې کیسې وکړې.
کله به لږ ویده شوم، کله به د سړک په کوم جمپ کي بېرته راویښ شوم.
شپه ورو، ورو ژوره کېدله.
بالاخره د شپې شاوخوا دوه بجې موټرونه د کلي پر لور واوښتل.
ټول خلک ویده وو.
خو زموږ کور له شور او خوشحالۍ ډک و.
کله چې کور ته نږدې شوو، ښځې او نارینه له کوره راووتل.
په نیمه شپه کې یو عجیبه شور جوړ شو.
د شپې تیاره د زرینو ټکانو په رڼا کې روښانه کېده او د کلي خاموشه فضا د مبارکیو او خوشحالۍ له غږونو ډکه وه.
کور ته ننوتلو.
ډوډۍ مو وخوړه.
ټول ډېر ستړي وو.
ژر مو د خوب ځایونه ونیول.
سهار لا ښه روښانه شوی نه و چې په حجره کې مې د کاکا غږ واورېد:
«پاڅېږئ! لمونځونه وکړئ!»
په ډېر زحمت راپاڅېدم.
سترګې مې درنې وې او داسې احساس مې کاوه لکه خوب لا هم له ما نه نه وي جلا شوی.
لمونځ مې وکړ.
بیا مې ثناء ته وویل:
«زما په کوټه کې څوک شته؟»
هغې وویل:
«صدف خور او عمه جانه دي.»
«سمه ده.»
بېرته حجرې ته راغلم.
مېلمانه ډېر وو.
کله چې سپین ږیري په حجره کې وي، بیا څوک د شرم له امله په اسانۍ خوب نه شي کولی.

ketabton.com - The Digital Library

حجري ته مې وکتل.

اکرم او د کاکا زامن نه وو.

ژر مې اکرم ته زنګ وکړ.

«چېرته یې؟ زه مو داسې پرېښودم؟ تاسې خو وتښتېدئ!»

هغه په خوبولي غږ وویل:

«یاره، خوب ته مو پرېږده.»

«راځه، دروازه خلاصه ده. زمونږ حجري ته ټول هلکان همدلته دي.»

په بیړه ورغلم.

ټول هلکان ګډ وډ پراته وو.

ما څه ونه ویل.

د اکرم څنګ ته مې ځان واچاوه او په توده کمپله کې ورسره پټ شوم.

هغه په کراره وویل:

«له تا خلاصون نشته.»

ما هم ورو وویل:

«نشته، خلاصون نشته. هله، ویده شه.»

ماته هم ډېر خوب راتله.

له څو شېبو وروسته مې سترګې پټې شوې.

د شپې شور، د سفر ستړیا، د خوشحالۍ خبرې او د راتلونکې ورځې خیالونه ټول ورو، ورو له ذهنه لرې شول.

او زه بیا د خوب په نړۍ کې ورک شوم؛ داسې خوب چې تر شا یې د یوه نوي ژوند د پیل احساس پروت و.

یو وخت مې د شمس ورور غږ واورېد:

«هلکانو! پاځئ، تاسې دلته راغلي یاست!»

ما هېڅ غږ ونه کړ.

بیا یې په لوړ غږ راباندې ناري کړې:

«اظهاره! هله، پاځه، غرمه ده!»

سترګې مې ورو ورو خلاصې کړې.

کوټه له سپینې رڼا ډکه وه. د کړکۍ له لارې د لمر وړانګې پر دېوالونو خورې شوې وې او داسې معلومېده لکه سهار چې ډېر پخوا له کوره وتلی وي او زه لا هم د خوب په نړۍ کې پاتې یم.

څنګ ته پروت ټلیفون مې راواخیست او ساعت ته مې وکتل.

یولس بجې وې.

ربښتیا هم ناوخته شوی و.

ژر راپاڅېدم.

ketabton.com - The Digital Library

«شمس وروره، دا دی پاڅېدم!»

له ځایه راووتم.

یو د کاکا زوی مې نه وو.

زه هم له کوټې راووتلم او کور ته ننوتلم.

کور له مېلمنو ډک و.

په هره خوا کې د خلکو تګ راتګ و، د خبرو غږونه وو او د کلي د یوې لویې خوښۍ هغه ځانګړی شور و چې سړی پکې د خپل کور د پخوانۍ خاموشۍ ځای نه شي پیدا کولی.

سیده خپلې کوټې ته لاړم، کالي مې واغوستل او ځان مې برابرولو.

صدف خور راغله.

په خندا یې وویل:

«دا نو څنګه خوب و؟»

ما وخندل.

«خوږې، ډېر ستړی وم.»

هغې وویل:

«ښه، دومره ډېر مېلمانه راغلي وو او ته لا اوس راپاڅېدې؟ اوس خو هر څه تېر شول.»

ما وخندل.

«نه، ډوډۍ لپاره مو رابللي. تراوسه لا راغلي هم نه دي.»

«ښه، سمه ده.»

هماغه وخت خاله مې کوټې ته راننوته.

«څنګه یې، زویه؟»

«ښه یم، خاله.»

هغې لږ راته وکتل، بیا یې په موسکا وویل:

«ډېر فرق دې کړی. هغه پخوا په شان نه یې پاتې. دې مسافرۍ او پوهنتون مورږ ټول درنه هېر کړو، او اوس خو دې، ماشاءالله، کوژده هم وکړه.»

ما وخندل.

«خاله، ډېر وخت تېر شوی، منم چې بدلون مې کړی، خو دا درسره نه منم چې هېر کړي مې یاست. ته مې هم ګورې چې هر وخت په پوهنتون کې یم.»

خاله مې سر وخوځاوه.

«هو، زویه، ته هم ښه وایې.»

له دباندې د شمس ورور غږ راغی:

«اظهاره! چېرته یې؟ ژر کوه!»

ketabton.com - The Digital Library

ورغلم.

«دا دی، وروره، دلته یم.»

«ژر کوه، مېلمانه په زیاتېدو دي. هلکان راخبر کړه.»

«سمه ده، وروره.»

اکرم او د کاکا زامنو ته مې زنګونه وکړل.

«ځانونه راورسوی، مېلمانه راغلل.»

«سمه ده، درځو.»

څو شېبې وروسته هغوی هم راورسېدل.

د نارینه وو لپاره یوه حجره له مېلمنو ډکه وه، او په کور کې له هغې څو برابره ښځینه مېلمانه ناستې وې.

زه او د کاکا زوی کور ته ننوتلو او تر حجرې پورې مو ډوډۍ په بیړه، بیړه راوړه.

هلته اکرم او زمور د کاکا زوی مېلمنو ته د ډوډۍ په خدمت بوخت وو.

مېلمنو ډوډۍ وخوړه.

وروسته مو چای ورواچاوه.

چای یې هم وڅښه او له لږې ناستې وروسته ټولو وویل چې جماعت ته د لمانځه لپاره ځو.

مور هم ورسره روان شوو.

جمعه شوې وه.

زمور له ډلې یو مېلمه مخکې شو او مور هم ورپسې ودرېدو.

له لمانځه وروسته شمس ورور وویل:

«یو ځل راځئ، زمور فصل وګورئ.»

هغوی هم بې له کومې خبرې ورسره روان شول.

زه، اکرم او د کاکا زامن هم ورپسې روان شوو.

د کاکا زوی مې په خندا وویل:

«اظهاره، په وردګو کې دومره نجونې نه وې چې تا په کندهار کې پیدا کړه؟»

ما وخندل.

«داسې نه ده، یاره. بس د نصیبونو فیصلې دي.»

«ته هم ښه وایې.»

فصل ته ورسیدو.

په دې موسم کې شفتالو هم پخېدلو پیل کړي وو. د منو ګڼو ونو ترمنځ شنه وابنه غوړېدلي وو او د ونو دومره سیوری و چې د لمر وړانګې په سختۍ تر ځمکې رسېدې.

شمس ورور وویل:

«هله اظهاره، لږ شفتالو راکښته کړه.»

ketabton.com - The Digital Library

سمه ده.

زه د ونو پر لور لاړم.

د مېلمنو خبري له شاته اورېدل کېدې، خو زه په زړه کې له کلي سره نښتی وم. د پوهنتون په اوږدو کلونو کې به مې ډېر ځله د همدې شنو ځایونو، د ونو د سیوري او د ویالي د اوبو ارمان کړی و.

دوه دري شفتالو مې رابنکته کړي وو چې ټلیفون مې زنګ وکړ.

سکرین ته مې وکتل.

ډیوه وه.

اکرم ته مې سترګه ووهله.

هغه په خندا پوه شو.

د کاکا زوی وپوښتل:

«څوک دی؟»

«یو ملګری مې دی.»

له هغوی لږ لیرې شوم.

ټلیفون مې پورته کړ.

«سلام، څنګه یې جان مې؟»

«وعلیکم السلام، ښه یم. ته څنګه یې؟»

«مننه، ښه یم.»

«چېرته یې او څه کوې؟»

ما وخندل.

«کور کې یم، هېڅ هم نه کوم.»

هغې هم وخندل.

«تاسې ښه پخیر ورسېدئ؟»

«هو، ببخي ښه وو. اوس مو مېلمانه باغ ته راوستي دي.»

د توت د ونې سیوري ته، د ویالي پر غاړه کېناستم.

د ویالي اوبه په کراره روانې وې او د لمر وړانګې یې پر سطحه لکه وړې، وړې سپینې توتې ځلولې.

ډیوې وویل:

«آه، زما شنه ځایونه ډېر خوښ دي.»

ما وخندل.

«غم مه کوه، رابه شي. ټول میږي تاته په تمه دي چې څه وخت به مو مړوې.»

هغې وخندل.

«اظهاره، ګوره، زما خو دا کارونه نه دي زده.»

ketabton.com - The Digital Library

ما په خندا وویل:

«لیونی، زما خو یې زده دي. هغه څه وایي چې...»

قربان دې شمه زه بلد یم له لونو سره.

ته تش په پوله راته کینه یاره.

هغې کټ، کټ وخندل.

«چېرته یې؟»

«د ویالي پر غاړه ناست یم.»

«څنګه ځای دی؟»

«شین دی، اوبه پکې بهېږي او د ونو سیوری پرې پروت دی.»

هغې په کراره وویل:

«کاشکې درسره وای.»

«غم مه کوه، دا وخت به هم راشي. بیا به دې د همدې ویالي غاړې ته راوړم. په شنو اوبو کې به لاسونه وهې او زه به له ونې نه درته توت رابنکته کوم.»

«ان شاءالله.»

«بنه ګراني، مېلمانه دي. بد کار دی، اوس به وایي چې چېرته ورک شوې؟»

«سمه ده، خو دا ووایه چې ببرته کله راځې؟»

«دوه درې ورځو کې درځم.»

«بنه، سمه ده. الله په امان.»

«خدای پامان.»

ټلیفون مې بند کړ.

له ویالي لږ بنکته شوم او ببرته ورغلم.

شمس ورور وپوښتل:

«هلکه، چېرته وې؟»

د کاکا زوی مې مخکې شو.

«هغه ملګري یې زنګ ورته کړی و.»

شمس ورور بنکته وکتل او وخندل.

«بنه ملګری وو.»

ما هم موسکا وکړه، خو څه مې ونه ویل؛ نه مې غوښتل چې مېلمانه پرې پوه شي.

شفتالو یې راټول کړي وو.

ما هم څو دانې واخیستل او په خوند مې وخوړل.

وروسته ببرته د کور پر لور روان شوو.

ketabton.com - The Digital Library

مابنام ته یوازې یوه خاله او یوه عمه پاتې وې.

نور مېلمانه یو په بل پسې تللي وو.

هر څه په خیر تېر شول.

خو مابنام چې ډوډۍ مو وخوړه، لا مو د کور شور نه و ختم شوی چې یوه ډله ښځې بیا راغلې.

مور حجرې ته راووتلو.

لږه شېبه وروسته له کوره د سندرو غږونه پورته شول.

ما کتل، د کاکا زامن مې هم راورسېدل.

اکرم ته مې هم زنګ وکړ.

«راشه.»

هغه هم راغی.

تر نیمې شپې پورې مو مجلس، سندرې او خبرې روانې وې.

کلی داسې ښکارېده لکه له ډېرې مودې وروسته یې زړه خلاص شوی وي.

درېیمه ورځ مې له کوره خدای پامانې وکړه او بېرته د کندهار پر لور روان شوو.

دا ځل مې ډېره بېړه وه.

په زړه کې مې ویل:

هسې هم وروستی سمستر دی؛ بیا به د تل لپاره راځو. وروسته به د همدې ورځو ارمان کوو.

وخت تېرېده.

د وروستي سمستر امتحانونه راورسېدل.

مور هم درسونو ته ډېر زور ورکړ.

د څلور کلن مزل وروستۍ ورځې وې او هره ورځ به راته د پخوا په پرتله ارزښتمنه ښکارېده.

یوه مابنام شمس وروړ زنګ راکړ.

له سلام، کلام وروسته یې وپوښتل:

«هلکه، څومره وخت دې پاتې دی؟»

«پنځلس ورځې، وروره. بیا درځم.»

هغه لږه شېبه چوپ شو.

بیا یې وویل:

«څلور میاشتې کېږي چې کوژده دې شوې. ما ویل فراغت ته به دې واده برابر کړو. څنګه ده؟»

زه حیران شوم.

«خو وروره، دومره ژر؟ پیسې...»

ketabton.com - The Digital Library

هغه وخندل.

«د هغه مشکل نشته. ته ووایه، ستا څنګه خوښه ده؟»

ما وویل:

«څنګه چې ته وغواړې.»

«سمه ده.»

ټلیفون یې بند کړ.

زه ډېر خوشحاله شوم.

اکرم ته مې هم خبره وکړه.

هغه هم ډېر خوشحاله شو.

دوه ورځې وروسته شمس ورور ناڅاپه راغی.

ما وپوښتل:

«خیرت دی؟»

«هو، خیرت دی. غواړم خسر ته دې یو ځل ورشم.»

«ښه، سمه ده.»

شپه یې راسره تېره کړه.

سهار مو چای وڅښه، بیا هغه د ډیوې د کور پر لور روان شو.

زه هم امتحان ته ولاړم.

کله چې ببرته اطاق ته راغلم، شمس ورور هلته ناست و.

«څه وخت راغلې؟»

«اوس راغلم.»

ما وپوښتل:

«ښه، څه یې وویل؟»

هغه وخندل.

«رضا مې کړه. د فراغت غونډه او واده به دې په یوه ورځ وي.»

زړه مې له خوشحالۍ ډک شو.

اکرم هم راسره ولاړ و.

له خولې مې بې اختیاره راووتل.

«واه!»

بیا مې اکرم ته وکتل.

«شرم دی، شمس ورور ناست دی!»

هغه لږ لیرې شو.

ketabton.com - The Digital Library

ما شمس ورور ته وویل:

«وروره، هلته خو ډېر کارونه دي. یوازې به ستړی شې. که له امتحانونو وروسته مو کړی وای، څنګه به وه؟»

شمس ورور وویل:

«نه، ګوره، د کاکا زامن هم راسره دي. هر څه برابروم.»

«سمه ده.»

مابنام شمس ورور ببرته روان شو.

ما ډیوی ته زنګ وکړ.

«وګوره، هغه ورځ رانږدې شوه.»

هغې په ناز ډک انداز وویل.

«کومه ورځ؟»

ما وخندل.

«زموږ د یو ځای کېدو ورځ.»

د هغې له غږه خوشحالي له ورایه معلومېده.

«ډېر وخت نه دی پاتې.»

«نه، یوازې یوولس ورځې.»

هغې وخندل.

«دومره وخت مې درته انتظار کړی، اوس یې هم کولی شم.»

ما هم وخندل.

«ښه، سمه ده.»

ټلیفون مې بند کړ.

له هغې ورځې وروسته به مې هره ورځ معلومات کول:

«تیاري څنګه روانه ده؟»

او دوی به راته ډاډ راکاوه:

«هر څه سم روان دي.»

زه به بیا کتاب ته کېناستم، خو د کتاب تر منځ به کله ناکله د یوې بلې ورځې تصویر رابنکاره شو؛ هغه ورځ چې څلور کاله انتظار، د پوهنتون وروستۍ پاڼه او د ژوند نوی پېراو به سره یو ځای کېدل.

امتحانونه خلاص شول.

درې ورځې وروسته مو د فراغت غونډه وه.

ما شمس ورور ته زنګ وکړ.

«وروره، داسې کیسه ده...»

هغه وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«مور درځو.»

ما لږ په ټیټ غږ وویل:

«ډېر کسان مه راولئ.»

هغه وخندل.

«مه وېرېږه، نه تاوانی کیږو.»

ما څه ونه ویل، یوازې مې موسکا وکړه.

درېیمه ورځ مو د فراغت غونډه په شاندارو مراسمو پای ته ورسېده. د پوهنتون له دروازې چې راووتلم، داسې احساس مې کاوه لکه د ژوند یوه اوږده پاڼه مې چې په ربړتیا ټرلې وي. څلور کاله مخکې چې دې بښار ته راغلی وم، زه یوازې د یوه زده‌کوونکي په توګه راغلی وم؛ خو اوس له همدې ځایه د څلور کلونو د یادونو، ستړیاوو، ملګرتیاوو او هیلو له یوې درنې بستې سره روان وم.

زما خپلوان هم راغلي وو.

کله چې د دشت ټوپ سیمې ته ورسېدو، څو نور موټرونه هم مخې ته راغلل. خلک له موټرو بښکته شول. زه او اکرم هم بښکته شوو.

زمور خپلوان او د اکرم خپلوان یو ځای شوي وو؛ دومره ډېر وو چې سړک د خلکو له تګ راتګ او مبارکیو ډک بښکارېده.

ټولو راته مبارکي راکړه او په خوشحالۍ یې بدرګه کړو.

کله چې کور ته ورسېدو، هلته یوه بله خبره هم خپره شوې وه:

اکرم ته هم پرون کوژده شوې وه.

ما چې اکرم ته وکتل، هک پک حیران ولاړ و.

ما ورته وویل:

«ماشاءالله! دا دی، ستا کار هم وشو. مبارک دې شه!»

هغه وخندل.

«دا هسې ټوکې کوي.»

د اکرم پلار ته ورمخکې شوم.

«اِنګور دې مبارک شه!»

هغه په خوشحالۍ وویل:

«خوشحاله اوسئ، زویه.»

بېرته اکرم ته ورغلم.

«ته خبر نه یې چې کار دې شوی؟»

هغه وخندل.

«هو، مور خو ستا په شان نه یو چې څوک خوښ کړو.»

ما په مسخره وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«تا خو څوک نه خوښوي هم!»

هغه وخندل.

«زه له تا نه اوس هم ښایسته یم.»

دواړو وخندل.

څلور کاله مو یو ځای تېر کړي وو؛ د یو بل د ستړیا، خفګان او خوشحالۍ شاهدان وو. اوس داسې ښکارېده لکه د ژوند لارې مو بیا هم په یوه وخت کې یوه نوې دروازه پرانیستې وي.

هر څه په خیر پای ته ورسېدل.

دوهمه شپه د واده مراسم هم پیل شول.

ټول کلیوال او خپلوان راغلي وو. د کور شاوخوا ګڼه ګوڼه وه، د ښځو د سندرو غږونه پورته کېدل او د خوشحالۍ شور تر لرې اورېدل کېده.

ځای ډېر لیرې و.

کاکا او شمس ورور ویلي وو:

«د واده په شپه ځو.»

درې موټرې مو برابرې کړې.

ځینو نورو وویل:

«د سبا لپاره باید دلته څوک پاتې شي، خدمت هم وکړي سفر هم اوږد دی. مورږ به بیا مخې ته درشو.»

زه خپلې کوټې ته لاړم.

سپین کالي مې واغوستل، تور واسکټ مې پر ځان کړ او تور بوټان مې واغوستل.

د هندارې مخې ته ودرېدم.

ځان ته مې وکتل.

ږښتیا هم نن بل ډول ښکارېدم.

صدف خور پاتې شوه، ثناء روانه شوه.

کله چې له کوره ووتلم، اوبه یې له شانه راپسې وپاشلې.

ما هم وخندل او موټر ته وختم.

په موټر کې کله ویښ وم، کله به خوب وړی وم. خو چې د کابل ـ کندهار عمومي سړک ته ووتلو، سړک نسبتاً ښه و او موټر هم په روانه توګه مخکې تلو.

ستړی وم.

سترګې مې بیا پټې شوې.

یو وخت مې چې سترګې خلاصې کړې، موټر لا روان و او د سهار سپېدې له لرې ځان ښکاره کاوه.

په قلات کې مو لمونځونه وکړل او بیا روان شوو.

ketabton.com - The Digital Library

سهار اته بجې وې چې د ډیوې کور ته ورسېدو.

د دوی د کور مخې ته هم ډېره ګڼه ګوڼه وه.

یوه هلک دروازه خلاصه کړه او موټر کوچنۍ کلا ته دننه شو.

زمونږ د ښه راغلاست لپاره خلک راووتل.

کومې ښځې چې زمونږ له ډلې سره راغلې وې، کله چې له موټرو ښکته شوې، د دود له مخې یې د اتنې په شان د خوښۍ شرنګ وکړ.

ښه مېلمه پالنه وشوه.

خو زما زړه بل ځای و.

زه یوازې یوې شېبې ته منتظر وم:

ډیوه به کله ووینم؟

شمس ورور وویل:

«لاره اوږده ده، مونږ باید تر شپې ځانونه ورسوو.»

دوی هم ومنله.

ډوډۍ راوړل شوه.

ټول د ډوډۍ په خوړلو بوخت شول، خو زما لپاره وخت نه تېرېده.

هره شېبه به مې زړه ویل:

«شاید اوس راشي...»

خو لا مې ډیوه نه وه لیدلې.

د دوی رواجونه له مونږ سره لږ توپیر درلود.

لږه شېبه وروسته له دباندې غږ راغی:

«زوم راولئ.»

زړه مې یو دم درز وکړ.

ثناء خور او د کاکا لونې مې مخې ته راغلې.

هغوی خندل.

ثناء په کراره وویل:

«مه وارخطا کېږه.»

زه هم په ټیټ سر کوټې ته ننوتلم.

سترګې مې چې پورته کړې، یوه اوږده نجلۍ مې ولیده.

سپین کالي یې اغوستي وو او شین شال یې پر اوږو و.

یوه شېبه مې داسې احساس وکړ لکه د کوټې ټول شور چې له ما نه لرې شوی وي.

هغه بله څوک نه وه.

ketabton.com - The Digital Library

زما ډیوه وه.

پښې مې لړزې واخیستې.

د کوټې په یوه برخه کې ښځې ناستې وې.

د ډیوې مور، خویندې، د کاکا لونې او نورې خپلوانې.

ما له ټولو سره ستړي مشي وکړل.

د ډیوې مور د هغې تر څنګ ودرېده.

د ښځو خبرې مې اورېدلې.

چا ویل:

«دا څومره ښکلې ده!»

خو زه نه پوهېدم چې څوک زما په اړه څه وایي.

زما ټول پام یوازې پر هغې و.

بیا په کوټه کې د سندرو غږ پورته شو.

زه ډیوې ته لږ ورنږدې شوم.

لاس مې ور ونیو.

هغې په کراره وویل:

«خوشې کړه، څوک به مو وګوري.»

ما په خندا وویل:

«اوس خو زما یې، که څوک مو وګوري هم»

«خیر، اظهاره، مور به مې وګوري. ښه کار نه دی.»

ما وخندل.

«توبه! خپله ښځه مې یې.»

ډیوې په کراره وویل:

«څه لیونی مې په نصیب شوی.»

ما وویل:

«اوس مجبوره یې چې دا لیونی وزغمې.»

هغې وخندل.

«پوهیږم.»

د ډیوې د کاکا لور راباندې پام شو.

په خندا یې وویل:

«اوښیه! اوس یې لاس ایله کړه، بیا به یې ونیسې.»

ما ژر لاس خوشې کړ او لږ لیرې شوم.

ketabton.com - The Digital Library

ټولو وخندل.

ډیوي په خندا وویل:

«وګوره! زما خبره دي نه منله، اوس لکه ببرندوکی وپرپږي.»

ببرته ورنږدي شوم.

لاس مي بیا ور ونیو.

«زه له چا نه وپرپږم.»

هغې هم په کراره وخندل.

لږ وروسته د ډیوي ورور کوټې ته راغی.

«هغه په تمه دي.»

موږ هم په کراره له کوټې راووتلو.

دوی هم یو موټر ځان ته برابر کړی و او زموږ له موټرو سره یو ځای روان شول.

زه د کاکا په ګل‌پوښ موټر کې وختم.

د کاکا زوی مي مسته سندره لګولې وه.

شاته په څوکۍ کې یوازې زه او ډیوه ناست وو. مخې ته د کاکا لور او د هغې خور ناستې وې.

موټر ورو، ورو روان شو.

زه ډیوی ته لږ ورنږدي شوم.

د کاکا لور مي په هنداره کې راته کتل.

ما سترګې ورته برګې کړې.

هغې وخندل او سترګې یې ښکته کړې.

ډیوي په کراره وویل:

«شرم دی، ګوره، دوی مو وینې.»

ما وویل:

«هغه موږ نه وینې.»

ډیوي زما لاس ونیو او په خندا یې وویل:

«وګوره، اخر مي هم خپل کړې.»

ما وویل:

«زه چې څه وغواړم، د الله په مرسته یې لاس ته راوړم.»

هغې وخندل.

ما ورته وویل:

«له ما سره ناسته یې لیدلې مي نه یې؟ داسې ظلم څوک کوي؟»

هغې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

«شرم دی! داسي مه کوه، وبه مي ګوري.»

موټر په ارامه روان و.

مور هم په ټیټ غږ خبري کولې.

لږ وروسته مې احساس کړه چې د ډیوې سر ورو، ورو زما پر اوږه کښنودل شو.

ما په ډېر ټیټ غږ وویل:

«ژوند مې...»

هغې هېڅ ونه ویل.

د کاکا لور مو خبري واورېدې.

په خندا یې وویل:

«ژوند دې پرېږده، ویده ده، پرېږده چې خوب پوره کړي.»

ما د کاکا لور ته وویل:

«له تا سره خو زه هلته پوهېږم، تاته زه مزاحمت ښایم.»

هغې هم وخندل.

موټر د اوږده سړک پر غاړه روان و.

بهر د غرمې رڼا ورو، ورو پراخېدله، خو زما لپاره هغه ورځ له هرې ورځې بېله وه.

هره خبره راته خوږه وه.

د موټر د انجن غږ، د لارې دوړې، د ډیوې خاموشه موسکا، د خپلوانو خبرې، حتی د اوږده سفر ستړیا...

هر څه راته رنګین ښکارېدل؛ هر څه خپل جلا خوند درلود.

څلور کاله انتظار مې کړی و.

او اوس هغه انتظار زما تر څنګ ناست و.

له هغه اوږده سفر وروسته، بالاخره ماښام د دشتِ ټوپ سیمې ته ورسېدو. د لارې ستړیا زمور پر مخونو ښکاره وه، خو زړونه مو د هغه کور پر لور په بیړه روان وو چې نن به پکې زما د ژوند یوه نوې پاڼه پرانیستل کېده.

لمونځونه مو وکړل. کله چې له لمانځه راووتلو، له لسو څخه ډېر موټرونه زمور په تمه ولاړ وو. شمس ورور زمور موټر ته را منډه کړل او ویې ویل:

«اوس مه ښکته کېږئ، ناوخته کېږي. ځانونه باید ژر ورسوو.»

ټولو ومنله او ببرته موټرونو ته پورته شو.

ډیوه په نرمه لهجه یې راته وویل:

«اظهاره، څومره لاره راته پاتې ده؟»

ومې ویل:

«نور نو دومره لاره نه ده پاتې.»

لږه شېبه یې له کړکۍ بهر وکتل، بیا یې وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library

«دا دومره موټرونه ولې راغلي دي؟»

ما وخندل:

«زموږ د بدرګې لپاره.»

هغې هم وخندل او ویې ویل:

«ښه، داسې ده؟»

زموږ ګلپوش موټر مخکې شو او نور ټول موټرونه یې پسې روان شول. د موټرو څراغونه په تیاره کې لکه د رنا یوه اوږده لیکه غځېدلې وه، او ما داسې احساسوله لکه ټول کلی چې د یوې خوښۍ پر لور روان وي.

نږدې یو ساعت وروسته موټرونه د کلي پر لاره ور واوښتل.

ما په خوښۍ وویل:

«راورسېدو.»

لږ وروسته زموږ موټر د کور انګړ ته ننوت. کله چې ښکته شو، له هرې خوا د خلکو ګڼه ګوڼه وه. د ډیوې پلار او شمس ورور هم ځانونه راورسول او موږ یې د کوټې پر لور بوتلو.

د سندرو غږونه دومره لوړ وو چې د یو بل خبرې مو په سختۍ اوریدې.

شمس ورور راته وویل:

«ملا په تمه دی، نکاح ټړي.»

د ډیوې پلار هم له موږ سره راووت. ملا صاحب نکاح تازه وټړله او په یوه شېبه کې له هرې خوا د مبارکۍ غږونه پورته شول.

ما ډیوې ته ورو وویل:

«اوس نو یو ځای شوو.»

هغې وخندل او په نرمه لهجه یې وویل:

«هو.»

هماغه یوه «هو» راته د ځلورو کلونو د انتظار تر ټولو خوږ ځواب و.

تر ناوخته شور او ماشور روان و. وروسته رواجونه پیل شول. ما تر دې ځایه ډیوه نه وه لیدلې. له سهاره یې مخ پټ و او زه نه پوهېدم چې تر دې اوږده ورځې وروسته به یې مخ کله ووینم.

ورته مې وویل:

«په تا خو ظلم شوی دی.»

په حیرانتیا یې وپوښتل:

«ولې؟»

ومې ویل:

«مخ دې له غرمې پټ کړی او تر اوسه دې نه دی ښکاره کړی.»

ویې خندل:

«ښه، داسې ده»

ketabton.com - The Digital Library

ما وويل:

«هو، ټوله لار خو ويده وم، خو اوس مې انتظار ډېر شوی دی.»

هغې په خندا کې ورو وويل:

«ښه، اوس به پای ته ورسېږي.»

ورو ورو ټول رواجونه ترسره شول.

صدف مخته شوه او ډيوې ته يې په ټيټ غږ وويل:

«ورنداري، سترګې پټې کړه.»

ډيوې سترګې پټې کړې. صدف ورو ورو د هغې له مخه شال لرې کړ.

زه يې څنګ ته ولاړ وم.

زړه مې په ښېره درزېده.

صدف چې د هغې مخ يې ښکاره کړ، ما خپله غاړه لږه ور واړوله. خو لا مې چې غوښتل ورته وګورم، صدف ژر وويل:

«تر اوسه ستا وخت نه دی!»

ټولو وخندل.

ما هم په خندا کې شوندې وچيچلې او شاته شوم.

له هرې خوا د خلکو له خولو يوازې يوه خبره اورېدل کېده:

«ماشاءالله، څومره ښکلې ده!»

صدف بيا ډيوې ته وويل:

«ورنداري، اوس دې مخ ورور ته را واړوه.»

ډيوې سر ښکته نيولی و. شرمېده، خو په ورو يې خپل مخ زما پر لور را واړاوه.

زه څو شېبې هماغسې ورته ولاړ وم.

زما مخې ته هغه نجلۍ وه چې ما کلونه د خبرو له لارې پېژندلې وه؛ هغه څوک چې غږ يې راته له لرې هم نږدې ښکارېده، هغه څوک چې په يوه «ښه» او «هو» به يې زما ټوله ورځ بدله کړه.

خو اوس زما مخې ته وه.

غټې توري سترګې، سپين مخ، نرۍ وروځې او سرې شوندې...

زما سترګې يې په سترګو کې داسې ودرېدلې چې شاوخوا شور او خبرې مې هېرې شوې. داسې راته ښکارېده لکه د خلکو په منځ کې چې يوازې موږ دواړه پاتې يو.

هغې هم راته کتل.

صدف غاړه تازه کړه او په خندا يې وويل:

«ورنداري، لومړی ځل دی ورته ګورې؟»

ټول په خندا شول.

ketabton.com - The Digital Library

ډيوې سر ښکته کړ او په شرمېدلي موسکا يې ځان پټ کړ.

ثناء وويل:

«کوټه چمتو ده، ستړي ياست. ټول به ويده شو.»

هماغه وخت مې د شمس ورور غږ واورېد:

«ټول کليوال درته په تمه دي، مبارکي درکوي. ژر راشه.»

ما وويل:

ښه، سمه ده ورورە.

او ژر بهر ووتم.

د حجرې مخې ته لا هم ګڼ خلک ولاړ وو. هر چا په خوشحالۍ غاړه راکوله، مبارکي يې راکوله او د راتلونکي ژوند لپاره يې دعاوې کولې. د هغوی په سترګو کې خوښي وه، او زما په زړه کې د کلونو انتظار ورو ورو په سکون بدلېده.

وروسته کليوال يو په بل پسې ولاړل.

اکرم راته راغی، موسکی شو او ويې ويل:

«ورځه ياره، الله دې ژوند له خوښيو ډک کړه.»

زه هم ورته موسکی شوم:

«مننه.»

بيا د کوټې پر لور روان شوم.

ثناء د اوبو ډک جګ په لاس کې نيولی و او يو ګيلاس هم ورسره و. ما وپوښتل:

«چېرته ځې؟»

ويې ويل:

«ستا کوټې ته يې ورم.»

ما وويل:

«سمه ده.»

ثناء دننه لاړه. کله چې ببرته راووتله، زه کوټې ته ننوتلم.

ډيوه د تخت پر څنډه ناسته وه او له غوږونو يې غوږوالۍ لرې کولې.

د هغې په مخ کې لا هم هغه نرمه موسکا پرته وه.

زه يې څنګ ته کېناستم.

ومې ويل:

«خوشحاله يې؟»

هغې په ناز راته وکتل، بيا يې وخندل:

«ستا سره هر ځای خوشحاله يم.»

ketabton.com - The Digital Library

ما ورو وویل:

«ما پسې ډېره خفه شوې وې؟»

شونډې یې لږې بوخې کړې:

«نه، تا پسې دومره نه وم خفه.»

ما په نرمه موسکا وویل:

«پوهیږم.»

هغې هم وخندل، بیا یې وپوښتل:

«دا کلیوال ژوند به سخت نه وي؟»

ما وخندل:

«نه ګراني، بېغمه شه. هر څه سره به عادت شي. زه به دې هر ځای وګرځوم.»

لږه شېبه غلی شوم، بیا مې وویل:

«او په ځانګړي ډول هغه ځای ته به دې بوځم چې ما مخکې درته ښودلی و.»

هغې لږ فکر وکړ، بیا یې وویل:

«په یاد مې دی»

ما وخندل:

ورته مې وویل:

«کوم ځای؟»

موږ دواړو په یوه غږ وویل:

«د ویالي پر غاړه.»

ما په خندا وویل:

«حافظه دې، ماشاءالله، ښه کار کوي.»

هغې هم وخندل.

بیا یې د اوبو ډک ګیلاس شونډو ته پورته کړ.

ما ورته وکتل.

له کړکۍ بهر د کلي شپه ورو ورو چوپېدله. د ورځې شور، د خلکو مبارکۍ، د سندرو غږونه او د موټرو شور ټول د شپې په سکون کې ورو ورو ورک کېدل.

ما په زړه کې تېر کړل:

هغه ویاله لا هم شته.

هغه کلی لا هم شته.

هغه لارې لا هم شته چې زه پرې یوازې تلم.

خو زه نور یوازې نه وم.

ketabton.com - The Digital Library

څلور کاله مخکې مې یوازې د یوه خوب په څېر د خپل راتلونکي تصور کاوه؛ بیا د همدې لارې په اوږدو کې مې مینه ومونډله، انتظار مې وکړ، جلا شوم، بېرته راغلم، او بالاخره هغه څوک مې تر څنګ ناسته وه چې نوم یې زما د کیسې له لومړۍ پاڼې سره تړلی و.

ډیوې د اوبو وروستی غوړپ وکړ او ګیلاس یې کېښود.

زه لا هم ورته موسکی وم.

او په زړه کې مې یوازې یوه خبره ګرځېده:

ځینې سفرونه انسان منزل ته رسوي، خو ځینې سفرونه انسان ته خپله کیسه پیدا کوي.

زما سفر هم همداسې و.

وَمِنَ اللهِ التَّوْفِيقُ

پای

کندهار (سهار 6:15)بجې

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English